# د ژباړونکي سریزه

له دې امله چې عقیده یوه علمي چاره ده نو که اصول او مقدمات یې د انسان په زړهٔ کښې ځاے پیدا کړي نو عقیده هم تحقق پیدا کوي او که داسې و نهٔ شي نو په زور په چا باندې عقیده نهٔ شي تپل کیدې. د انسان افکار په برهان او دلیل باندې ملا تړي نو په دې وجه نهٔ خپله انسان یوه عقیده په ځان باندې په زور منلې شي او نهٔ یې نور کسان وربائدې په زور د تپلو توان او وس لري. ځینې وختونه د هغو کسانو لخوا چې ځانونو ته د خداے د ګران رسول صلی الله علیه و آله وسلم د سنتو عاملان وائي او دې ته تیار نهٔ وي چې نورو ته اهلسنت ووائي خا مخا دا تبلیغ کوي چې اسلام د تورې په زور باندې پرمختګ او ترقي کړې ده او په دې وجه چې خپل عقائد حق ګڼي نو د دغو عقائدو د رائجولو لپاره یې د زور ( او تورې ) له منطق نه کار اخېستے او هغه څه یې وکړل چې یې غوښتل.[1] که دوي تاریخ ته لږه کتنه وکړي نو دې خبرې ته به یې پام شي چې د اسلام پرمختګ په برهان او استدلال سره ؤ او دے. ځکه چې د خداے ګران رسول صلی الله علیه و آله وسلم او د هغه حضرت ملګري چې دیارلس کاله په مکه کښې وو زیات دباوونه او تکلیفونه وزغمل او په دغه موده کښې د مکې او خواوشا سیمو یو شمېر کسان مسلمانان شول او یو شمېر نور هم چې له مدینې څخه به د حج په مراسمو کښې د هغه حضرت خدمت ته حاضرېدل د اسلام د صحیح دعوت او تبلیغ په بنیاد اسلام قبول کړ.[2] د عقیدې ازادي د قران شریف په نظر کښې لوے ارزښت لري او له درې سوو نه په زیاتو مبارکو ایتونو کښې یې ذکر شوے دے. خداے پاک د قران شریف نزول د تعقل او تدبر د هدف لپاره معرفي کوي او فرمائي:

إِنَّا أَنزَلْنَاهُ قُرْآنًا عَرَبِيًّا لَعَلَّكُمْ تَعْقِلُونَ [3] (( مونږ خپل دا کتاب د عربۍ د قران په صورت کښې نازل کړ چې کیدې شي تاسو له عقل نه کار واخلئ. )) یا دا چې فرمائي: كِتَابٌ أَنزَلْنَاهُ إِلَيْكَ مُبَارَكٌ لِّيَدَّبَّرُوا آيَاتِهِ وَلِيَتَذَكَّرَ أُوْلُوا الْأَلْبَابِ [4]

په یو بل ایت کښې بې تدبره کسان داسې غندي: أَفَلَا يَتَدَبَّرُونَ الْقُرْآنَ أَمْ عَلَى قُلُوبٍ أَقْفَالُهَا [5] دا اهمیت تر دې حده پورې دے چې قران شریف انسانان د حریت او ازادۍ د سېمبول په لور رابولي چې نمونځ ورته وکړي او زیاتره ارزښتناک کارونه په دغه لور تر سره کړي. دغه سېمبول (( کعبه )) ده چې ورته (( بېت العتیق )) ویل کیږي. کعبه د یوې عتیقې، لرغونې ، ارزښتناکې او مخینه لرونکې ودانۍ او هم د یو داسې کور په توګه معرفي شوې ده چې د هیڅ چا تر تسلط او ملکیت لاندې نهٔ وه او نهٔ ده او په ټول تاریخ کښې د طاغوتیانو له

[1] - د لا زیاتو معلوماتو لپاره کشف الارتیاب في اتباع محمد بن عبدالوهاب کتاب ته مراجعه وکړئ.
[2] - المیزان ۲ توک ۸۹ مخ.
[3] - سورهٔ یوسف ۲ ایت.
[4] - سورهٔ ص ۲۹ ایت.
[5] - سورهٔ محمد ۲۴ ایت.

تیري او لوټمار نه په امان کښې پاتې ده او د یو کس، یوې ډلې یا یو حکومت له تعلق نه ازاده وه، ده او وي به: وَلْيَطَّوَّفُوا بِالْبَيْتِ الْعَتِيقِ [1] او ثُمَّ مَحِلُّهَا إِلَى الْبَيْتِ الْعَتِيقِ [2] ځینو ویلي دي چې دا نوم یې په دې وجه دے چې کعبه شریفه لرغونتوب لري او ډېره پخوانۍ ده، خو امام محمد باقر علیه السلام په دې حقله فرمائیل دي: «کعبه دازادۍ کور دے چې هیڅکله د چا نۀ ؤ او نۀ دے.» «لانه بیت حر عتیق من الناس ولم یملکه احدا.» [3] د انسان زیاتره چارې د ازادۍ له دې سېمبول سره تعلق لري او ځینې ارزښتناکې چارې لکه نمونځ پکار دي د بیت العتیق په لوري ادا شي. ځینې نور اعمال لکه د قران شریف تلاوت ښه ده چې د دغه عظیم کور په لور وشي. په اپوټه بیا ځینې کارونه د دې په لور حرام ګڼلې شوي دي . نو بس مسلمانان د خپل ژوند په دوران کښې د ازادۍ له دغه کور سره ډېر نزدې تعلق لري او حتی له دنیا نه د رخصتېدو په وخت هم پکار دي د انسان مخ د دغه کور لوري ته وي.

« بیت العتیق » ته پاملرنه په دې معنا ده چې انسان پکار دي تل له خپل ازاد ژوند څخه حفاظت وکړي او هیڅکله دې دغه اسماني ازادي د پوچو او اوچو کړسو افکارو قرباني ونۀ ګرځوي: فَبَشِّرْ عِبَادِ الَّذِينَ يَسْتَمِعُونَ الْقَوْلَ فَيَتَّبِعُونَ أَحْسَنَهُ [4]

نو ایا اوس د ازادۍ د دې سېمبول ترڅنګه د عقیدې څرګندونه کولې شو؟ ایا یو داسې ډله ایز مرکز چې د ټولو مسلمانانو د د نظر د تبادلې محور وي وجود لري؟ ایا ټول له لریو او نزدیو سیمو څخه د دې کور په خوا کښې راغونډېدې شي او خپل علمي او عملي مسائل او سیاسي او اجتماعي مشکلات دغلته بیانولې شي؟ د دغو پوښتنو ځواب په کامله توګه منفي دے، ځکه چې د وهابیت د ثقافت او کلتور بنیاد او اساس د اسلامي فرقو کافر ګرځول، د اسلامي تعلیماتو په بدرنګ ، تریخ او اوچ کړس شکل کښې وړاندې کول، له دین څخه غیر عقلاني دفاع کول او د خدا ے د ګران رسول صلی الله علیه و آله وسلم د اثارو له منځه وړل دي.
ایا داسې یو مذهب او نظریه په اصل کښې د عقائدو او نظریاتو له ازادۍ سره څه تعلق لري او ایا په اصل کښې ازاد فکر لري؟ هغه څه چې په حجاز کښې انسان ته ډالۍ ترلاسه کیږي هغه « د شرک تهمت » دے او زیاته د حیرانۍ خبره دا ده چې داسې ډلې کسانو د ځان لپاره د « اهلسنت » نوم غوره کړے دے او دې ته تیار نۀ دي چې اشاعره ته اهلسنت ووائي څه دا چې معتزله او شیعه ؤ ته، په داسې حال کښې چې د دغو ټولو ډلو ترمېنځ د پیغمبراکرم صلی الله علیه و آله وسلم سنت محترم دے او د خدا ے پاک له کتاب نه پس سنت د مسلمانانو لپاره دویم مرجع دے. د دوي له نظره د اسلامي دنیا یوازینے مشکل بس « شیعه » دے او د شیعه ؤ د ختمولو لپاره د دنیا له ټولو جبارانو او مستکبرانو حتی اسرائیلو سره د دوستۍ معاهدې کوي او د تېلو په پېسو باندې د خدا ے د ګران رسول صلی الله علیه و آله وسلم د پاکو اهلبیتو علیه السلام او د هغوي د مینه والو او پیروي کوونکو دیني عالمانو په نسبت له سپکاویو نه ډک په لکونو کتابونه د شیعه ؤ په خلاف چاپوي او خپروي یې : مَثَلُهُمْ كَمَثَلِ الَّذِي اسْتَوْقَدَ نَاراً فَلَمَّا أَضَاءَتْ مَا حَوْلَهُ ذَهَبَ اللَّهُ بِنُورِهِمْ

---

[1]- سورۀ حج ۲۹ ایت
[2] - سورۀ حج ۳۳ ایت
[3] - بحارالانوار ۹۹ ټوک ۵۸ مخ
[4]- سورۀ زمر ۱۷ او ۱۸ ایتونه

وَتَرَكَهُمْ فِي ظُلُمَاتٍ لاَّ يُبْصِرُونَ [1] د بيت الله د ودانۍ هدف له شرک نه يو پاک توحيد ته رسېدل دي او خالص توحيد ته د رسېدو لار له هر ډول شرک او الحاد څخه په کامله توگه بيزاري او له هر قسمه مشرکانو او ملحدانو څخه د کرکې څرگندونه ده او دا هدف بې له دې نۀ شي تر لاسه کېدې چې په ډله ايزه توگه له هغوي څخه د برات او بېزارۍ څرگندونه وشي چې د دې کار لپاره تر ټولو مناسب ځاے د خداے پاک کور کعبه شريفه ده. همدا ځاے دے چې دغه چغه پکښې اوچتېدې، د اسلام قوت دنيا ته ښودل کېدې ، د «امريکه مرده باد» او «اسرائيل مرده باد» نعرې وهل کېدې د جرائم پېشه امريکې او د هغې د انډيوالانو او حاميانو له مخ نه د مکر او فرېب نقاب لرې کېدې شي.
په اخېر کښې مروان بن حکم ته د جليل القدر صحابي حضرت ابو ايوب انصاري په خطاب مشتمل يو روايت نقلوو. داؤد بن صالح (رض) وائي: «يوه ورځ مروان بن حکم يو سړے وليد چې خپل سر او مخ يې د خداے د گران رسول صلی الله عليه و آله وسلم په قبر مبارک باندې اېښودے دے. مروان ورته وويل: ايا پوهېږې چې دا څه کار کوې؟ دغه سړے چې حضرت ابو ايوب انصاري (رض) ؤ مروان ته يې مخ کړ او ورته يې وويل: هو، زۀ د خداے د گران رسول صلی الله عليه و آله وسلم خدمت ته حاضر شوے يم نه د يو کاڼي خدمت ته. حضرت ابو ايوب انصاري (رض) وويل: د خداے له گران رسول صلی الله عليه و آله وسلم څخه مې اورېدلي دي چې فرمايل يې: «لا تبکوا على الدين اذا وليه اهله و لکن ابکوا عليه اذاوليه غير اهله» کله چې د دين متولي د دين خاوند وي نو د دين لپاره ژړا مۀ کوئ خو چې کله د ين متولي د دين خاوند نۀ وي نو د دين لپاره ژړا وکړئ.» [2] د حضرت ابو ايوب انصاري (رض) په خبرو کښې يوه ښکلې معنا موجوده ده چې بې له غور او فکر نه نۀ شي درک کېدې.
موجوده کتاب د مشهور ديني عالم، محقق او معلم علامه شېخ نجم الدين طبسي ارزښتناک کتاب «روافد الايمان الى عقائد الاسلام» ترجمه ده. دا کتاب له دې مخکښې د «الوهابيه ، دعاوي ، ردود» په نامه چاپ او خپور شوے دے، په بله دوره کښې د محترم ليکوال لخوا پکښې ځينې مطالب زيات کړې شول او د «روافد الايمان الى عقائد الاسلام» په نامه بيا چاپ او خپور شو.
هيله ده چې دا کتاب د پاک خداے په درگاه کښې د قبول وړ وگرځي ځکه چې هغه «يعطي الکثير بالقليل او ارحم الراحمين» ذات دے.

*****

العبد المفقر الى الله
مصطفى داداش زاده

---

[1] - سورۀ بقره ۱۷ ايت

[2] - مستدرک حاکم ۴ ټوک ۵۲۰ مخ، الغدير ۵ ټوک ۱۴۸ مخ، ذهبي په تلخيص دا روايت صحيح بللے دے، مسند احمد بن حنبل ۵ ټوک ، شفاء السقام تقي الدين السبکي ، وفاء الوفاء سمهودي، ۳ ټوک ۴۱۰- ۴۴۳ مخونه او په بل چاپ کښې ۴ ټوک ۱۳۵۹ مخ، مجمع الزوائد ۴ ټوک ۲ مخ، البيان علامه خوئي ۵۸۸ مخ، اخبار المدينه لابي الحسن الحسيني، التبرک ۱۴۷ مخ

# د وهابیت تاریخچه

امام احمد بن حنبل د سني ورونړو له څلورو امامانو څخه یو امام دے. هغه له یوې نیمې پیړۍ نه زیات د سنیانو ورونړو په تېره بیا د اهل حدیثو غېر متنازعه مذهبي پېشوا ؤ . د سنت او بدعت معیار د احمد بن حنبل د بحث موضوع وه، هغه اصول چې هغۀ د اهل حدیثو لپاره جوړ کړل د خداے د پاک ذات د تجسم او تشبیه په اړه وو او دا چې خداے پاک په یو خاص ځاے کښې شتون لري او په عرش باندې ناست دے. دا تفکر او نظریه د اهل حدیثو د بې شک او بې شبې او مسلمو عقائدو جز وګرځېد او له دغو افکارو او نظریاتو څخه انکار بالکل ارتداد ؤ. دغو نظریاتو د احمد بن حنبل په پېروکارو باندې داسې درون سیورے کړے ؤ چې حتی ابوالحسن اشعري یو ځل اراده وکړه چې له څلوېښتو کالو نه پس له اعتزال نظریې څخه توبه وکړي او په حنبلي مکتب کښې شامل شي. هغه په **۳۰۵** هجري قمري کال کښې د بصرې منبر ته اوخت او له اعتزال څخه یې د خپلې توبې اعلان وکړ. حنبلې ډلې ته د ابوالحسن اشعري په داخلېدو سره په دغه مذهب کښې یو لړ بدلونونه رامنځته شول. هغه کس چې څلوېښت کاله یې له عقلي او منطقي استدلالونو سره سروکار لرۀ نۀ شوکولې په پټو سترګو سره حنبلي عقائد قبول کړي، هغۀ په « الابانه في الدیانه » کتاب کښې د احمد بن حنبل ټول عقائد قبول کړل خو یوه موده پس یې په بل کتاب « اللمع » کښې خپل دغه قبول کړے اثر پرېښود او خپلو عقلي اصولو ته بېرته وګرځېد.

د پنځمې پیړۍ په شروع کېدو سره د احمد بن حنبل د قسمت ستورے هم په ډوبېدو شو اود ابوالحسن اشعري د قسمت ستورے وځلېد. مقریزي [1] د یو شمېر شخصیتونو [2] په ذریعه له ۱۳۸۰ کال نه وروسته په عقائدو کښې د ابوالحسن مذهب په عراق ، شام او بیا په مصر کښې خپور شو. که څه هم د ابوالحسن طریقې احمد بن حنبل د سنیانو له مشرۍ څخه راکوز کړ خو په اتمه پیړۍ کښې د ځینو حنبلیانو په لاسو له هم هغو اصولو سره د هغۀ مکتب یو ځل بیا څرګند شو. ابو عباس احمد بن عبدالحلیم چې په ابن تېمیه مشهور ؤ د احمد بن حنبل د مکتب راژوندے کوونکے ؤ. هغه په **۶۶۱** هجري قمري کال کښې د شام په یوه سیمه حران کښې پېدا شو. په شام باندې د مغلو د حملې له وېرې د هغۀ پلار عبدالحلیم له خپلې ټولې کورنۍ سره دمشق ته کډه وکړه. ابن تېمیه یو ځل بیا د حنبلیانو عقائد یعنې د خداے پاک لپاره د جسم، بدن او تشبیه او دا چې هغه پاک ذات په یو خاص ځاے کښې ناست دے بیانول شروع کړل. کله چې د « حمات » ښار خلقو له هغۀ څخه د قران شریف د مبارک ایت « الرَّحْمَنُ عَلَى الْعَرْشِ اسْتَوَى » [3] په حقله پوښتنه وکړه نو هغۀ د دغه مبارک ایت په تفسیر کښې د خداے پاک لپاره په عرش کښې د ناستې خاص ځاے وټاکۀ. د ابن تېمیه له مهمو خصوصیتونو څخه دا وو چې د مسلمانانو ترمېنځ د مشهورو عقائدو او نظریاتو په

---

١- الخطط ۲ ټوک **۵۸** مخ

۲- ابوبکر باقلاني ( وفات **۴۰۳** ) ابوبکر بیهقي ( وفات **۴۵۸** ) ابن فورک ( وفات **۴۰۶** )

۳- سورۀ طه **۵** ایت

خلاف فتوې ورکړې. په کلام کښې د سختۍ، تريخوالي او په خبرو کښې د بداخلاقۍ او بدزبانۍ په وجه چې د وهابيت له خصوصيتونو څخه دي د هغهٔ مکتب رواج پېدا نهٔ کړ او زيات ديني عالمان ورباندې نيوکې او اعتراض ته راپاڅېدل. او په دې حقله د علامه تقی الدين سبکي د « شفاء السقام فی زيارت خير الانام والدره المضيبه فی الرد علي ابن تېميه » او د علامه تاج الدين د « التحفه المختاره فی الرد علی منکر الزياره » په شان کتابونه وليکلې شول او ورپسې د علامه ابن حجر عسقلاني ( وفات ۸۵۲ ) ، علامه ابن شاکر کتبي ( پېدائش ۷۶۴، علامه ابن حجر هېثمي ( وفات ۹۷۳ ) ، ملا علي قاري حنفي ( وفات ۱۰۱۲ )، علامه شېخ محمود کوثري مصري ( وفات ۱۳۷۱ ) ، شېخ يوسف بن اسماعيل بن يوسف نبهاني ( وفات ۱۲۲۵ ) علامه ابوبکر حصني دمشقي ( وفات ۲۲۹ ) وغېره په شان د خپلې زمانې ستر عالمان او مفتيان د ابن تېميه په تکفيرولو او د هغهٔ د نظرياتو په ردولو باندې د مدللو کتابونو په ليکلو لاس پورې کړ.

د « الفتاوی الحديثيه » کتاب ليکوال د ابن تېميه په باره کښې وائي: « د ابن تېميه خبرې هيڅ اهميت نهٔ لري هغه يو بدعتي ، گمراه او گمراه کوونکے او نامعقوله کس دے، خداے پاک دې ورسره د عدل او انصاف سلوک وکړي او مونږ دې خداے پاک د هغهٔ د عقيدې ، نظرياتو او لارې له شر نه په امان کښې وساتي. »

ځينې هغه کارونه چې ابن تېميه وکړل چې حتی د حنبليانو د امام روح ترې هم خبر نهٔ ؤ دوه څيزونه وو: وړومبے دا چې د خداے د گران رسول صلی الله عليه و آله وسلم د زيارت لپاره سفر يې بدعت او وبالهٔ او په همدې بنياد يې د اسلام د پېشوايانو او د خداے پاک د اولياؤ وسيله گرځول او د هغوي له اثارو څخه د تبرک د حاصلو په شان د هر ډول توسل بدعت او حرام وگرځوهٔ.

دويم دا چې هغه ټول مبارک حديثونه چې د خداے د گران رسول صلی الله عليه و آله وسلم د پاکو اهلبېتو عليهم السلام په شان او فضيلت کښې راغلي او حتی امام احمد بن حنبل او د هغهٔ شاگردانو نقل کړي دي ناسم وبلل او له ټولو نه يې انکار وکړ. [1]

مشهور سياح ابن بطوطه په خپل « رحله ابن بطوطه » نومې کتاب کښې د ابن تېميه په حقله ليکي: « و کان فی عقله شیء » يعنې د هغهٔ په عقل کښې يو څيز يعنې څه کرکېچ موجود ؤ. علامه ابن حجر هېثمي ابن تېميه يو داسې کس گڼي چې خداے پاک خوار، ذليل ، بې لارې او ړوند کړے دے. حتی د علامه شمس الدين ذهبي غوندې متعصب سني عالم کس هم د هغهٔ په باره کښې وائي: « تا تر دې حده پورې جرات کړے دے چې د بخاري او مسلم احاديث دې هم په نيوکو سره سالم او په امان کښې نهٔ دي پرېښودي. » [2] بالاخره ابن تېميه حرّاني په ۷۰۵ هجري کال کښې په عدالت کښې مجرم وبللے شو او په ۷۰۷ هـ کال کښې له جېل څخه ازاد شو. خو له جېل نه په ازادۍ سره يې د خپلو عقائدو خپرول بيا شروع کړل. په ۷۲۱هـ کال کښې يو

---

[1] - د تفصيل لپاره د سيد علي مېلاني کتاب « ابن تېميه او امام علي عليه السلام » ته مراجعه وکړئ.

[2] - په طائف باندې د وهابيانو په حمله کښې د قران مجيداو صحيح بخاري او صحيح مسلم کتابونو نسخې په لارو کوڅو کښې لوغړېدې. الفجر الصادق ۲۲ مخ، د دې کتاب په سريزه کښې د علامه ذهبي ټولې خبرې په تفصيل سره راغلي دي.

ځل بیا په عدالت کښې مجرم وبللے شو او په ۷۲۸ هـ کال کښې په جېل کښې له دنیا لاړ. د هغهٔ له مړینې وروسته د هغهٔ شاګردانو [۱]لکه ابن قيّم جوزيه (۶۹۱ - ۷۵۱) د خپل استاد د افکارو په تروج باندې لاس پورې کړ خو زيات توفيق يې پېدا نکړ او د سنيانو اشعري مذهب يې د خپلو عقائدو بنياد وګرځوهٔ چې له هغهٔ نه پنځهٔ پېړۍ پس د ابن تېميه د عقائدو څه نوم او نښان نهٔ ؤ. د هغې زمانې ديني علماؤ له دغو ټولو عقائدو سره مخالف کوهٔ خو په دولسمه پېړۍ کښې يو ځل بيا د ابن تېميه هغو اوچو کړسو عقائدو رونق پېدا کړ، دا ځل د ابن تېميه د انحرافي عقائدو رواجوونکے محمد بن عبدالوهاب نجدي ؤ. دې په ۱۱۱۵ هـ کال کښې د نجد په يوه سيمه عُيينه کښې وزېږېد، د هغهٔ پلار عبدالوهاب بن سليمان د عُيينه ښار قاضي ؤ.

اروابښاد سيد محسن امين له محمود شکري الالوسي نقلوي: ابن عبدالوهاب په عُيينه ښار کښې وزېږېد او له خپل پلار څخه يې حنبليه فقه زده کړه، په کم عمرۍ کښې يې داسې بل بل شان خبرې شروع کړې چې د هغه وخت د مسلمانانو لپاره نامانوسه وې. [۲] خو چې هر کله يې په عُيينه ښار کښې د تبليغ کار و نهٔ چلېد نو مکې ته لاړ او بيا له هغه ځايه مدينې ته لاړ. يوه موده يې له عبدالله بن ابراهيم بن سېف څخه مذهبي زدکړه وکړه. دغلته يې خلق وليدل چې د خدا ے دګران رسول صلی الله عليه و آله وسلم د قبر مبارک په خوا کښې په ژړا ، زارۍ او دعاګانو لګيا دي. دهٔ په خپل خيال کښې دا بد کار وباله . له دغه ځا ے څخه نجد ته لاړ او بيا له نجد نه بصرې ته روان شو [۳] چې له دغه ځايه شام ته لاړ شي. کله چې بصرې ښار ته داخل شو نو هلته ايسار شو او له شېخ محمد المجوعي نه يې علمي زدکړه وکړه خو دغلته هم يې خپل تبليغي عمل شروع کړ او د بصرې د خلقو په عقائدو يې په نيوکو او اعتراضونو لاس پورې کړ چې په نتيجه کښې د بصرې خلقو له بصرې نه وشړلو او يوه موده پس د خپل پلار د اوسېدو ځا ے «حريمله» ته لاړ خو دغلته يې هم د خلقو عقائدو او اعمالو ته بد ويل شروع کړل چې د خپل پلار له مخالفت سره هم مخامخ شو، خو بيا هم له خپلو انحرافي عقائدو څخه منعې نهٔ شو چې ان تردې د هغهٔ او د پلار ترمېنځ تنازعه جوړه شوه. هغهٔ به د خپل پلار په ژوند کښې خپل عقائد کم څرګندول. دې له ديني مسائلو څخه ډېر کم او په سطحي توګه خبر ؤچې د دهٔ ګډې وډې فتوې د شريعت له احکامو څخه د دهٔ د بې خبرۍ ښودونکې دي. د دهٔ پلار شېخ عبدالوهاب چې يو پرهېزګاره سړ ے ؤ په ۱۱۵۳ کال کښې وفات شو.

شافعي مفتي زيني دحلان وائي: د شېخ پلار يو نېک ، صالح او عالم سړ ے ؤ. [۴] الوسي ليکي: د پلار له وفات نه پس يې د خپلو عقائد په څرګندولو لاس پورې کړ او هغه چارې چې ټولو مسلمانانوورباندې اتفاق لرهٔ هغه يې بدې وبللې. نتيجه يې دا شوه چې مسلمانانو د دهٔ د وژلو تابيا وکړه خو دې له حريمله نه عيينه ته وتښتېد. د دغه ځا ے حاکم عثمان بن احمد بن معمر ؤ، محمد بن عبدالوهاب نجدي هغهٔ ته دا اميد ورکړ چې د نجد خلق به د هغهٔ په اطاعت کښې راشي او عثمان دې د اطاعت په بدله کښې د هغهٔ د عقائدو په

---

۱- او ابن کثير

۲- کشف الارتياب ۸ او ۹ مخونه

۳ - ويل کيږي چې څلو ر کاله يې په بصره، پنځهٔ کاله يې په بغداد، يو کال يې په کردستان او دوه کاله يې په همدان کښې تېر کړل او په قم او اصفهان ښارونو کښې يې هم يوه موده تېره کړې ده.

۴- الفتوحات الاسلامي ۱ ټوک ۳۲۴ مخ

ترویج کښې د هغهٔ مرسته او ملګرتیا وکړي. د حاکم د دې خبرې په قبلولو سره هغهٔ خپل عقائد په ډاګه کړل او د عیینه ځینې اوسېدونکو یې عقائد قبول کړل. دغو خلقو د زېد بن خطاب (رض) زیارت وران کړ او دغه شان کار یې په دغه سیمه کښې رونق پیدا کړ. د دې خبر د احساء حاکم سلیمان بن محمد بن عزیز الحمیدي ته ورسېد. هغهٔ عثمان ته خط ولیکهٔ او د محمد بن عبدالوهاب نجدي د قتل فرمان یې جاري کړ. عثمان هم هغه له ښار نه وشړلو. ابن عبدالوهاب په ۱۱۶۰ هـ کال کښې « درعیّد» ښار ته لاړ. دغه ښار د هم هغه مسیلمه کذاب چې د پېغمبرۍ دعوا یې کړې وه وطن ؤ او د دغه ځاے حاکم یې محمد بن سعود [1] چې له عنیزه قبیلې څخه ؤ. ابن عبدالوهاب خپل هغه تجویز چې د عیینه واکمن ته یې وړاندې کړے ؤ محمد بن سعود ته هم ورکړ چې په نتیجه د دغو دواړو ترمېنځ یوه سپېره معاهده وشوه چې له دغې معاهدې او تړون نه پس وهابیانو د مسلمانو او موحدو خلقو بې رحمانه او وحشیانه قتل عام شروع کړ. د دغه قتل عام جائز والے د ابن عبدالوهاب بې شرمانه فتوې وې، ځکه چې آل سعود د هغهٔ د مذهبي شعارونو له لارې حاکمیت ترلاسه کړے ؤ او د ابن عبدالوهاب دعوت د تورې په ذریعې سره ؤ. نو بس له دې امله ابن سعود امیر او حاکم او ابن عبدالوهاب مذهبي مشر شو. د ابن عبدالوهاب دعوت په دې عبارت سره ؤ: « انما دعوکم الی التوحید و ترک الشرک بالله. »

هغه توحید چې ابن عبدالوهاب به وړاندې کوهٔ یو بې شرمانه توحید ؤ او د بت پرستانو له توحید نه کم نهٔ ؤ.

سید محمد امین [2] د یو جغرافیه دان په نقل سره لیکي: د یمن خلق وائي چې سلیمان [3] نومې یو فقیر شپون یو خوب ولید چې د اور یوه لمبه ترې ووته او په ټوله زمکه کښې خوره شوه او هر څوک به چې یې مخې ته راتهٔ هغه به یې سوزوهٔ. سلیمان خپل خوب یو معتبر تعبیر کوونکي ته بیان کړ نو تعبیر کوونکي ورته ځواب ورکړ چې ستا په اولاد کښې به یو کس راځي چې حکومت به جوړوي. د دغه خوب تعبیر د هغهٔ په نمسي کښې ثابت شو. بې شکه چې یو اور ؤ چې په اسلامي دنیا کښې خور شوے دے... او دا اور د انګرېز استعمارګرو په ذریعې سره غرغنډه شو. د سعودي عرب آل سعود امیران له وروستیو دوه نیمو پېړیو راهسې په متواتره توګه د وهابیت د مکتب رائجوونکي وو او دي او له وړومبني نړیوال جنګ نه مخکښې په غالبه توګه ځانته تنها پاتې شول او له نجد سیمې نه یې بهر قدم نهٔ شو اېښودے خو د عثماني حکومت په پاشل کېدو سره استعمارچیانو د عثمانیانو تر تسلط لاندې په هر سیمه کښې خپل یو یو ګوډاګے او لاس پوسے کېښنوهٔ. آل سعود ته هم د استعمار لپاره د ښو خدمتونو په عوض کښې نجد او حجاز ورسېد. په حرمېنو شریفېنو کښې د سلفیت ارتجاعي حرکت زیات زیانونه رامنځته کړل او د خپل تبلیغ تېره څوکه یې د اسلام له ابتدائي دور نه د پاتیو اسلامي اثارو لور ته واړوله. وهابیانو دغه ټول اثار په بې رحمانه توګه وران ویجاړ کړل خو د هغو په مقابله کښې یې د ځینو مشرکانو نومونه راژوندي کړل او په سړکونو او بازارونو باندې یې د هغو مشرکانو نومونه کېښنودل. او له ټولو نه عجیبه دا چې په مدینه منوره کښې یې د خیبر قله

---

[1]- د سعودي عرب د اوسنیو آل سعود واکمنانو مشر نیکهٔ

[2]- کشف الارتیاب

[3]- محمد بن عبدالوهاب بن سلیمان بن علي بن محمد بن احمد بن راشد بن برید ، بن محمد بن برید بن مشرف بن حمر بن بعضاد بن زاخر بن محمد بن علي بن وهب التمیمي.

او د کعب بن اشرف یهودي قله سر دوباره جوړه کړه او اوس هم د هغو ساتنه کوي. سلفیانو وهابیانو په خپلې بې عقلۍ سره ټول سپېڅلي آثارو تباه او برباد کړل او نعوذ بالله که نور جسارت یې پېدا کړ نو د خدا ے د ګران رسول صلی الله علیه و آله وسلم روضه مبارکه او په نبوي جومات کښې له هغوي نه پاتې آثار به هم ختم او وران ویجاړ کړي.

کله چې د ابن عبدالوهاب افکار د یمن امیر محمد بن اسماعیل ته ورسېدل نو د ابن عبدالوهاب په مدح کښې یې داسې شعر د قصیدې په توګه وویلو:

سـلام علـی نجـد و من حل في نجد

و ان کان تسلیمي علی العبد لا یُجدي

«سلام دې وي په نجد او په هغه کس باندې چې پکښې شتون لري [١] که څه هم زما درود او سلام له دومره لرې نه څه ګټه نۀ لري.»

خو کله چې هغۀ د مسلمانانو د تکفیر په حقله د ابن عبدالوهاب بې رحمانه فتوې واورېدې او له دې نه خبر شو چې وهابیان په مسلمانانو باندې بس صرف د شرک د تور په لګولو سره د هغوي وینه ، مال او ناموس مباح ګڼي نو له خپلې خبرې نه ستون شو او بیا یې دا قصیده وویله:

رجعت عن القول الذي قلت في نجد

فقد صح لي عنه خلاف الذي عندي

«زۀ د هغه نجدي کس په حقله له خپلو خبرو نه واوړېدم ځکه چې د هغه څه په خلاف چې مې د هغۀ په باره کښې ګمان کوۀ زما لپاره ثابت شول.»

چا به چې د هغۀ عقائد نۀ قبلول نو ورسره به یې د حربي کافر سلوک کوۀ. د وهابیانو لښکر به که د مسلمانانو په یو ښار باندې حمله وکړه او تسلط به یې ورباندې پېدا کړ نو هر هغه کار به کوۀ چې د هغوي زړۀ به غوښتۀ. هغوي په کربلا باندې په حمله کښې د زیاتو بې رحمیو ښودنه وکړه او د خدا ے د ګران رسول صلی الله علیه و آله وسلم د احترام خیال یې ونۀ ساتۀ ، هغوي د پېغمبراکرم صلی الله علیه و آله وسلم د نمسي په سپېڅلي زیارت کښې په پرتو خزانو او قیمتي مالونو باندې یرغل وکړ او ټول یې ولوټل او په دې کار سره د حرّه په واقعه کښې د امویانو او د امام حسین علیه السلام د روضې مبارکې حدودو ته د اوبو په بندولو کښې یې د متوکل عباسي خلیفه یاد راتازه کړ.

د «معجم ما الفه علماء الامه الاسلامیه ضد الوهابیه» کتاب خاوندد وهابیانو د جنایتونو او جرائمو خلاصه بیان کړې ده. هغه وائي: وهابیانو په ١٢٠٨ هجري قمري کال کښې په بصره باندې قبضه وکړه او له هغې وروسته یې الزبیر ښار ولوټۀ، په ١٢١٦ هجري قمري کال کښې یې په کربلا یرغل وکړ او وې لوټله او د دغې سیمې مسلمانان خلق یې قتل عام کړل او هغه څه چې د خدا ےد ګران رسول صلی الله علیه و آله وسلم

---

١- مردا ترې ابن عبدالوهاب نجدي دے.

د قدرمن نمسي په زيارت کېږي موندل ولوټل په ۱۲۲۰ کال کېږي له نجرانيانو سره او په ۱۲۲۲کال کېږي يې په مدينه منوره باندې قبضه وکړه او هغه څه مالونه او اثار چې دهغه حضرت په کور کېږي وو ولوټل. په ۱۲۲۵ کال کېږي يې د شام له مسلمانانو سره جنګ وکړ او د حوران سيمې مسلمانان يې قتل عام کړل. په ۱۳۰۵ کال کېږي د مکې معظمې له حاکم شريف غالب سره په جنګ شول او د دغه ځاے په ډېرو سيمو باندې يې قبضه وکړه. په ۱۳۱۷ کال کېږي يې د طائف سيمه د وسلې په انبار باندې بدله کړه. له ۱۳۳۲نه تر ۱۳۳۲ کلونو پورې يې د عثماني حکومت په خلاف له انګرېزانو سره مرسته وکړه او هغوي ته د ښۀ خدمت په بدله کېږي په ټول حجاز سيمې باندې مسلط شول. د ۱۳۴۳ کال د وروکي اختر په اتمه نېټه يې د جنت البقيع سپېڅلي مزارونه او آثار وران ويجاړ کړل او د خداے د ګران رسول صلی الله عليه و آله وسلم پاک حرم يې دوباره ويجاړ کړ. بالاخره په ۱۴۰۷ هجري قمري کال کېږي يې مکه معظمه د خداے پاک د کور د حاجيانو په وينو سره کړه او په رڼا ورځ يې پنځۀ سوه حاجيان شهيدان کړل. په ۱۲۱۲، ۱۲۱۸، ۱۲۲۵ او داسې نورو کلونو کېږي په کربلا باندې حملې وکړې او په سلګونو مسلمانان يې قتل عام کړل او د امام حسېن عليه السلام په سپېڅلې روضه مبارکه باندې يې يرغل وکړ او د هغې سپکاوے او بې حرمتي يې وکړه او يوه موده يې نجف اشرف محاصره کړ خو د مسلمانانو له سخت مزاحمت او مقاومت او د سترو مراجعو عالمانو له فتوو سره مخامخ شول او له رسوائی نه ډکه ماتې يې وزغمله. [1]

بالاخره ابن عبدالوهاب نجدي په ۱۲۰۶ هجري قمري کال کېږي مړ شو خو اعمالنامه يې هم هغه شان خلاصه پاتې ده، هر جرم او جنايت چې د هغۀ پېروکار ترسره کوي نو د هغۀ په اعمالنامه کېږي هم ليکل کيږي. د ابن عبدالوهاب نجدي غلط عقائد د هغۀ د قوم خلقو د نۀ منل او حتی وروميڼے کتاب چې د هغۀ د عقائدو په رد کېږي وليکل شو د هغۀ د ورور سليمان بن عبدالوهاب لخوا «د الصواعق الالهيه فی الرد علی الوهابيه.» په نامه وليکل شو. نو په داسې حال سره به دغه اوچ کړس او بې منطقه عقائد د نړۍ عام مسلمانان څنګه قبول کړي، مګر دا چې په زور، زياتي، قتل او ګواښ سره (او يا د عامو خلقو له ناپوهۍ نه په استفادې کولو سره) ورباندې ومنلې شي. البته داسې قبلول هم يو سراب دے چې دوام نه لري.

## ابن تېميه او د هغۀ افکار

اسلامي نړۍ په تېره بيا د شام وطن په ۶۹۸ هجري قمري کال کېږي د اسلام پالنې د يو دعوا کوونکي لخوا بې رحمو او سختو حملو هدف وګرځېد. دغه کس باطل او منحرف افکار خپارۀ کړل. په نتيجه کېږي يې د مختلفو مذهبونوعالمانو او فقيهانو ورسره سخت چلند وکړ، هغه يې ملامته کړ او بالاخره يې بندي کړ ان تردې چې په جېل کېږي مړ شو. زياتو خلقو هغۀ ته نصيحتونه وکړل او له خپلو منحرفو افکارو څخه يې منعې کړ خو هغۀ له ګمراهۍ نه لاس وانۀخېست. د الميزان الاعتدال کتاب خاوند علامه شمس الدين ذهبي ورته په يو نصيحت کېږي وليکل: «اے سړيه! په خداے مې دې قسم وي چې پکار دي ستا د افکارو مخه ونيسو، تۀ يو داسې ژبه لرونکے او بحث کوونکے يې چې نۀ دې ارامښت شته او نۀ په ارام کېښېنې. له دغو

---

[1] - موسعه العتبات المقدس ۲ ټوک، ۲۲۸ مخ او ۸ ټوک ۲۷۲ مخ.

خطاګانو څخه ډډه وکړه چې ته یې په دین کښې لرې ځکه چې ستا پیغمبر صلی الله علیه و آله وسلم به له داسې مسائلو نه چې ته یې څېړې کرکه کوله او هغه به یې عیب ګڼۀ او پیغمبراکرم صلی الله علیه و آله وسلم له زیاتو سوالونو او پوښتنو څخه هم نهي کړې ده. ځکه چې زیاتې خبرې ، هغه هم بې له څه خطا نه د حلالو او حرامو په باره کښې وي د زړۀ د سختېدو سبب کیږي، نو که دغه ( ډیرې خبرې ) کفریه خبرې وي نو زړونه ړندوي او ښۀ عاقبت به ونۀ لري.

اے ناپوهه او بخیل کسه! هغه کس چې ستا پیروي کوي که علم او دین یې کم وي نو ځان یې له خدا ے پاک څخه له انکار او د خپل دین له تباهئ سره مخامخ کړے دے. ستا پیروکار بې له یو شمیر لاس او پښې تړلو ،کم عقلو ، بې علمو ، دروغجنو او بې وقوفو بل څوک نۀ دي. اے له خاموشئ نه بې خبره هغه کسه چې مکر یې مضبوط دے یا داسې نېک کسه چې اوچ کړس او ناپوهه یې. اے مسلمانه! د خپل شهوت مرکب دې د خپلې مدحې لپاره راوړاندې کړه چې تر کومې اندازې د خپل نفس تصدیق کوې او نېکان خوار او ذلیل ګڼې؟ تر کومې اندازې خپل نفس او ځان لوے ګڼې او عبادت کوونکي واړۀ ګڼې، له هغوي سره د سپي په شان سلوک کوې او زاهدان خلق بدان ګڼې، تر څو به د خپلو خبرو داسې ستائېنه او صفت کوې چې په خدا ے قسم وي په هغه اندازه د صحیحېنو حدیثونه هم نۀ ستائې؟ اے کاش د صحیحېنو حدیثونه دې له لاسه روغ پاتې شوي وې بلکې چې هر وخت دې وغوښتل په هغو باندې دې د ضعیف والي او موهوم والي ټاپه لګولې او یا دې په خپلو تاویلاتو او انکار سره بدل کړي دي. ›› [1]

د دغه کس باطله نظریه د هغۀ له مرګ نه پس ختمه نۀ شوه او ځینو شاګردانو یې د خپل استاد لارې ته دوام ورکړ خو په مسلمانانو کښې یې څه اثر پیدا نۀ کړ، ان تردې چې ابن عبدالوهاب نجدي چې د ابن تیمیه افکارو ته دوام ورکونکے ؤ د محمد بن سعود د فوځي ځواک په ملاتړ او مرستې سره د دغو عقائدو دعوت څرګند کړ او اسلامي نړۍ یې په کفر باندې تورنه کړه.

هغۀ د دین له مسلماتو انکار وکړ او د مسلمانانو په اعتقاداتو باندې یې حمله وکړه، هغۀ محرمات تر پښو لاندې کړل او په زرګونو بې ګناه کسان یې قتل عام کړل. اسلامي نړۍ د سختې خطرې احساس وکړ او له نویو بدلونو سره یې مخامخ کړ. وړومبنے کس چې د هغۀ په خلاف یې د مخالفت کاڼے راواوچت کړ د هغۀ پلار او ورپسې د هغۀ ورور ؤ چې د دۀ ګمراه کوونکي عقائد یې رد کړل او خلق یې له دغو عقائدو نه خبردار کړل. او ورور یې له خلقو څخه وغوښتل چې د هغۀ د ورور د فکري یرغل په وړاندې ټینګ اودریږي. د دغو دوو تنو له مقابلې نه پس د اسلامي مذهبونو د علماؤ لخوا یوه ډله ایزه او علمي مقابله شروع شوه چې د هغۀ خرافات یې په دلیل او برهان سره رد کړل.

په هر دور کښې مسلمانو د وهابیانو له دغو بهیرونو سره مقابله کړې ، د هغوي فکري بنیادونه یې باطل ګرځولي، د هغوي اعقادي خطاګانې یې په ډاګه کړې او له اسلام څخه د هغوي لرې والے یې ثابت کړے دے.

---

[1] -تکلمه السیف الصقیل، محمد کوثري مصري ( ۱۳۷۱) هغۀ دا عبارت د قاضي برهان الدین بن جماعه له خط نه اخېستے دے او ابن جماعه د حافظ ابي سعید ابن العلائي له خط څخه راخېستې او هغۀ د ذهبي له خط څخه اخېستے دے. عزامي د الفرقان په ۱۲۹ مخ کښې د دې یوه برخه راوړې ده، دا مضمون د الغدیر کتاب د ۵ ټوک په ۸۹ مخ کښې هم راوړلے شوے دے، او ځینو د دې کتاب نسبت له ذهبي سره رد کړے دے چې په دې حقله څه انکار او خبره کول څه فائده نۀ لري.

زه بنده چې د ديني طالب علمانو د مجموعې او علمي حوزې يو غړے او له مسلمانانو څخه يو مسلمان وګړے يم نو په خپل باور سره مې دا يوه شرعي فريضه وبلله چې د خپلو درسونو يوه برخه له دغه تباه کوونکي بهير سره د مقابلې لپاره ځانګړې کړم، او له دې باطل بهير څخه نوے نسل خبر او خبردار کړم او هغوي ته په خپلو دندو باندې په عمل کولوکښې چې د دغو باطلو افکارو جرړې وېستل دي توجيهات وړاندې کړم.

دا کتاب د يو لړ درسونو او وېناګانو مجوعه ده چې ليکونکي بنده په هم دې دليل سره ليکلے دے چې لاندې برخې پکښې شامليږي:

۱- د هغو حديثونو کره کتنه کول چې وهبيان يې د خپلو باطلو افکارو بنياد او د هغو د دليل په توګه وړاندې کوي او همدا رنګ د هغوي د غلطوعقائدو باطل ثابتول.

۲-د وهابيت د دعوو په رد باندې د تاريخي نصوصو او شواهدو زياتوالے بيانول. البته د کشف الارتياب کتاب خاوند مرحوم امين او د الغدير کتاب خاوند علامه اميني له دې مخکښې په خپلې ټولې توانمنۍ او کوشش سره د وهابيت نظريه باطله ثابته کړې ده.

۳- د هغو موضوعاتو بيانول چې وهابيان ورباندې د ډېر حساسيت ښودنه کوي لکه: د خدا ے د ګران رسول صلی الله عليه و آله وسلم د روضې مبارکې زيارت کول، شدالرحال ( يعنې د زيارت لپاره د سفر اراده کول، د قبرونو زيارت او له هغو څخه حاصلول او د هغو مسح کول، له اسلامي اثارو څخه تبرک حاصلول ، د قبرونو او شهيدانو د مزارونو ترڅنګه د دعاګانو غوښتل او د نمونځونو ادا کول، په قبرونو باندې د ډيوو او چراغونو بلول، د غېر خدا نذر منل، د هغۀ د شفاعت قائېلېدل او د هغۀ په نامه باندې قسم خوړل او دغه شان د مېلادونو په ورځو کښې جشنونه جوړول او داسې نور.

هغه څه چې د امر بالمعروف د ډلې له غړيو څخه اورېدل کيږي چې تخصص يې له هغو کسانو سره مناظره کول دي چې د حج شرف حاصلوي او دغه مناظرې يوازې د دا ډول مسائلو په باره کښې وي او د صهيونېستانو نيواکګريو او د هغوي شېطاني سازشونو او منصوبو ته هيڅ پاملرنه نۀ کوي او همدا رنګ په نړۍ کښې د مسلمانانو په خلاف د امريکې په ظلمونو ، پلانونو او دريځونو باندې هيڅ نيوکه نۀ کوي او د الجزائر، سوډان، افغانستان، البانيې ، بالکان او داسې نورو سيمو د مسلمانانو مسائلو ته هيڅ اهميت نۀ ورکوي.

په اخېر کښې له خپل ګران دوست ، استاد او محقق علي شاوي څخه ډېره مننه کوم چې د دې اثر په بيا کتنه کښې يې له ما سره مرسته وکړه او په دې توفيق باندې د خدا ے پاک ستائېنه کوم ځکه چې هغه ولي نعمت دے.

نجم الدين طبسي

قم المقدسه

د وړوکي اختر ۴ نېټه ۱۴۱۷ قمري کال

## له خوارجو سره د وهابيت د يو شان والي وجه

په اسلامي تاريخ او د خوارجو په پېژندګلۍ کښې په ځېړنې سره دا خبره څرګندېږي چې هغوي له تنګ نظرۍ نه ډک افکار لرل او له اسلام، قران او الهي خلافت څخه يې غلطه مطلب اخېسته کوله او دا خبره هم په ډاګه کيږي چې هغوي به له مسلمانانو سره څه سلوک او چلند کوۀ؟ او د خپل جهالت ، ناپوهۍ او بې عقلۍ په وجه يې مسلمانان تکفيرول، د هغوي وينه، مال او ناموس به يې مباح ګڼۀ. او بيا چې د وهابيانو طريقو ، د هغوي فتوو ، او هغو سياستونو ته کتنه وشي چې هغوي د مسلمان امت په وړاندې غوره کړې دي نو په دې پوهېږو چې د دوي روش او طريقه هم هغه د خورجو د روش او طريقې دوام دے او مسلمانان له هغه وخت نه چې ابن عبدالوهاب تسلط پېدا کړ تر اوسه پورې د هغه خطرناک بهير د تاثير قيمت ادا کوي. د وهابيانو دا ويل چې: «لا دعاء الاالله و لا شفاعه الا لله، و لا توسل الا بالله و لا استاثه الا بالله» په ذهنونو کښې د خوارجو د «لا حکم الا لله» ياد تازه کوي. [1]

له خوارجو سره د وهابيانو مشترک يو شان والي او کرداري مشابهتونه په دا ډول دي:

۱- وهابيان انسانان وژني او ابادۍ له منځه وړي او مسلمانان په وسلو سره قتل عام کوي په دې دليل او بهانې سره چې دوي له مړي نه شفاعت غواړي او د خداے ګران رسول صلی الله عليه و آله وسلم او د خداے پاک نازولي اولياء خداے پاک ته وسيله ګرځوي نو په داسې صورت کښې د اسلام په پوهه کښې د خوارجو هم هغه د تنګ نظرۍ او اوچ کړس افکار په ذهن کښې راژوندي کيږي.

۲- وهابيت د هغو کسانو په مشرک والي حکم کوي چې د ددوي له عقائدو سره مخالف دي او دغو کسانو ته وائي: اے کافرانو! اے مشرکانو! نو ځکه د وهابيانو په دې کردار سره د هغه وخت د مسلمانانو په حقله د خوارجو د افکارو ياد په ذهنونو کښې تازه کيږي. هغوي په خپل ګمان احتياط خپله پېشه ګرځولې وه هغوي يوه دانه خرما په دې احتمال چې د هغې مالک راضي نۀ دے نۀ خوړه او يا له يو فضول ګرځېدونکي خنزير له وژلو نه يې په دې وجه ډډه کوله چې د يو ذمي اهل کتاب کافر مال دے، خو په همدې حال کښې يې په خپلې ټولې خودبينۍ او ګستاخۍ سره د خداے د ګران رسول صلی الله عليه و آله وسلم يو اصحابي چې د روژې

[1] - حضرت علي (ع) د خوارجو د دې کلمې په حقله وفرمايل: «کلمه الحق يراد به الباطل» يعنې خبره حق ده ځکه چې د قران مجيد د مبارک ايت «إِنِ الْحُكْمُ إِلاَّ لِلّهِ» مطابق ده خو اراده يې باطله ده. » ځکه چې له دې نه مراد يې امير واخېستۀ چې يوازې خداے پاک دے او له خداے پاک نه بغېر بل څوک حکومت نۀ شي کولې. نو د خلقو ترمنځ په مستقيمه توګه د خداے پاک د حکومت قائلېدو سره د تجسم عقيده لازمي کيږي. (مترجم)

په حال کښې دے او په غاړه کښې يې قران زوړند دے شهيدوي، [1] او هغوي په دې مظلومانه وژلې سره غواړي ځانونه خدا ے پاک ته نزدې کړي. او دا هم وينو چې په هغو وختونو کښې به ځينو مسلمانانو د هغوي له ويرې او وحشت او د سر د حفاظت په خاطر ظاهرا دا ښودل چې اهل کتاب دي او ځانونه به يې نۀ څرګندول چې مسلمانان دي. [2] هر چا به چې د امام علي عليه السلام صفت وکړ او بې له ښې خبرې نه به يې د هغۀ په باره کښې بده خبره نۀ کوله نو خوارجو به يې وينه مباحه ګڼله. او وژل به يې.

وهابيت هم دا مبارک ايت چې فرمائي: وَأَنَّ الْمَسَاجِدَ لِلَّهِ فَلَا تَدْعُوا مَعَ اللَّهِ أَحَدًا [3] (( په تحقيق سره جوماتونه خدا ے لره دي نو بس له خدا ے سره هيڅ څوک مۀ رابولئ، )) په هغه کس باندې تطبيق کوي چې د خدا ے د ګران رسول صلی الله عليه و آله وسلم له قبرمبارک يا د يو جليل القدر صحابي له قبر مبارک او د خدا ے پاک د يو نازولي نېک بنده او ولي له قبر مبارک سره متوسل شي او خوارج هم هغه مبارک ايتونه چې د کارفرانو او مشرکانو په حقله نازل شوي دي په مسلمانانو او مومنانو باندې حمل کوي. [4] ابن عمر په دې حقله وائي: (( خوارجو به هغو ايتونو ته مراجعه کوله چې د کافرانو په حقله وو او بيا به يې هغه په مسلمانانو باندې تطبيق کول، ابن عباس هم وائي چې د خوارجو په شان مۀ کېږئ چې هغوي به د قران شريف ايتونه د قبلې په خاوندانو باندې تطبيق کول په داسې حال کښې چې هغه د اهل کتابو او مشرکانو په باره کښې نازل شوي وو خو هغوي د ايتونو د مفادو په حقله جاهلان وو. [5] نو بس د دغو غلطو او جاهلانه مطلب اخيستنو په نتيجه کښې به وينې بهېدلې او د مسلمانانو مالونه به يې لوټل، وهابيان هم چې څوک يې د عقائدو مخالف وي نو

---

[1]- دغه کس د خدا ے د ګران رسول صلی الله عليه و آله وسلم مشهور صحابي عبدالله بن خباب دے چې خوارجو په داسې حال کښې شهيد کړ چې د رمضان په مبارکه مياشت کښې د روژې په حال کښې ؤ او په غاړه کښې يې قران زوړند ؤ او د هغۀ حامله مېرمن يې په ګېډه څېرې کولو سره له خپل په ګېډه کښې دننه ماشوم سره شهيده کړه په دې جرم چې هغوي له حضرت علي عليه السلام نه د بېزارۍ اعلان نۀ کوۀ، خوارجود رسول الله صلی الله عليه و آله وسلم هغه صحابي ته د هغۀ د شهيدولو په وخت په ډېرې ګستاخۍ سره وويل چې هغه قران چې تا په غاړه کښې زوړند کړے دے ستا د قتل حکم کوي هغه يې د نهر په غاړه حلال کړ او وينه يې په نهر کښې جاري شوه. او بيا يې د هغۀ حامله مېرمن سره له هغه ماشوم سره چې په ګېډه کښې ؤ په ګېډې څيري کولو سره شهيده کړه. د خوارجو له کارونو څخه يوکار دا ؤ چې مسلمانې ښځې به يې اسيرانولې او په خپلو کښې به يې د هغوي اخيستل او خرڅول کول. يو ځل يې يوه مسلمانه ښځه اسيره کړه او د خرڅون لپاره يې بولۍ ته کښېښوله چې په دغه بولۍ کښې يې د هغې بيه دومره اوچت حد ته ورسوله چې په نتيجه کښې هم له خوارجو نه يو کس پاڅېد او هغه ښځه يې قتل کړه او وې ويل چې دا کافره ده پکار دي ووژلې شي او دې غوښتل چې په مسلمانانو کښې فتنه پېدا کړي نو ځکه پکار دي قتل کړې شي. ( کشف الارتياب ۹۷ مخ )

[2]- يو شمېر مسلمانان په لاره کښې له خوارجو سره مخامخ شول، خوارجو له هغوي نه پوښتنه وکړه چې تاسو څوک يئ؟ په دغو کسانو کښې يو هوښيار کس خپلو ملګرو ته وويل چې پرېږدئ زۀ ورته ځواب ورکړم نو هغه ورته وويل چې مونږ له اهل کتابو څخه يو او تاسو ته مو پناه راوړې ده چې ستاسو له خولې د خدا ے کلام واورو او بيا لاړ شو په هغو سيمو کښې چې مونږ پکښې اوسيږو د اسلام تبليغ وکړو، بيا خوارجو له قران مجيد څخه څه ايتونه هغوي ته واورول او بيا يې ورسره څه کسان ملګري کړل چې خپلو ځايونو ته يې په امان کښې ورسوي. ( السيره الحلبيه ۳ ټوک ۱۴۰ مخ )

[3]- سورۀ جن ۱۸ ايت

[4]- بخاري ۴ ټوک ۱۹۴ مخ.

[5]- کشف الارتياب ۱۲۴ مخ.

د هغهٔ د مشرک والي حکم ورکوي او د هغهٔ وينه او مال مباح گڼي. دوي دارلاسلام دارالحرب او ځانونه دارالايمان گڼي چې پکار دي د دوي ښار ته هجرت وشي، په داسې حال کښې چې د دين ضرورت دا د ے چې هر چا په ژبه باندې شهادتين جاري کړ نو وينه وژغورلې شوه او د مسلمانانو په ډله کښې شامليږي، د مسلمانانو په گټه او تاوان کښې شريکيږي. او ضروري نهٔ ده چې يو کس دې ځان په سختئ کښې واچوي او د چا زړهٔ دې وچوي او دننه دې پکښې وگوري چې ايمان زړهٔ ته رسېدلے دے او که نه اسلام يې يوازې د ژبې تر حده دے. شايد دا چاره د وهابيانو او سلفيانو لپاره ضروري نهٔ وي ځکه چې هغوي تل د هغو کسانو د تکفيرولو په لټه کښې دي چې د دوي عقائد نهٔ قبلوي او داسې ښکاري چې دا ايت مبارک يې هېر کړے دے چې فرمائي: وَلاَ تَقُولُواْ لِمَنْ أَلْقَى إِلَيْكُمُ السَّلاَمَ لَسْتَ مُؤْمِنًا [1] او يا دا مبارک روايت يې نهٔ دے اورېدلے چې د خدا ے گران رسول صلی الله عليه و آله وسلم د اسامه په قومانداني سره يو لښکر د بني ضمره قبيلې په لور واستوهٔ ، دوي په لار کښې د مرداس بن نهيک په نامه يو سړي سره مخامخ شول چې ورسره گډې چېلئ او سور اوښ ؤ ، کله چې مرداس دوي وليدل نو يو غار ته يې پناه يوړه او اسامه هم ورپسې ورغے، مرداس چې کله غرهٔ ته ورسېد نو خپل مال يې هلته پرېښود او د اسامه د لښکر په لور راستون شو او وې ويل: «السلام عليکم اشهد ان الا اله الا الله ا ان محمداً رسول الله» خو اسامه ورته هيڅ توجه ونکړه او د هغهٔ د گډو چېلو او اوښ په خاطر هغه ووژهٔ کله چې يې واقعه د خدا ے گران رسول صلی الله عليه و آله وسلم ته بيان کړه نو هغه حضرت اسامه ته وفرمايل: څنگه دې يو داسې کس چې لا اله الا الله يې په ژبه جاري وه ووژهٔ؟ اسامه وويل: يا رسول الله! لا اله الا الله يې دې لپاره وويله چې په امان کښې پاتې شي، د خدا ے گران رسول صلی الله عليه و آله وسلم وفرمايل: ايا تا د هغهٔ زړهٔ څيرے کړے ؤ او دننه دې پکښې کتلي وو؟ [2] خدا ے پاک دغه پېښه خپل گران پېغمبر صلی الله عليه و آله وسلم ته بيان کړه او ورته يې خبر ورکړ چې اسامه دغه کس د اوښ او گډو چېلو لپاره وژلے دے.

خوارج [3] له دين نه داسې خارج شول لکه غشے چې له ليندئ نه خارج شي او يا دا چې خوراج په دين کښې دومره ژورې [4] ته لاړل ان تر دې چې ترې بهر ووتل لکه چې غشے له ليندئ نه ووځي. [5] مونږ سره دا ويره ده چې د خدا ے د گران رسول صلی الله عليه و آله وسلم قول مبارک چې د نجد [6] د سيمې په باره کښې ترې

---

[1]- سورهٔ نساء ايت ۹۴.

[2]- الدالمنثور ۲ ټوک ۳۵۷ مخ مجمع البيان ۳ ټوک ۱۴۹ مخ.

[3]- مسند احمد بن حنبل ۲ ټوک، ۱۸ مخ، الجامع الصحيح ۴ ټوک ۴۸۱ مخ.

[4]- مرحوم امين د کشف الارتياب په ۱۰۱ مخ کښې ليکي: فان المرادبالتعمق فيه و اله العالم، التشدد فيه و تکلف مالم يکلف الله به و نذوذلک. په دين کښې سختي کول او ځان په زحمت کښې اچول په داسې حال کښې چې خدا ے پاک داسې زحمت او مشقت په دوي باندې نهٔ دے تحميل کړے.

[5]- مسند احمد بن حنبل ۲ ټوک ۱۸ مخ، الجامع الصحيح ۴ ټوک ۴۸۱ مخ.

[6]- نو اوس چې د دې مبارک روايت په حقله خبره راغله نو ښه به دا وي چې په دې حقله څو مطالب د لوستونکو لپاره بيا شي:
په ابتدا ء کښې دا خبره د ويلو ده چې ټول نقل شوي احاديث له سني سرچينو څخه او د اصلي متن مطابق بيانيږي چې د اصلي امانت ساتنه وشي،

پوښتنه وشوه نو وې فرمايل: « هلته به زلزله وي او فتنې به له هغه ځايه وي. » [1] او يا دا چې فرمائي: « هلته کښې به د شيطان امت راڅرګندېږي. » په همدې بهير باندې به يو ناظر وي چې کوم په نجد کښې راڅرګند شو او ځينو کسانو هم له هغۀ څخه پېروي وکړه. د « قرن » معنا د قاموس [2] د ليکنې له مخې امت ، او د هغۀ د راې تابعين دي او يا هغه قوم چې تسلط يې پيدا کړل.

---

احمد بن حنبل په خپل مسند کښې له ابن عمر نه نقلوي : ان النبي صلى الله عليه و آله وسلم قال اللهم بارک لنا فس شامنا ، اللهم بارک لنا فى يمننا قالوا و فى نجدنا قال هنالک الزلازل و الفتن منها او قال بها يطلع قرن الشيطان او بخاري په کتاب الفتن کښې له ابن عمر نه نقلوي: ذکر النبي صلى الله عليه و آله وسلم اللهم بارک لنا فى شامنا اللهم بارک لنا فى يمننا قالوا يا رسول الله صلى الله عليه و آله وسلم فى نجدنا فاظنه قال فى الثالثه هنا لک الزلازل و الفتن منها او قال بها يطلع قرن الشيطان » او همدا روايت ترمذي په مناقب کښې نقل کړے دے او مسلم په خپل صحيح کښې د پېغمبراکرم صلى الله عليه و آله وسلم له قوله بيان کړے دے: « و هو ( نبي صلى الله عليه و آله وسلم ) مستقبل المشرق يقول راس الکفر من هاهنا من حيث يطلع قرن الشيطان » بخاري هم په کتاب الفتن کښې له ابن عمر نه نقلوي: « انه صلى الله عليه و آله وسلم قام الى جنب المنبر فقال الفتنه هاهنا الفتنه ها هنا من حيث يطلع قرن الشيطان قرن الشمس » بخاري همدا رنګ له ابن عمر نه نقلوي : چې د خداے ګران رسول صلى الله عليه و آله وسلم په داسې حال کښې چې مشرق طرف ته يې مخ کړے ؤ وفرمايل: « الا ان الفتنه هاهنا من حيث يطلع قرن الشيطان » او مالک په موطا کښې له ابن عمر نه نقلوي: « رايت رسول الله صلى الله عليه و آله وسلم يشير الى المشرق و يقولها ان الفتنه ها هنا ان الفتنهه من حيث يطلع قرن الشيطان » مسلم په خپل صحيح کښې د خداے د ګران رسول صلى الله عليه و آله وسلم له قوله نقلوي: راس الکفر نحوالمشرق » او↔

↔ په يو بل روايت کښې راغلي دي: الايمان والکفر قبل المشرق » په دوو وړومبيو خبرونو کښې وائي: چې د شيطان د ښکر راوتل له نجد څخه دي، باقي اخبار چې په کښې مشرق راغلے دےتفسيروي چې له مشرق نه مراد هم هغه د نجد زمکه ده ځکه چې نجد د مدينې ښار مشرق طرف ته دے. ځينې وهابيان په دې روايتونو سره ډېر پرېشانه شول ( او د پېغمبراکرم صلى الله عليه و آله وسلم د هغه خبر چې بي بي عائشې ( رض ) ته ورکړ چې تۀ کله د حواب زمکې ته ورسې ...... او نورو بيا د حواب زمکه بله ښودله » د نجد زمکه هم بله وښودله او وې ويل چې له نجد نه مراد عراق دے او له حجاز نه بالاتر شتون لري، ځکه چې نجد په لغت کښې د الشرف من الارض په معنا راغلے دے. د وهابيانو دا خبره د هغوي د ډېرې پرېشانۍ ښودنه کوي ځکه چې نجد که په مطلقه توګه راوړلے شي او ورسره د څه قيد نۀ وي نو مراد ترې له تېرو وختونو نه تر اوسه هم هغه د وهابيت سيمه ده او د دغې سيمې خلقو ته نجديان، او باچا ته يې د نجد باچا او باچائۍ ته يې د نجديه باچائي ويل کيږي او له بلې خوا د لغت خاوندان د وهابيانو د نظر په خلاف خبره کوي لکه چې قاموس وائي: « النجد ما اشرف من الارض... اسفله العراق و الشام و اوله من جهه الحجاز ذات عرق » ځکه چې وهابيت د نجد په معنا کښې په همدې جملې « الشرف من الارض » باندې بسنه کړې ده. صحاح وائي: نجد من بلاد العرب و هو الغور والغور تهامه و کل ما ارتفع عن تهامه الى ارض العراق و ليست من الحجاز و ان کنانت من جزيره العرب... » دا ټول په دې خبره څرګند دلالت کوي چې عراق له نجد نه جدا سيمه ده لکه چې حجاز ، يمن او شام له نجد نه جدا دي.

دا مطلب له روايت نه هم معلوميدې شي. ابيوردي الاموي په خپل شعر: « فانک ان اعرقت ولقلب منجد---- ندمت ولم تشمم عرارا ولا زندا » کښې عراق د نجد په مقابل کښې راوستے دے چې ترې نه دا خبره معلوميږي چې عراق له نجد نه جدا سيمه ده. له هغو کسانو څخه چې دا روايت يې د وهابيت په باره کښې ګڼلے دے يو د محمد بن عبدالوهاب نجدي ورور شيخ سليمان بن عبدالوهاب دے. هغه وائي: « و مما يدل على بطلان مذهبکم ما فى الصحيحين راس الکفر نحوالمشرق..» دخپلې وينا په اخبر کښې وائي: « اشهد ان رسول الله صلى الله عليه و آله وسلم لصادق لقد ادي الامانه و بلغ الرساله» ( کشف الارتياب له ۱۰۰ نه تر ۱۰۲ مخونه. )

[1] - مسند احمد بن حنبل ۲ ټوک ۸۱ مخ.

[2] - قاموس اللغه ۳ ټوک ۳۸۲ مخ ماده قرن

له خدا ے پاک نه غواړو چې د نړۍ ټول مسلمانان دې یو موټے کړي او د هغوي اراده دې په دښمنانو باندې قوي وګرځوي او د هغوي زړونه دې د اسلام په هدایت سره نوراني کړي او پوهه او بصیرت دې یې روزي کړي. او هیله لرو چې دا فرقه به خپل همت د صحیح علمي خبرو اترو په بنیاد او په پوهېدو او پوهولو باندې وګرځوي چې کېدې شي خدا ے پاک یې له ذهنونو څخه د جهالت او تعصب پرده لرې کړي، ځکه چې توفیق ورکوونکے فقط هغه ذات د ے.

*****

# شفاعت

۱- د شفاعت په حقله د وهابیت نظریه
۲- د شفاعت معنا
۳- شفاعت له کوم کس سره تعلق لري؟
۴- د شفیع کردار او رول
۵- د شفیع او شفیع ګانو ډولونه
۶-د بل بیان ځواب
۷- له رحلت نه پس د پېغمبراکرم صلی الله علیه و آله وسلم ژوند
۸- له وفات نه پس د ژوند په حقله د علماؤ نظریات
۹- سوالونه ځوابونه
۱۰- د روح په بقا کښې یو سپک نظر
۱۱- د روایتونو له مخې شفاعت
۱۲- د صحابهؤ په سیرت کښې د شفاعت غوښتنه

## د شفاعت په حقله د وهابیت نظریه

وهابیان له هغو کسانو څخه د شفاعت غوښتنه منعې کوي چې خدا ے پاک د هغوي لپاره د شفاعت حق ګرځولے د ے لکه پېغمبران علیهم السلام، اولیاء کرام، صالحان او فرښته ګان . او له هغوي څخه د شفاعت غوښتنه یې کفر بللے د ے . او په همدې وجه یې د شفاعت غوښتونکو وینه او مالونه مباح ګڼلي دي. د وهابیانو مشر محمد بن عبدالوهاب نجدي وائي: « که د شفاعت غوښتونکو مراد له ملائېکو، پېغمبرانو او اولیاؤ څخه د شفاعت غوښتنه وي چې په دې ذریعې سره د خدا ے پاک نزېکت پېدا کړي نو دا هغه چاره ده چې په دې وجه د هغوي وینې او مالونه حالونه مباح ګڼل کیږي. » دا وېنا له ابن تېمیه نه اخېستې شوې ده چې وائي : هغه کسان چې پېغمبر صلی الله علیه و آله وسلم ورسره وجنګېد ، د هم هغه څیز په خاطر دي چې مو بیان کړل او هغوي به په دې باندې اقرار کوهٔ.[1] او همدارنګ د دې قائل وو چې بتان د څه څیز مدبران نهٔ دي ( یعنې خپلواکي نهٔ لري. ) او بتانو ته د هغوي پناه وړل د شفاعت غوښتنې له مخې دي. له دې امله که څوک کس له صالحانو څخه شفاعت وغواړي نو هم هغه د کافرانو عقیده لري چې ویل به یې: « ما نعبدهم الا لیقربونان الی الله زلفی. »[2] « مونږ د دوي پرستش نه کوو مګر د دې لپاره چې مونږ خدا ے ته نزدې کړي. »

## د شفاعت معنا

[1]- دلته دا سوال پېدا کیږي چې ولې وهابي عالمان داسې فتوې جاري کوي چې حتی له څلور واړو سني مذهبونو څخه هم بهر کیږي؟ په لنډه توګه دا ویلې شو چې دوي د علم د باب د بندېدو قائل نهٔ دي او په ځان لازمي نهٔ ګڼي چې د یو مذهب تقلید وکړي، که څه هم ځانونو ته حنبلیان سلفیان وائي بلکې په ځینو موقعو کښې د هغوي په خلاف فتوا ورکوي. د ابن عبدالوهاب د دور یو عالم محمد بن اسماعیل په تطهیرالاعتقاد رساله کښې وائي: « د څلورو واړو مذهبونو فقیهانو له هغو څلور تنو ( ابو حنیفه، شافعي، مالک، او احمد بن حنبل ) نه پس په اجتهاد کښې د کار چاره ولیده ، په داسې حال کښې چې دا یوه باطله خبره او د هغه چا کلام د ے چې له حقیقت څخه جاهل د ے. » د ابن عبدالوهاب یو نمسے محمد بن عبدالطیف وائي: « زمونږ مذهب د احمد بن حنبل مذهب د ے. او مونږ د اجتهاد مدعیان نه یو او هر کله چې مونږ ته د رسول ا... صلی الله علیه و آله وسلم صحیح سنت ثابت شي په هغهٔ باندې عمل کوو او د بل چا قول او ګفتار ته ترجیح نهٔ ورکوو ، په داسې حال کښې چې همدا خبره د اجتهاد په قبلولو باندې اقرار د ے. ځکه چې هغه څه چې له سنتو څخه تاسو ته رسیدلي دي د خدا ے د ګران رسول (ص* له مبارکې خولې څخه تاسو ته رسیدلي دي او خپله مو له هغه حضرت نه اورېدلي دي، یا په متواتره توګه ستاسو لپاره نقل شوي دي. که تواتر سره وي نو څومره به درته دررسیدلي وي او له نورو نه پټ پاتې شوي دي او دا چاره په عامه توګه ناممکنه ده او هغه سنت ظني او ګمان وي ) ظني السند لدلاله یا ظني السند ) او بالاخره ګماني خبر وي نو خدا ے پاک ظن او ګمان منعې کړے د ے او که په ظني روایت باندې عمل وشي نو هیڅ ارزښت نه لري بلکې د اجتهاد له مخې پکار د ے وي. نو بس په اجتهاد باندې تمام شو. نو که په اجتهاد باندې تمام شو نو ولې ستاسو دغه ټول اجتهمادونه د نص په مقابل کښې دي چې هیڅ ارزښت نهٔ لري.

[2]- سورهٔ زمر ( ۳۹ ) ۳ ایت

شفاعت په لغت کښې د «شفع» له مادې نه اخېستے شوے دے چې د فرد (طاق) په مقابل کښې د جفت په معنا دے: په اصطلاحي توګه په هغه وسیله چې د شفیع مقام په هغې ناقصې وسیلې سره چې له شفاعت شوي کس سره ده اضافه او ضمیمه کیږي، د هغې وسیلې په نتیجه کښې چې ناقصه وه کامله کیږي او د شفیع د مقام په وسیله په دومره اندازې سره تکمیل مومي چې د شفاعت شوي کس متعلق د شفاعت غوښتنه قبلیږي او هغه مقام ته چې قابلیت یې لري رسیږي.[1]

## شفاعت له چا سره تعلق پېدا کوي

هغه انسان چې غواړي ثواب وګټي او لوړې درجې ته ورسي نو هغه ثواب او لوړې درجې ته د رسېدو لپاره د ضروري اسبابو له برابرولو او کوشش نه بغېر د شفاعت وړ نهٔ شي ګرځېدې او هغه وخت یې شفاعت کیږي چې د شفاعت لیاقت او قابلیت ولري او په دې لړ کښې کوشش او تلاش وکړي، هغه د وسیلې د نقص په وجه چې خپله د هغهٔ کوتاهي یې علت دے لا د شفاعت قابلیت نهٔ دے پېدا کړے چې په داسې صورت کښې د شفیع کردار د شفاعت کړې شوي کس د نقص او نیمګړتیا لرې کول دي، په بله معنا شفاعت په شفاعت کړې شوي کس کښې د موجود سبب تکمیلوونکے دے او تاثیر کولو کښې خپلوا کي نهٔ لري.[2]

## د شفیع کردار

---

[1]- د شفاعت ماهیت په خقیقت کښې د قابل د قابلیت پوره کېدل دي، یعنې شفیع یو داسې کارکوي چې قابل له نیمګړتیا څخه خلاصون مومي او مطلوب کمال ته رسیږي. عقل دا تقاضا کوي چې که یو موجود کمال و نهٔ لرهٔ نو پکار دي هغه له هغې مبداء څخه چې عین کمال دے حاصل کړي او که د کمال د موندلو لپاره ضروري معیار ونلري نو پکار دي په مدد او امداد سره له یو لړ وسیلو او واسطو څخه خپل قابلیت هغه معیار ته ورسوي او داسې یو څیز نهٔ یوازې د قانون خلاف ورزي نه کوي بلکې د عقلي قوانینو تقاضا پوره کوي. په بله معنا د یو کس په حقله شفاعت په دې معنا نهٔ دے چې په عین حال کښې هغه ناقص او د قبلېدو د شرائطو نهٔ لرونکے وي او د هغهٔ په حقله دې شفاعت ومنلے شي، بلکې شفاعت په مجرم کښې د بدلون او تغیر راوستل دي، په دا ډول چې د سزا استحقاق له هغه نه اخېستل کیږي او ګناهګار د سزا له استحقاق نه رابهر کوي. د مثال په توګه د استسقا له نمانځه نه پس داسې نهٔ ده چې بغېر له څه بدلون څخه باران وریږي بلکې خداے پاک د باران د ورېدو اسباب رامنځته کوي. په دا ډول چې هوا ته حکم ورکوي چې اوریځې هغه سوزېدونکې زمکې ته یوسي: «وَاللّٰهُ الَّذِي أَرْسَلَ الرِّيَاحَ فَتُثِيرُ سَحَابًا فَسُقْنَاهُ إِلَى بَلَدٍ مَّيِّتٍ» سورهٔ فاطر (۳۵) ۹ ایت

[2]- دلته دا پوښتنه کیږي چې ایا د هغې وسیلې په ذریعه چې په شفاعت کړې شوي کس کښې موجوده ده د شافع د مقام ورزیاتول کافي دي چې د شفاعت وړ وګرځي؟ نو ځواب یې دا دے چې د هغو کسانو شفاعت کول د خداے پاک د رضامندۍ وړ ګرځي چې د چا عقیده او د دین اصل یې د خوښې وړ وي، خو که هغه دین د خداے د رضایت وړ نهٔ وي هیڅکله هغه کس په شفاعت کښې نهٔ شاملیږي لکه کفر چې په مبارک ایت کښې راغلي دي: وَلَا يَرْضَى لِعِبَادِهِ الْكُفْرَ (سورهٔ زمر ۷ ایت) یوازې اسلام دے چې د خداے پاک د رضامندۍ وړ دے لکه چې قران مجید کښې ارشاد فرمائي: إِنَّ الدِّينَ عِندَ اللّٰهِ الإِسْلاَمُ (سورهٔ آل عمران ۱۹ ایت) نوبس که شفاعت شوے کس اصل ایمان ولري او په هیڅ وجه نېک عمل ونلري نو کېدې شي چې خداے پاک یې وبخښي.

د شفيع کردار او رول د خدا ے پاک مولايت نۀ باطلوي ( ځکه چې شفاعت يې د خدا ے پاک په اذن سره د ے او په شفاعت کښې خپلواکي نۀ لري. ) او د بنده عبوديت هم نۀ باطلوي ( ځکه چې له شفاعت نه د ګټې اوچتولو شرط د خدا ے بندګي ده خو په دې حقله يې قصور لرۀ ) او همدا رنګ له هغه حکم نه لاس اخېستنه هم نۀ ده چې د بنده لپاره په نظر کښې نيول شوے د ے ( ځکه چې خطاکار بنده د سزا مستحق د ے خو دا د مهربان خدا ے پاک پراخه رحمت او نامحدوده مغفرت د ے چې د هغۀ په ذريعې سره لياقت لرونکي کسان پاکيږي) شفيع خدا ے د کرم او سخا په شان صفاتو سره يادوي او بنده د بخښنې او د هغۀ په نسبت د رافت سبب کيږي. د مثال په توګه وائي: ا ے خدايه ستا د کرم او سخاوت په خاطر خپل رحمت د دې ګناهګار بنده په برخه کړې. همدارنګ شفيع خپله د بنده صفات مولا ته وړاندې کوي چې د هغۀ په نسبت د رحمت او رافت سبب ګرځي او له ګناه نه يې تېرېږي. د مثال په توګه وائي: ا ے خدايه! دا بنده ستا د رضايت غوښتونکے د ے ، دې يو ذليل او په خپلو کړو پښېمانه بنده د ے. او يا شفيع هغه صفات چې خپله پکښې موجود دي مولا ته وړاندې کوي ( لکه مولا ته نزديکت، د منزلت اوچتوالے وغېره....) د مثال په توګه وائي: ا ے خدايه دا بنده د هغه منزلت په خاطر چې زۀ يې ستا په نزد لرم وبخښې. نو بس د شفاعت حقيقت بنده ته د فائدې رسولو يا له هغۀ نه د شر د لرې کولو لپاره د شفيع واسطه او وسيله جوړېدل دي. دغه وساطت او وسيله جوړېدل نۀ هغه واسطه ده چې يو حکومت ته د واسطې جوړېدو يو قسم وي او نه تضاد وي.[1] يعنې شفيع د عذاب په رفع کولو کښې موثر عامل بيانوي چې هغه کس د سزا له موضوع نه خارج شي او د خدا ے پاک رحمت او مغفرت يې په برخه شي.. داسې شفاعت چې د خدا ے پاک لخوا د يو شمېر بندګانو لپاره ثابت د ے خپله د بنده لپاره هم دا امکان لري چې د خدا ے پاک رحمت حاصل کړي او يا خپل ذلت اوپستي وښئ. هغه په توبې او نېک عمل سره کولې شي د ګناهګار له مصداق څخه خارج شي او يو نېکوکار بنده شي. په دې باره کښې قران شريف فرمائي: يُبَدِّلُ اللَّهُ سَيِّئَاتِهِمْ حَسَنَاتٍ [2] (( خدا ے پاک د هغوي ګناهونه په نېکيو باندې بدلوي.....)) په داسې صورت کښې خدا ے پاک د بنده ګناهونه په نېکېو باندې بدلوي، همدا رنګ هغه سرمايه چې انسان له خپلو اعمالو څخه په لاسو کښې راوړې ده چټې ګرځي: وَقَدِمْنَا إِلَى مَا عَمِلُوا مِنْ عَمَلٍ فَجَعَلْنَاهُ هَبَاءً مَّنثُورًا [3] او مونږ به د هغو اعمالو په لټه کښې شو چې ترسره کړي يې دي او هغه ټول به د خورو ورو دوړو په شان په باد والوزوو. ))

## شافعان

شفاعت په دوه قسمه تقسيمېږي:

[1]- د (( حکومت )) تعبير په متن کښې د تسامح له باب څه د ے ګنې بهتر تعبير تخصص او ځانګړتيا ده يعنې بنده په ځانګړي توګه او تخصصاً د عقوبت له مصداق څخه خارجيږي او په رحمت کښې شامليږي.

[2]- سورۀ فرقان (۲۵) ۷۰ ايت

[3]- سورۀ فرقان (۲۵) ۲۳ ايت

۱- تکویني شفاعت، یعني دا چې د خدا ے پاک او امکاني موجوداتو ترمېنځ د واسطې او وسیلې ټول وجودي اسباب او علتونه که هغه په دنیا کښې وي او که په اخېرت کښې وي د خدا ے په نزد تکویني شفیعان پېژندل کیږي. ( ځکه چې خدا ے پاک او د هغۀ د مخلوقاتو ترمېنځ د فېض واسطه دي، )

۲- تشریعي شفاعت، د تشریع او وظیفې په عالم کښې رامنځته کیږي او ځینې کسان له دغو شفاعتونو څخه د خدا ے پاک د مغفرت سبب کیږي.

## په دنیا کښې شافعان

### ۱- توبه:

قُلْ يَا عِبَادِيَ الَّذِينَ أَسْرَفُوا عَلَى أَنفُسِهِمْ لَا تَقْنَطُوا مِن رَّحْمَةِ اللَّهِ إِنَّ اللَّهَ يَغْفِرُ الذُّنُوبَ جَمِيعًا إِنَّهُ هُوَ الْغَفُورُ الرَّحِيمُ وَأَنِيبُوا إِلَى رَبِّكُمْ وَأَسْلِمُوا [۱] ووایه ا ے زما هغو بندګانو چې په ځانونو مو ستم او اسراف مو کړ ے د ے د خدا ے له رحمت نه مه ناامیده کیږئ چې خدا ے ټول ګناهونه بخښي، ځکه چې هغه ډېر بخښونکے د ے او د خپل پروردګار درګاه ته راستانۀ شئ او د هغۀ په وړاندې تسلیم شئ.))

### ۲- ایمان:

يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا اتَّقُوا اللَّهَ وَآمِنُوا بِرَسُولِهِ يُؤْتِكُمْ كِفْلَيْنِ مِن رَّحْمَتِهِ وَيَجْعَل لَّكُمْ نُورًا تَمْشُونَ بِهِ وَيَغْفِرْ لَكُمْ وَاللَّهُ غَفُورٌ رَّحِيمٌ [۲] ا ے هغو کسانو چې ایمان مو راوړ ے د ے الهي تقوا خپله پېشه وګرځوئ او د هغۀ په رسول باندې ایمان راوړئ چې تاسو ته د خپل رحمت دوه برخې دروبخښي او ستاسو لپاره یو نُور وګرځوي چې د هغۀ په ذریعه په لاره لاړ شئ او ستاسو ګناهونه وبخښي او خدا ے پاک بخښونکے او مهربان د ے. ))

### ۳- نېک عمل:

وَعَدَ اللَّهُ الَّذِينَ آمَنُواْ وَعَمِلُواْ الصَّالِحَاتِ لَهُم مَّغْفِرَةٌ وَأَجْرٌ عَظِيمٌ [۳] خدا ے هغو کسانو ته چې ایمان یې راوړ ے د ے او نېک عملونه یې کړي دي د بخښنې او لو ے اجر وعده ورکړې ده، ))

---

[۱]- سورۀ زمر (۳۹) ۵۳ ایت. په دنیا کښې تر ټولو اثر لرونکے شفیع (( توبه )) ده، ځکه چې پېغمبرانو او فرښتو په شان د نورو شفیعانو شفاعت له شرک نه بغېر د ټولو ګناهونو متعلق د ے او یوازې په ګناه باندې د ککړو مسلمانانو په برخه کیږي. لکه د سورۀ توبه په ۱۱۳ مبارک ایت کښې راغلي دي: مَا كَانَ لِلنَّبِيِّ وَالَّذِينَ آمَنُواْ أَن يَسْتَغْفِرُواْ لِلْمُشْرِكِينَ... البته توبه داسې نۀ ده بلکې په توبې سره بنده د شرک او نفاق له ککړتیا څخه خلاصے مومي لکه چې امام علي علیه السلام فرمائي: لا شفيع انجح من التوبه )) ( نهج البلاغه ۳۷۱ حکمت )

البته پکار دي اعتراف وکړو چې له توبې څخه د ملائېکو ، او پېغمبرانو علیهم السلام په شان د شفیعانو د شفاعت ځانګړتیا دا ده چې د ملائېکو او انبیاؤ علیهم السلام شفاعت په اخېرت کښې د ے او توبه یوازې په دنیا کښې ده. وَلاَ الَّذِينَ يَمُوتُونَ وَهُمْ كُفَّارٌ ( سورۀ نساء ۱۸ ایت ) – الیوم عمل ولا حساب و غداً حساب و لا عمل ( بحارالانوار ۷۴ ټوک )

[۲]- سورۀ حدید (۵۷) ۲۲ ایت.

[۳]- سورۀ مائده (۵) ۹ ایت.

**۴- قران شریف:**

يَهْدِي بِهِ اللّهُ مَنِ اتَّبَعَ رِضْوَانَهُ سُبُلَ السَّلاَمِ وَيُخْرِجُهُم مِّنِ الظُّلُمَاتِ إِلَى النُّورِ بِإِذْنِهِ وَيَهْدِيهِمْ إِلَى صِرَاطٍ مُّسْتَقِيمٍ [1] «خدا ے د هغهٔ په برکت هغه کسان چې د هغهٔ د خوښې پېروي کوي د سلامتيا لارو ته هدايت کوي. او په خپل فرمان يې له تيارو نه د رڼا ګانو لور ته بوځي او هغوي نېغې لارې ته هدايت کوي.»

**۵- پېغمبران:**

أَنَّهُمْ إِذ ظَّلَمُواْ أَنفُسَهُمْ جَآؤُوكَ فَاسْتَغْفَرُواْ اللّهَ وَاسْتَغْفَرَ لَهُمُ الرَّسُولُ لَوَجَدُواْ اللّهَ تَوَّابًا رَّحِيمًا [2] «که دغه مخالفان هغه وخت چې په ځانونو باندې يې ظلم کړے ؤ ستا خوا ته درغلي وې او د بخښنې غوښتنه يې کړې وې او پېغمبر به هم د هغوي لپاره استغفار کړے ؤ خدا ے به يې توبه قبلوونکے او مهربان بيامونده.»

**۶- فرښتې:**

الَّذِينَ يَحْمِلُونَ الْعَرْشَ وَمَنْ حَوْلَهُ يُسَبِّحُونَ بِحَمْدِ رَبِّهِمْ وَيُؤْمِنُونَ بِهِ وَيَسْتَغْفِرُونَ لِلَّذِينَ آمَنُوا [3] هغه فرښتې چې د عرش وړوونکې دي او هغه چې د هغهٔ چاپېره د خپل پروردګار تسبيح او حمد بيانوي او په هغهٔ باندې ايمان لري او د مومنانو لپاره مغفرت غواړي.»

يُسَبِّحُونَ بِحَمْدِ رَبِّهِمْ وَيَسْتَغْفِرُونَ لِمَن فِي الْأَرْضِ أَلَا إِنَّ اللَّهَ هُوَ الْغَفُورُ الرَّحِيمُ [4] او فرښتې په متواتره توګه د خپل پروردګار تسبيح او حمد په ځا ے راوړي او د هغو کسانو لپاره چې په زمکه کښې دي استغفار کوي ،آګاه اوسئ چې خدا ے بخښونکے او مهربان دے.»

**۷- مومنان:**

مومنان هم د خپل ځان لپاره او هم د خپلو ايماني ورونړو لپاره استغفار کوي: وَاعْفُ عَنَّا وَاغْفِرْ لَنَا وَارْحَمْنَآ أَنتَ مَوْلاَنَا [1] زمونږ د ګناه اثرات ووينځې او مونږ وبخښې او په خپل رحمت کښې مو وګرځوې او تهٔ زمونږ مولا او سرپرست يې.»

---

[1]- سورهٔ مائده (۵) ۱۶ ايت. امام علي عليه السلام فرمائي: «واعلموا اه شافع مشفع و قائل مصدق و انه من شفع له القرآن يوم القيامه شفيع فيه و من محل به القرآن يوم القيامه صدق عليه....» «په دې پوه شئ چې قران شريف شفاعت کوي او شفاعت يې مقبول دے اوداسې ويوونکے دے چې خبرې يې تصديق کيږي. هغه کس چې قران شريف يې د قيامت په ورځ شفاعت وکړي. شفاعت به يې د هغهٔ په حقله قبليږي او قران چې د چا شکايت وکړي نو ګواهي به يې د هغهٔ په ضرر باندې منلې کيږي.» ( نهج البلاغه ۱۷۵ خطبه )

[2]- سورهٔ نساء ۶۴ ايت.

[3]- سورهٔ مومن (۴۰) ۷ ايت.

[4]- سورهٔ شوراى (۴۲) ۵ ايت.

## د قیامت د ورځې شفیعان

### ۱- پېغمبران:

وَقَالُوا اتَّخَذَ الرَّحْمَنُ وَلَدًا سُبْحَانَهُ بَلْ عِبَادٌ مُّكْرَمُونَ [۲] «او هغوي وويل: خدای د ځان لپاره یو فرزند غوره کړے دے، هغه له دې نه پاک او پاکيزه دے هغوي د هغهٔ غوره بندګان دي.» وَلَا يَشْفَعُونَ إِلَّا لِمَنِ ارْتَضَى وَهُم مِّنْ خَشْيَتِهِ مُشْفِقُونَ [۳] او هغوي بې له هغه کس نه چې خدای پاک ترې راضي وي شفاعت نهٔ کوي او هغوي د هغهٔ له ويرې لړزيږي.»

### ۲- فرښتې

وكَم مِّن مَّلَكٍ فِي السَّمَاوَاتِ لَا تُغْنِي شَفَاعَتُهُمْ شَيْئًا إِلَّا مِن بَعْدِ أَن يَأْذَنَ اللَّهُ لِمَن يَشَاءُ وَيَرْضَى [۴] او په اسمانونو کښې څومره ډېرې فرښتې دي چې شفاعت يې څه ګټه نهٔ ورکوي پس له دې نه چې خدای هر چا لپاره وغواړي او ترې راضي وي اجازه ورکړي.»

### ۳- شهيدان

وَلَا يَمْلِكُ الَّذِينَ يَدْعُونَ مِن دُونِهِ الشَّفَاعَةَ إِلَّا مَن شَهِدَ بِالْحَقِّ وَهُمْ يَعْلَمُونَ [۵] «هغه کسان چې بې له هغهٔ نه يې رابولي په شفاعت باندې قادر نهٔ دي مګر هغوي چې په حق باندې يې شهادت ورکړے دے او په ښهٔ توګه خبر دي.»

دا مبارک ايت په دې باندې دلالت کوي چې په شفاعت باندې د هغوي قدرت د حق لپاره د هغوي د شهادت په خاطر دے. هر هغه شهيد يو شفيع دے چې په شهادت باندې قدرت لري او په مبارک ايت کښې له شهادت نه مراد د اعمالو شاهد والے دے نه د جنګ په مېدان کښې د وژل کېدو په معنا شهادت.»

### ۴- مومنان

له تېر مبارک ايت نه څرګندېږي چې مومنان هم له شافعانو څخه دي او خدای پاک د قيامت په ورځ له شهيدانو سره د هغوي له يو ځای کېدو څخه خبر ورکړے دے: وَالَّذِينَ آمَنُوا بِاللَّهِ وَرُسُلِهِ أُولَٰئِكَ هُمُ

---

[۱]- سورهٔ بقره (۲) ۲۸۲ ايت.

[۲]- سورهٔ انبياء (۲۱) ۲۶ ايت

[۳]- سورهٔ انبياء (۲۱) ۲۸ ايت

[۴]- سورهٔ نجم (۵۳) ۲۶ ايت

[۵]- سورهٔ زخرف (۴۳) ۸۶ ايت

الصِّدِّيقُونَ وَالشُّهَدَاءِ عِندَ رَبِّهِمْ[1] (( هغه کسان چې په خدای او د هغهٔ په رسول یې ایمان راوړی دی هغوی د خدای په نزد صدیقین او شهیدان دي. ))

[1]- سورهٔ حدید (۵۷، ۱۹ ایت

وهابیانو له عقلي نظره شفاعت ناممکن بللی دی او څو اعتراضونه یې وربانديٖ کړي دي چې اروابناد علامه یې اوو اعتراضونو ته اشاره کړې او د هغو ځوابونه یې ورکړي دي چې دلته ځینو اعتراضونو ته اشاره کوو:

وړومبی اعتراض: د مجرم شفاعت د عذاب د رفع کېدو سبب کیږي ، نو که دا د عذاب رفع کېدل عدل وي نو بیا پکار دي عذاب ظلم وي او چې عذاب ظلم وي نو بیا د عذاب سوال کول چې ځینو انبیاؤ علیهم السلام به د خپلو امتونو لپاره کوۀ ظلم دی او په بله معنا د عذاب اوچتول یا عدل دی او یا ظلم دی نو بس د خدای پاک لخوا د عذاب د جوړولو اصل (معاذ الله) ظلم دی، په داسې حال کښې خدای پاک په هیڅ چا باندې ظلم نۀ کوي: وَلَا يَظْلِمُ رَبُّكَ أَحَدًا نو که د عذاب لرې کول ظلم وي نو بیا د عذاب وجود عدل دی. نو هر کله چې عدل دی نو بیا د شفاعت کوونکو شفاعت څه معنا لري؟

اروابناد علامه فرمائي:د عذاب او سزا رفع کولو معنا د هغه اول حکم خلاف ورزي نۀ ده چې د عذاب ورکولو په توګه مطرح دی بلکې مجرم د عذاب له مصداق نه خارجوي او د خدای پاک په رحمت کښې یې داخلوي او اصلاً د څه خکم خلاف ورزي نۀ ده شوې )) یو بل ځواب چې ورکړی کېدې شي چې منفصله قضیه یعنې د عذاب رفع کول (( عدل )) دی یا ظلم متناقضیت هم نۀ لري چې مانعه الجمع او مانعه الخلو وګڼل شي، ځکه چې د عدل او ظلم ترمېنځ د عدم او ملکه ده او یا تضاد چې د دواړو رفع کېدل امکان لري، که د عذاب رفع کول ممکن دی فضل وي او له دواړو عنوانو یعنې ظلم او عدل نه هیڅ یو وربانديٖ صدق ونکړي نو په نتیجه کښې عذاب عدل او د عذاب لرې کول فضل دی چې له عدل نه بالاتر دی نو په داسې حال کښې وربانديٖ د ظلم عنوان صدق نۀ کوي.

دویم اعتراض: شفاعت د خلاف کارونو سبب کیږي. یعنې د خدای پاک سیرت او سنت له دې سره تعلق لرلی دی چې د اجرا لپاره یو قانون جوړ کړي او چا چې له دغه قانون څخه سر غړونه وکړه نو د خدای پاک سنت دا تقاضا کوي چې هغهٔ ته سزا ورکړي. نو که شفاعت د سزا د رفع کېدو سبب کیږي او یا د خدای پاک په سنتو کښې بدلون او تغیر رامنځته کوي په داسې حال کښې چې مبارک ایت فرمائي: وَلَن تَجِدَ لِسُنَّتِ اللَّهِ تَحْوِيلًا ( فاطر ۴۳ ) د اروابناد علامه ځواب داسې دی: د دې روایت له مخې چې فرمائي: (( يابى الله ان يجري الاخور الا باسبابها )) ( خدای پاک یو عمل د اسبابو مطابق اجرا کوي ) . په نتیجه کښې د حکم وضع کول د یو سبب په خاطر دي او شاید زیات اسباب ولري چې د مجرم فعل چې واحد سبب دی د عذاب او سزا تقاضا کوي خو نور اسباب د عذاب او سزا مقتضي شول. )) بل ځواب دا دی چې له عام سره د تمسک ستاسو اعتراض په مصداقیه شبهه کښې خپله عام دی او داسې تمسک د عقل او وجدان له لحاظه باطل دی مثلا یو کس وائي اکرم العلماء او مونږ نه پوهېږو چې زېد عالم دی چې اکرام او عزت یې وکړو یا دا چې عالم نۀ دی. نو د عالم والي د اثبات لپاره له عام سره تمسک نۀ شو کولی ځکه چې له عام سره تمسک په مصداقیه شبهه کښې خپله عام دی نو له وَلَن تَجِدَ لِسُنَّتِ اللَّهِ تَحْوِيلًا مبارک ایت نه په استفادې سره نه شو ویلې چې د قانون جوړول او د هغهٔ د خلاف ورزۍ سزا نسبت دی، ځکه چې تازه اول کلام دی او د ایت مفاد داسې جوړیږي: هغه څه چې د خدای سنت دی بدلون او تغیر نه قبلوي. خو دا چې د شفاعت قبلول د سنتو د بدلېدو په معنا او د شفاعت نۀ قبلولو له الهي نه بدلېدونکو سنتونو څخه وي له نوموړي ایت څخه داسې څه نه ترلاسه کیږي. په بله معنا دا چې خدای پاک تل په خپل عدل باندې عمل کوي او احسان او فضل نۀ لري یوه باطله خبره ده او په اصل کښې د دې خبرې په خلاف دلیل وجود لري، ځکه چې له الهي سنتونو څخه دا دي چې هغه تل په خپلو الهي اسمونو باندې عمل کوي او هم هغه شان چې د عدالت او انصاف صفت لري نو د رؤف، رحیم، غفار، محسن او مفضل په شان صفتونه هم لري.

دریم اعتراض: د رشید رضا په کتاب (( المنار )) کښې مطرح شوی دی. هغهٔ ویلي دي: (( په عامه قاعده کښې یو حاکم چې هغهٔ ته د یو مجرم شفاعت او سفارش کیږي نو هغه حاکم ظالم دی او د رابطو په بنیاد عمل کوي نه د ضوابطو ، په داسې صورت کښې هم د هغهٔ په افکارو کښې تصرف کولې شو چې په دلائلو سره یې فکر بدل کړو او هم یې په انګېزه کښې تصرف کولې شو او هغه هم صرف په دوستانه روابطو سره او یا دا چې حاکم عادل دی نو په دې صورت کښې کولې شو د هغهٔ په افکارو کښې تصرف وکړو

## بله شرح او بیان

**د «شفاعت» معنا د شفاعت ور کس لپاره د شفاعت له مالک څخه يو څيز غوښتنه او درخواست دے. نو په داسې صورت کښې د پيغمبر يا يو بل کس شفاعت د خدا ے پاک په درګاه کښې د دعا او زارۍ په معنا دے او هغه د ګناه د بخښنې او د ضرورتونو د پوره کولو سوال له خدا ے پاک څخه کوي. نو په دې بنياد شفاعت**

---

او د هغۀ په انګېزه کښې نۀ شو کولې بدلون او تغير راولو، نو په داسې حال کښې دا دواړه ډوله د خدا ے په حقله باطل دي، ځکه چې لازمه يې د خدا ے پاک په اراده کښې تصرف دے او دا کار باطل دے.» د دې اعتراض ځواب په دا ډول دے: خدا ے پاک دوه قسمه علم لري يو يې ذاتي او ازلي علم دے او نور علمونه يې جزئي او په ذات باندې زياتي دي. نو شفاعت د خدا ے پاک په ذاتي او ازلي علم کښې د بدلون سبب نۀ کيږي بلکې جزئي او فعلي ارادې چې په الهي ذات باندې سوا دي تغير کوي. ځکه چې د خدا ے پاک علم ازلي دے خو معلومات يې پرله پسې د بدلون او تغير په حال کښې دي. هغه له ازل نه پوهيږي چې معلومات څه رنګ بدليږي. مثلاً خدا ے پاک په دې پوهيږي چې زيد به په يو خاص وخت کښې پيدا کيږي او د علم زدکړه به کوي وغيره. دا ټول پروګرامونه هغه کارونه دي چې د خدا ے پاک په جزئي ارادې باندې مستند دي او د هغۀ نو ے شان او تازه فيض ګڼل کيږي. لکه چې فرمائي: كُلَّ يَوْمٍ هُوَ فِي شَأْنٍ (الرحمن ۲۹ ايت) همدا رنګ د شفاعت په حقله چې له ازل نه خدا ے پاک ته معلومه ده چې د فلاني کس به په فلاني وخت کښې شفاعت په برخه کيږي، بې له دې نه چې د خدا ے پاک په ازلي اراده کښې څه بدلون وکړي.

څلورم اعتراض: له هغو اعتراضونو څخه چې وهابيان يې مطرح کوي يو اعتراض دا دے چې په شفاعت کولو سره مجرمان سپين سترګي او جري کيږي چې دا هم د غرض خلاف ورزي ده

اروانباد علامه طباطبائي فرمائي: «وړومبې دا چې دا خبره په هغو ايتونو سره چې د خدا ے پاک د رحمت د پراختيا او مغفرت متعلق دي رديږي. ځکه چې په ايتونو کښې ويل شوي دي چې خدا ے پاک ټول ګناهونه بخښي بې له شرک نه چې د توبې په ذريعې سره ختميږي. بله دا چې يوه حل لاره وجود لري ځکه چې د شفاعت وعده هغه وخت جريتوب لازمي کوي چې: ۱- د مجرم نوم او خصوصيت يې معلوم شي او يا هغه ګناهونه چې په شفاعت سره بخښل کيږي وټاکل شي. ۲- شفاعت په ټولو ګناهونو او ټولو وختونو کښې تاثير لرلے او ولري، په داسې حال کښې چې دا دواړه شرطونه د شفاعت په وعده کښې شتون نۀ لري.

د ځواب په لړ کښې پکار دي بله خبره دا وکړو چې: خدا ے پاک نۀ په کلي توګه دا فرمايلي دي چې هره ګناه او هر قسم ګناهګار به د شافعانو په شفاعت سره بخښل کيږي او نۀ يې د يوې ګناه خصوصيت چې په شفاعت سره بخښل کيږي په ګوته کړے دے. بلکې په ټولو ذکر شويو مواردو کښې يې په اجمالي توګه او جزئي طريقې سره خبره کړې ده. نو بس د دا ډول شفاعت نۀ يوازې د ګناهګار د سپين سترګي او جري کېدو سبب کيږي نه بلکې اميد پيدا کوي او د چارو د اصلاح او د تېرو تريخوالو د تلافۍ زمينه برابروي او تل انسان د خوف او رجا ترمېنځ ساتي. د معاني الاخبار په ۱۱۲ مخ کښې او د بحارالانوار د ۲۸ ټوک په ۱۷۲ مخ کښې د اروانباد ابن بابويه په حوالې سره له اميرالمومنين امام علي عليه السلام نه نقل شوي دي چې خدا ے پاک څو څيزونه په څو څيزونو کښې پټ کړي دي.

«۱- خپل قهر او غضب يې د ګناه ترمېنځ پټ کړے دے نو ځکه انسان ته پکار دي چې له ټولو ګناهونو نه ځان وساتي او هيڅ ګناه دې وړه ونۀ ګڼي. ځکه چې نۀ پوهيږي چې خدا ے پاک په کومې ګناه سره ګناهګار انسان ته سزا ورکوي. کېدې شي همدغه ګناه يې د نيولو سبب وګرځي چې هغه يې غواړې ترسره يې کړي. ۲- خپله مهرباني يې د اطاعت ترمېنځ پټه کړې ده، يعنې معلومه نه ده چې کوم يو اطاعت به قبول کړي، نو په دې وجه له فرضو او مستحبو څخه هيڅ يو اطاعت پکار دي سپک ونۀ ګڼلې شي، کېدې شي چې همدغه اطاعت يې د قبول او رضامندۍ مطابق وي. ۳- خپل ولي يې د انسانانو ترمېنځ ناپېژندلے ګرځولے دے، يعنې معلومه نۀ ده چې ولې يې کوم يو دے او په کومه جامه کښې ژوند کوي نو بس هيڅ څوک حق نۀ لري چې د بل انسان سپکاوے وکړي، کېدې شي چې هغه کس د خدا ے پاک ولي وي. ۴- خپله قبلونه يې د دعاګانو ترمېنځ پټه کړې ده، نو پکار دي هيڅ يوه دعا وړه و نۀ ګڼلې شي، کېدې شي هم هغه دعا وي چې قبوله شي..» نو بس شفاعت په داسې پټونو سره نۀ يوازې د ګناه د جرات سبب کيږي نه بلکې د اميد سبب ګرځي او د بنده حرکت او د هغۀ انجامول د خوف او رجا ترمېنځ ګرځي،

يو قسم دعا ده . فخر رازي د مقاتل په نقل سره د دې مبارک ايت: مَّن يَشْفَعْ شَفَاعَةً حَسَنَةً يَكُن لَّهُ نَصِيبٌ مِّنْهَا [۱] په ترڅ کښې ليکي: [۲] «شفاعت د خدا ے پاک له درګاه څخه يوه دعا ده او دليل يې له ابو الدردا څخه د خدا ے د ګران رسول صلی الله عليه و آله وسلم دا مبارک حديث دے چې فرمائي: څوک چې د خپل مسلمان ورور په پسې شا د هغهٔ لپاره دعا وغواړي نو دعا يې قبليږي او فرښته هم د هغهٔ لپاره او هم ستا (دعا کوونکي) لپاره هم هغه دعا غواړي. نو په دې بنياد له غير څخه شفاعت غوښتل هم هغه د دعا طلب دے. [۳]

له هر مومن څخه د دعا غوښتنه جائزه ده لکه څنګه چې ابن عبد الوهاب خپله په دې اعتراف کوي : له ژوندي انسان څخه جائزه ده چې د دعا غوښتنه ترې وشي.

حتی ويلې شو چې د دعا د غوښتنې جائزوالے د دين له ضروورياتو څخه دے نو په دې خبرې سره له هر مومن څخه د «دعا» غوښتل يوه جائزه چاره ده څه لا دا چې له پيغمبرانو او په خاصه توګه د پيغمبرانو له سردار حضرت محمد مصطفی صلی الله عليه و آله وسلم څخه د دعا غوښتل.

کېدې شي يو کس دا ووائي چې د شفيع شفاعت هغه وخت منل کېدونکے دے چې شفاعت کوونکے د خدا ے پاک په نزد څه مقام او حيثيت ولري. نو په ځواب [۴] کښې يکار دي ووايو خدا ے پاک د هر مومن لپاره چې شفاعت کوي د حرمت قائل دے (او په اصل کښې هغه کسان د خدا ے په نزد شافع دي چې د خدا ے پاک په درګاه کښې عزت او احترام ولري.) له دې نه علاوه شفاعت يوازې په انبياؤ پورې مختص نهٔ دے بلکې ټولو مومنانو او فرښتو ته هم د شفاعت حق ورکړے شوے دے.

فخر رازي د دغو مبارکو ايتونو چې فرمائي: الَّذِينَ يَحْمِلُونَ الْعَرْشَ وَمَنْ حَوْلَهُ يُسَبِّحُونَ بِحَمْدِ رَبِّهِمْ وَيُؤْمِنُونَ بِهِ وَيَسْتَغْفِرُونَ لِلَّذِينَ آمَنُوا رَبَّنَا وَسِعْتَ كُلَّ شَيْءٍ رَّحْمَةً وَعِلْمًا فَاغْفِرْ لِلَّذِينَ تَابُوا وَاتَّبَعُوا سَبِيلَكَ وَقِهِمْ عَذَابَ الْجَحِيمِ رَبَّنَا وَأَدْخِلْهُمْ جَنَّاتِ عَدْنٍ الَّتِي وَعَدتَّهُم وَمَن صَلَحَ مِنْ آبَائِهِمْ وَأَزْوَاجِهِمْ وَذُرِّيَّاتِهِمْ إِنَّكَ أَنتَ الْعَزِيزُ الْحَكِيمُ وَقِهِمُ السَّيِّئَاتِ [۵] په تفسير کښې وائي: دا مبارک ايتونه د هغو کسانو لپاره چې ګناهونه ترې شوي دي له فرښتو څخه د شفاعت د غوښتنې په حقله دي[۶] . نو بس هم هغه ډول چې د خدا ے ګران رسول صلی الله

---

۱- سورهٔ نساء ۸۵ ايت

۲- التفسير الکبير ۱۰ ټوک ۲۰۷ مخ

۳- د حديثو په کتابونو کښې د شفاعت لفظ د دعا په معنا ډېر استعمال شوے دے. د صحيح بخاري په دوو بابونو يعنې يو له امام څخه د مسلمانانو غوښتنه او بل له مسلمانانو څخه د مشرکانو غوښتنه بابونو کښې د شفاعت له لفظ څخه استفاده شوې ده:
۱- اذا استشفعوا الي الامام ليستسقی لهم لم يردهم يعنې هرکله چې خلقو له امام څخه د شفاعت غوښتنه وکړه چې د هغوي لپاره دې د باران طلب وکړي نو يکار نهٔ دي چې د هغوي غوښتنه رد کړي. ۲- اذا استشفع المشرکون بالمسلمين عند القحط. يعنې کله چې د مشرکانو يوه ډله د قحطۍ په موقع له مسلمانانو څخه د شفاعت غوښتنه وکړي....

۴- اسلمي د خدا ے له ګران رسول صلی الله عليه و آله وسلم څخه نقلوي چې کعبې ته يې په خطاب کښې وفرمايل: «له تا نه د احترام وړ بل اوچت ځيز نشته.په داسې حال کښې چې د خدا ے پاک په نزد د مومن حرمت له تا نه زيات دے.» (سنن ترمذي ۴ ټوک ۳۷۸ مخ، ب ۸۵ ص ۲۰۳۲)

۵- سورهٔ غافر (۴۰) له ۷ نه تر ۹ پورې ايتونه

۶- التفسيرالکبير ۷ ټوک ۳۲ مخ

عليه و آله وسلم[۱] او نور انبياء عليهم السلام له شافعانو څخه دي او خداے پاک د هغوي په شفاعت باندې امر کړے دے، فرښتې هم د خداے په اذن سره د شفاعت توان لري. نو بس شفاعت د مغفرت له طلب او دعا څخه زيات څۀ نۀ دي.

## د «حجر اسود» شفاعت

«حجر اسود» هم له شفاعت کوونکو څخه دے. حضرت امام علي عليه السلام فرمائي: دا کاڼے په هغه خبر کار باندې چې يې کوئ گواه وگرځوئ. ځکه چې د قيامت په ورځ کښې دا کاڼے يو شفاعت کوونکے دے، يو داسې شفاعت کوونکے چې د دۀ لپاره يوه ژبه او دوه شونډې دي او د هغه کس لپاره چې دا يې لمس کړے دے گواهي به ورکوي.» [۲] دا روايت ابو نعيم نقل کړے دے او ويلې يې دي: داسې حديث صحيح او ثابت دے چې حضرت علي عليه السلام فرمايلے دے.
عزيزي په خپله شرح کښې وائي: «اَشْهِدوا» يعنې دا تور کاڼے د هغۀ د ښکلولو، لمس کولو، دعا کولو او د خداے پاک د ذکر کولو په شان په خېر کارونو او اعمالو باندې چې د دغه کاڼي ترڅنگه يې تر سره کوئ گواه ونيسئ. دا چې په روايت کښې راغلي دي: «فَاِنّه شافِع» يعني شفاعت کوي د هغه کس په حقله چې هغه يې په خپلو نېکو اعمالو باندې گواه ونيوۀ، «مشفع» يعني د دغه کاڼي شفاعت قبليږي.[۳] په نتيجه کښې په دې روايت کښې گواه نيول له حجر اسود څخه د شفاعت غوښتلو په معنا دي. (په داسې حال کښې چې حجر اسود يو کاڼے دے او د شعور او خبرو قوت نۀ لري، د دې باوجود د هغۀ په گواه نيولو باندې گمارلې شوي يو، نو که دا عمل شرک وي نو د «اَشْهِدوا» د امر په واسطه يې شرک والے نۀ شي بدلېدې. ځکه چې حکم نۀ شي کولې چې د موضوع بدلوونکے شي. [۴] په هر حال د خبرې نتيجه دا شوه چې شفاعت او دوه له يوې واحدې مقولې څخه دي او داسې نۀ ده چې که يو کس شفاعت وکړي نو په خداے پاک باندې واجب ده چې هغه قبول کړي، بلکې د شفاعت منل او د دعا قبلول د هغۀ فضل، کرم او مهرباني ده.[۵]

---

[۱]-خداے پاک خپل گران پېغمبر صلی الله عليه و آله وسلم ته حکم ورکوي: وَاسْتَغْفِرْ لِذَنبِكَ وَلِلْمُؤْمِنِينَ وَالْمُؤْمِنَاتِ (سوره محمد ۱۹ ايت) او همدا رنگ حضرت نوح عليه السلام ته حکم ورکوي: رَبِّ اغْفِرْ لِي وَلِوَالِدَيَّ وَلِمَن دَخَلَ بَيْتِيَ مُؤْمِنًا وَلِلْمُؤْمِنِينَ وَالْمُؤْمِنَاتِ (سورۀ نوح ۲۸)

[۲]- کنزالعمال ۱۲ ټوک ۲۱۷ مخ، حديث ۳۴۷۳۹، جامع الصغير سيوطي ۲۲۵ مخ.
[۳]- فېض القدير ۱ ټوک ۵۸۷ مخ.
[۴]- هغه څه چې په فقه او اصولو کښې ثابت شوي دي دا دي چې حکم د موضوع په مدار کښې دائره موضوع وي نو حکم راځي او که موضوع نۀ وي نو حکم اصلاً نۀ راځي او حکم له موضوع سره نۀ اثباتاً او نۀ نفياً هيڅ رول نۀ لري.
[۵]- د حکماؤ په تعبير واجب علی الله نۀ دے بلکې واجب عن الله دے. د خبرې لنډيز دا دے چې د واجب الله لازمه د خداے پاک مجبوروالے دے خو واجب عن الله په دې معنا دے چې هر کله د خداے پاک بې سارے ذات په بشپړه توگه کمالات لرونکے دے، نو ځکه فېض تل د خداے پاک له ذات څخه صادرېږي. «يا دائم الفضل علی البريه» واجب عن الله دے او په نتيجه کښې يې جبر نۀ رامنځته کيږي. د لا زيات تفصيل لپاره د ايت الله جوادي آملي د «ولايت فقيه» کتاب (انتشارا اسراء) ۵۹ او ۲۰ مخونو ته مراجعه وکړئ.

## د مړيو شفاعت:

مړي هم له شافعانو څخه دي. ابن تېميه وائي له مړيو نه د شفاعت سوال کول بدعت دے، او ابن عبدالوهاب او صنعاني وائي داسې شفاعت کفر او شرک دے. ابن تېميه وائي: له پېغمبرانو او صالحانو وغېره نه د شفاعت د غوښتلو په حقله زمونږ لپاره څه داسې اجازت ليک نۀ دے صادر شوے چې مړي ته ووايو: «ادع لنا» (زمونږ لپاره دعا وکړئ.)، «اسال لنا ربک» (زمونږ لپاره له خدا ے نه سوال وکړه) په دې لړ کښې له اصحابو او تابعينو [1] څخه له هيڅ کس نه څه نقل شوي نه دي او په څلورو واړو امامانو[2] کښې هيڅ يو مونږ ته د داسې چارې څه حکم نۀ دے کړے او په دې حقله څه حديث هم نۀ دے راغلے.

ځواب: که له مړيو څخه د شفاعت د غوښتنې منعې او حراموالے په دې وجه وي چې اصلاً مړي ته خطاب کول، فرضاً چې انسان له مرګ نه پس نابوديږي، ناممکن دے نو وبه وايو چې د خدا ے ګران رسول صلی الله عليه و آله وسلم او نور پېغمبران عليهم السلام له وفات نه پس ژوندي دي او د ژوندو انسانانو خبرې اوري او ځواب يې هم ورکوي او د هغو کسانو درود او سلام چې ورباندې درود وائي هغوي ته رسيږي او د پېغمبر علم د هغۀ له وفات نه پس د هغۀ د ژوند په دوران کښې د هغۀ د علم په شان دے او د امت ټول اعمال ورته وړاندې کيږي او هغه د هغوي د ګناهونو د بخښنې لپاره دعا کوي او دا هغه څيز دے چې عالمان او متکلمان ورباندې تاکيد لري او له داسې يو څيز نه انکار د هيڅ چا لپاره امکان نۀ لري. سمهودي [3] وائي: د

---

[1]- په عامه توګه دا ډول کلمات په دغه کتاب کښې موندل کيږي چې د څو موضوعاتو وضاحت به پکښې وکړو: الف: «صحابه» (صاد او د هغۀ په فتح سره) د صاحب جمع او د ملګري په معنا او د حديث د علم د فن په اصطلاح کښې هغه کس ته ويل کيږي چې د مسلمانۍ په حال کښې يې د خدا ے ګران رسول صلی الله عليه و آله وسلم ليدلے وي. ابن حجر په الاصابه کتاب کښې وائي: «الصحابي من لقی النبي صلی الله عليه و آله وسلم مؤمنا به و مات علي الايمان»

د خدا ے د ګران رسول صلی الله عليه و آله وسلم د رحلت په وخت د صحابه ؤ شمېر يو لک څوارلس زره ؤ چې له هغوي څه تقريباً يو لک کسانو له هغه حضرت نه احاديث اورېدلي دي او تر ټولو وروستے صحابي چې وفات شو ابو طفيل عامر بن وائله ؤ چې په ۱۱۰ هجري کښې وفات شو. يو شمېر عالمانو او پوهانو د صحابانود ژوند حال ځانته په مستقله توګه يا د يوې مجموعې په ترڅ کښې تدوين کړے دے. لکه ۱- الاستيعاب فی اسماء الصحابه ليک عبدالبر قرطبي (وفات ۲۲۳ هـ) ۲- اسدالغابه فی معرفه الصحابه، ليک ابن اثير (وفات ۲۳۰) ۳- الاصابه فی تميز الصحابه، ليک ابن حجر عسقلاني (وفات ۸۵۲) ۴- طبقات ابن سعد.

ب- تابعين د تابعي جمع ده او هغه کس ته وائي چې خپله يې د خدا ے ګران رسول صلی الله عليه و آله وسلم نه وي ليدلے خو دهغه حضرت اصحاب يې د ايمان په حالت کښې ليدلي وي. او که يو کس هيڅ يو صحابي د اسلام په حال کښې نه وي ليدلے خو تابعين يې ليدلي وي نو هغۀ ته تبع تابعين وائي. د تابعينو او تبع تابعينو مرتبې مختلفې دي. ابن حجر عسقلاني په تقريب التهذيب کښې وائي: ۱- کبار تابعين: (لکه سعيد بن مسيب) ۲- مېنځنۍ طبقه: لکه حسن بصري او ابن سيرين، ۳- کبار تبع تابعين (لکه مالک بن انس او سفيان ثوري) ۴- د اتباعو مېنځنۍ طبقه: (لکه ابن عېنيه او ابن عليه) له هغو کسانو څخه چې تابعين يې نۀ دي ليدلي او له اتباع څخه يې حديثونه نقل کړي دي احمد بن حنبل دے

[2]- ابو حنيفه، احمد بن حنبل، شافعي، مالک

[3]- نورالدين علي احمد چې په سمهودي باندې مشهور دے، د مدينې اوسېدونکے او د دغه ښار عالم، مفتي، مدرس او مورخ ؤ مذهب يې شافعي او دخلقو مشر ؤ. د ۸۴۴ کال په صفره کښې وزېږېد او زياتو خلقو ترې نه په حرمېن شريفېن کښې علمي استفاده وکړه، هغه يو شمېر تاليفات لري. سخاوي وائي:د مدينې داسې کمتر کس به وي چې د هغۀ له علم نه يې استفاده نۀ وي

خدا ے د ګران رسول صلی الله علیه و آله وسلم له رحلت نه پس د هغهٔ په روحاني ژوند کښې څه شک نشته او همدارنګ نور پېغمبران هم په خپلو قبرونو کښې ژوندي دي او د هغوي حیات او ژوند د هغو شیهدانو [1] له ژوند څخه چې خدا ے پاک یې خبر ورکړے د ے زیات کامل د ے. له بلې خوا زمونږ قدرمن پېغمبر حضرت محمد مصطفی صلی الله علیه و آله وسلم د شهیدانو سرور او سردار د ے او د شهیدانو اعمال د هغه حضرت د اعمالو په تله باندې تللې شي. د خدا ے ګران رسول صلی الله علیه و آله وسلم فرمایلي دي: « زما علم زما له وفات نه پس په دنیا کښې زما د ژوند د علم په شان د ے » حافظ [2] منذري دا مبارک حدیث روایت کړ ے د ے.

ابن عدي په خپل کامل کتاب کښې له ثابت نه او هغهٔ هم له انس نه نقل کړي دي: د خدا ے ګران رسول صلی الله علیه و آله وسلم وفرمایل: « انبیاء په قبرونو کښې ژوندي دي او نمونځ ادا کوي. » همدا روایت ابویعلی په موثق سند سره نقل کړ ے د ے، بېهقي د روایت له نقلولو نه پس هغه صحیح ګڼلے د ے. [3] د پېغمبرانو علیهم السلام له وفات نه پس د هغوي د ژوندي والي لپاره له صحیح حدیثونو [4] یو لړ شواهد وجود لري او د خدا ے د ګران رسول صلی الله علیه و آله وسلم دا مبارک حدیث نقلوي چې ( هغه حضرت چې کله معراج ته لاړ ) وې فرمایل: له موسی علیه السلام نه تېر شوم په داسې حال کښې چې هغه په خپل قبر کښې ولاړ په نمانځهٔ کښې مشغول ؤ. بیا هغه حدیثونه چې د خدا ے ګران رسول صلی الله علیه و آله وسلم له نورو انبیاؤ علیهم السلام سره ملاقات کوي او هغوي ته یې د جَمعې نمونځ ورکړ، بیانوي. د خدا ے ګران رسول صلی الله علیه و آله وسلم وفرمایل: د جمعې په ورځ په ما باندې زیات درود لېږئ ځکه چې هغه درودونه د فرښتو په نظر کښې وي او هغوي د دغو درودونو کتونکې وي، او څوک نشته چې په ما باندې درود ولېږي مګر هغه څوک چې له درود ویلو نه فارغ شي نو هغه درود ما ته رسولے کیږي. ابي الدردا وائي: د خدا ے ګران رسول صلی الله علیه و آله وسلم ته مې عرض وکړ چې ستاسو له وفات نه پس به څنګه وي؟ وفرمایل: له وفات نه پس خدا ے پاک په زمکه باندې حرام کړ چې د انبیاؤ علیهم السلام بدنونه ختم کړي. د خدا ے پاک پېغمبر ژوند ے وي او د هغهٔ په نزد ورته روزي ورکړې کیږي.

بزار په صحیح سند سره له ابن مسعود او هغه له پېغمبر اکرم صلی الله علیه و آله وسلم نه نقلوي چې وې فرمایل: « بې له شکه چې د خدا ے لپاره په نړۍ کښې ګرځېدونکې فرښتې دي چې د امت ( خبرونه ) ما ته

---

کړې. هغه امام، د فن خاوند ، په فقه کښې ځانګړ ے او تل به په علم او تالیف کښې مشغول ؤ. هغه د عبادت ، بحث او مناظرو خاوند او زیات زغم او صبر لرونکے ؤ. فصیح العباره، او د یقین قوت لرونکے او تر خپله حده یو ځانګړ ے کس ؤ. په ۹۱۱ هـ کال کښې وفات شو. په دې حقله شذرات الذهب ابن عماد حنبلي ۸ ټوک ۵۲ مخ او الضوء اللامع، لیک محمد بن عبدالرحمن السخاوي ۵ ټوک ۲۴۵ مخ ته مراجعه وکړئ.

[1] -وَلاَ تَقُولُواْ لِمَنْ يُقْتَلُ فِي سَبيلِ اللّهِ أَمْوَاتٌ بَلْ أَحْيَاء وَلَكِن لاَّ تَشْعُرُونَ

[2] - حافظ چې جمع یې حفاظ ده هغه کس ته ویل کیږي چې پکار دي د خدا ے د ګران رسول صلی الله علیه و آله وسلم له سنتو څخه خبر وي او یو لک مبارک حدیثونه یې سره له سندونو یاد وي.

[3] - وفاء الوفاء ۴ ټوک ۱۳۴۹ مخ

[4] - د امامیه په نزد صحیح حدیثونه هغه دي چې د سند سلسله یې د موثقو او امامي مذهب رجالو په ذریعې سره یو معصوم ته ورسي.

رارسوي. )) همدا رنګ د خدا ے ګران رسول صلی الله علیه و آله وسلم وفرمایل: زما ( دنیوي ) ژوند ستاسو لپاره خیر د ے ځکه چې تاسو له ما سره خبرې کوئ او زۀ له تاسو سره خبرې کوم او زما وفات ستاسو لپاره خیر د ے ، ( ځکه چې ) ستاسو اعمال ما ته وړاندې کیږي نو په نتیجه کښې هر هغه څه چې خیر مې لیدلي وي په هغۀ باندې د خدا ے پاک حمد وایم او هرهغه چې ستاسو په اعمالو کښې مې شر لیدلي وي نو ستاسو لپاره د مغفرت غوښتنه کوم.))

ابو منصور بغدادي وائي: زمونږ ګران پېغمبر صلی الله علیه و آله وسلم له خپل وفات نه پس ژوند ے د ے او په هغو طاعتونو باندې چې امت یې کوي خوشحالیږي. د انبیاء علیهم السلام بدنونه نۀ ورستیږي. بیهقي په الاعتقاد کتاب کښې لیکي:[1] د خدا ے پېغمبران علیهم السلام پس له دې چې روحونه یې قبض شي نو ارواګانې یې بیا واپس راځي او هغوي د شهیدانو په شان د خدا ے پاک په نزد ژوندي دي او زمونږ قدرمن پېغمبر صلی الله علیه و آله وسلم د معراج په شپه د انبیاو علیهم السلام یوه ډله ولیده. زۀ یوازېنے کس وم چې د پېغمبرانو علیهم السلام له وفات نه پس د هغوي د ژوندانۀ د اثبات لپاره مې کتاب لیکلے د ے.

سمهودي له ذکر شویو خبرو نه علاوه له هغۀ څخه داسې وائي: د پېغمبرانو علیهم السلام له وفات نه پس د هغۀ حیات د خدا ے دګران رسول صلی الله علیه و آله وسلم په دې مبارک حدیث سره ثابتیږي چې: (( حضرت عیسی علیه السلام به په مدینه کښې د حج یا عمرې لپاره تلۀ او که په ما به یې سلام کوۀ نو ما هم ورته خا مخا د سلام ځواب ورکوۀ.))

## د پېغمبرانو علیهم السلام د ژوندون دلائل

د دغو دلائلو مطابق د پېغمبرانو علیهم السلام د بدنونو ژوند د دنیا د حالت په شان د ے، خو له خوراک څښاک نه بې نیازه، هغوي داسې قدرت لري چې په دې عالم کښې د نفوذ توان لري او مونږ دا مسئله په الوفاء لما یجب لحضره المصطفی کتاب [2] کښې بیان کړې ده. او قسطلاني وائي: په دې کښې شک نشته چې د پېغمبرانو علیهم السلام حیات او ژوندون ثابت او معلوم د ے او زمونږ پېغمبر اکرم صلی الله علیه و آله وسلم له نورو انبیاؤ علیهم السلام نه افضل د ے، نو ځکه به یې ژوند ے والے هم له نورو نه زیات کامل وي. [3] نو په دې بنیاد د دغو ټولو عالمانو او محققانو د څرګندونو او دلائلو او په سني کتابونو کښې له دغو ټولو صحیح روایتونو نه پس د ابن تیمیه او د هغۀ د پیروکارو لپاره څه ځا ے باقي نۀ پاتے کیږي.

ایا دا خبره امکان لري چې ووایو چې د خدا ے له ګران رسول صلی الله علیه و آله وسلم نه د شفاعت او دعا غوښتنه بدعت ، کفر یا شرک د ے؟ یوازې پکار دي دا وویلې شي چې په هغوي باندې فرض دي چې خپلو

---

[1]- د خدا ے له ګران رسول صلی الله علیه و آله وسلم نه په یو روایت کښې راغلي دي چې له موسی علیه السلام سره تېر شوم په داسې حال کښې چې په خپل قبر کښې په نمانځۀ باندې مشغول ؤ. پکار دي ووایو چې د حضرت موسی علیه السلام قبر د مدینې او بیت المقدس ترمېنځ په مدین سیمه کښې شتون لري. سیر اعلام النبلا، ۱۲ ټوک ۹۹ مخ، صحیح مسلم ۲ ټوک ۲۳۸۵ مخ، سنن نسائي ۳ ټوک ۲۱۲ مخ، مسند احمد بن حنبل ۳ ټوک ۱۴۸ مخ.

[2]- وفاء الوفاء ۴ ټوک ۱۳۴۹ مخ.

[3]-المواهب اللدنیه ۳ ټوک ۴۱۳ مخ.

خبرو ته دې يو ځل بيا كتنه وكړي او په حديثونو او د محققينو په كلماتو كښې دې لټون وكړي چې په دې پوه شي چې هغه خبرې په ژبه يې راوړي دي او يا يې قلم ته سپارلي دي د علم او تحقيق له دائرې نه ډېرې لرې دي او هغه رائې يې چې په دې حقله وركړي دي د هغوي له خپلو قبول وړ اصولو او قوانينو څخه د هغوي د معلوماتو په كمي باندې دلالت كوي. [1]

## له مرګ نه پس د ژوند په حقله د عالمانو نظريات

۱- ابوبكر عربي په الامد الاقصى فى تفسيرالاسماء الحسنى كتاب كښې ليكي: بې له شكه په قبر كښې د ټولو مكلفينو د ژوندي كېدو او ترې نه د سوال ځواب اخېستلو په حقله د اهل سنت ترمېنځ هيڅ اختلاف نشته.[2]

۲- سېف الدين آمُدي [3] په ابكار الافكار كښې ليكلي دي: « د اسلامي امت تېرو كسانو له دې مخكښې چې په دې حقله مخالفت پېدا شي په قبر كښې د مكلفينو په ژوندي والي باندې اتفاق لرۀ او حتى د مخالفت له څرګندېدو نه وروسته هم زياترو خلقو په قبر كښې د مړيو په ژوندي والي باندې عقيده لرله. »[1]

---

[1]- د دا قسم خبرې له داسې قسم انسانانو څخه څه لرې خبره نه ده ځكه چې دوي د پاكو او پاكيزه اهلبېتو عليهم السلام له قافلې څخه وروستو پاتې دي چې د خداے د ګران رسول صلى الله عليه و آله وسلم په وصيت يې عمل ونۀ كړ او « ثقل اصغر » يې پرېښودے دے او د كج فهمۍ په داسې ګرداب كښې ګېر شوي دي. دوي د دولسو امامانو له تعليماتو نه وروستو پاتې شوي دي نو ځكه يې له يو داسې قراني اصل ( شفاعت ) نه انكار كړے دے او داسې غلطې خبرې يې كړي دي. كَبُرَتْ كَلِمَةً تَخْرُجُ مِنْ أَفْوَاهِهِمْ إِن يَقُولُونَ إِلَّا كَذِبًا ( سورۀ كهف ايت ۵ ) د مثال په توګه رشيد رضا په تفسيرالمنار كښې په داسې يو ګرداب كښې ګرفتار شوے دے. هغه د خپل تفسير د ۱ ټوك په ۳۰۷ مخ كښې ليكي: « هغه څه چې عقل ورباندې دلالت كوي د شفاعت امكان دے او نور د هغۀ د واقع كېدو خبره نۀ كوي او د قراني ايتونو څخه څه څرګنده نتيجه نۀ شو اخېستې ځكه چې ځينې ايتونه د شفاعت نفي كوي او ځينې يې هم اثباتوي.د شفاعت ځينې ايتونه له ځينو قېدونو سره مقيد دي او يو شمېر نور مطلق راغلي دي نو د داسې اختلاف نتيجه دا شوه چې د شفاعت ايتونه له متاشبهاتو څخه ګڼل كيږي چې علم يې د هغو اهلو ته سپارل پكار دي. نو بس د شفاعت په واقع كېدو باندې نۀ عقلي دليل دلالت لري او نۀ يې په امكان باندې څه نقلي دليل. »

ځواب: كه يو كس د قران مجيد د تفسير دعوا كوي نو وړومبې پكار دي ذهن د جهالت له تعصباتو نه پاک كړي او خپل نظر په قران شريف باندې و نۀ تپي او د يو ازاد نر په شان پكار دي تفكر ولري. بله دا كه د تشابه مدعي وي نو پكار دي د قران شريف متاشبهات دې محكماتو ته چې ام الكتاب دي ارجاع كړي او فرع دې اصل ته او ماشوم دې مور ته وسپاري. د قران شريف دا اصول نۀ دي چې متاشبه او نۀ تفسيريدونكي مبارک ايتونه دې مونږ ته وړاندې كړي بلكې ټول قران شريف د تفسير، شننې او استدلال وړ دے، اوس نو ځينې بغېر له واسطې نه د تفسير وړ دي، ( لكه محكمات ) او ځينې نور په واسطې سره ( لكه متاشبهات ) نو هغه څه چې په خبير مفسر باندې لازمي كيږي په مباركو ايتونو كښې پوره او ژور تدبر ، د متاشبهو او محكمو ايتونو پېژندل، او ام الكتاب ته د متاشبهو د سپارلو كېفيت دے. نو په داسې صورت كښې د دوي د قول مطابق كه د شفاعت مبارک ايتونه متاشبه دي او ابهام لري ، روښانه او واضح كيږي.

[2]- شفاالسقام ۲۰۴ مخ

[3]- سېف الدين آمُدي په ۵۵۴ هـ كال كښې په آمُد سيمه كښې چې د اوسنۍ تركيې په جنوب ختيځ كښې د ديار بكر برخه ده وزېږېد. د هغۀ مور پلار حنبلي مذهبه وو او د هغۀ هم په دغه كورنۍ كښې پالنه وشوه. بيا وروسته له آمُد نه بغداد ته راغے، او له ابوالفتح حنبلي څخه يې د علم په زدكړه لاس پورې كړ او بيا يې شافعي مذهب قبول كړ. د اوچتو زدكړو له حاصلولو نه پس شام ته

سبکي وائي: ((سنيان په قبر کښې د ژوندون په اثبات باندې د نظر اتفاق لري. امام الحرمېن [2] په الشامل کښې ليکي: (( د امت تېر کسان د قبر په عذاب، په خپلو قبرونو کښې د مړدګانو په ژوندي کېدو او د هغوي د ارواګانو په راواپس کېدو باندې د نظر اتفاق لري )) سبکي د دغو اقوالو له نقلولو نه پس زياتوي: (( روح بدن ته واپس راځي او ( په قبر کښې ) د سوال ( او ځواب ) په وخت ژوند او ژوندے کيږي ( او که نېک اعمال يې لرل نو ) د خدا ے پاک نعمتونه يې په برخه کيږي او ( که بد اعمال يې لرل نو ) د خدا ے عذاب به يې په برخه کيږي، له هغه وخت نه د قيامت تر ورځې پورې. )) [3]

۴-ابن تيميه په اقتضاء الصراط المستقيم کښې وائي: بې شکه چې شهيدان او حتی ټول مومنان چې کله يې يومسلمان قبر ته حاضريږي او ورته سلام کوي نو هغه يې پېژني او دسلام ځواب ورته ورکوي. سمهودي وائي: هر کله چې د عامه مومنانو وګړو په حقله داسې څيز وجود لري نو بيا څنګه د سيد المرسلين حضرت محمد مصطفی صلی الله عليه و آله وسلم په حقله دې داسې څيز وجود و نهٔ لري؟ [4]

۵- غزالي ليکي (( :محمد بن واسع به تل د جُمعې په ورځ د قبرونو زيارت ته تلهٔ، هغهٔ ته وويل شوچې د ايتوار ورځې ته دې د قبرونو زيارت ته تلهٔ وځنډوه نو هغهٔ وويل: ما ته داسې رارسېدلي دي چې مړي خپل

---

لاړ او په معقولو زدکړو يې لاس پورې کړ، له علم سره مينې هغه مصر ته راکاږهٔ چې هلته ورسره د يوې ډلې حسد پېدا شو نو په دې وجه يې د هغهٔ په حقله غلطې پروپېګنډې شروع شوې، ان تردې چې په الحاد او د عقيدې په فساد باندې يې تورن کړ او د هغهٔ قتل يې روا وبالهٔ. سېف الدين آمُدي بې له دې بله چاره نهٔ ليده چې له مصر نه دمشق ته لاړ شي. دمشق ته له رسېدو وروسته په عزيزيه مدرسه کښې د مدرس په توګه غوره شو. دغلته هم يوه ډله يې مخالفت ته راپاڅېده. نو بالاخره په کور کښې کښېناست او بيا څه موده پس په ۲۲۱ کال کښې وفات شو او په قاسيون غرهٔ کښې خاورو ته وسپارلے شو. له هغهٔ نه پاتې آثار په دا ډول دي: ۱- الاحکام فی اصول الاحکام، ۲- منتهی السئول فی علم الاصول او ۳- غايت المرام فی علم الکلام. دا کلامي کتاب د اشاعره د افکارو په بنياد تدوين شوے دے او په دغه کتاب کښې يې ابکارالافکار نومې خپل يو بل کتاب ځاے کړے دے. دهٔ په دغه کتاب کښې د شيعه عقائدو کره کتنه کړې ده خو يو شيعه کتاب يې نهٔ دے لوستے او د هغوي عقائد يې د هغوي له مخالفانو نه اخېستي دي.

[1]- وفاء الوفاء ۴ ټوک ۱۳۵۱ مخ.

[2]- امام الحرمېن چې نوم يې عبدالملک دے او د ابي محمد عبدالله جويني زوے دے. ابن خلکان د دهٔ په باره کښې وائي: د متاخرينو ترمنځ هغه تر ټولو پوه کس او د شافعي له پېروکارو څخه ؤ. هغهٔ په مکه کښې څلور کاله تېر کړل، په مدينه کښې يې هم تدريس کوهٔ او فتوې به يې ورکولې او په دغو دواړو ښارونو کښې د اقامت په وجه د امام الحرمېن په لقب باندې مشهور شو. دهٔ په ځوانۍ کښې له خپل پلار شېخ عبدالله څخه چې شافعي فقيه ؤ علمي زدکړه وکړه او د پلار له وفات نه پس په ۴۳۸ کال کښې د بيهق مدرسې ته لاړ او هلته له شېخ ابوالقاسم اسفرايني او نورو عالمانو څخه د علم په تکميل مشغول شو. ۱- الارشاد، ۲- الرساله النظاميه فی الاحکام الاسلاميه او ۳- الشامل فی اصول الدين وغېره... د هغهٔ له اثارو څخه دي. د هغهٔ له کلامي کتابونو څخه استفاده کيږي چې د دريو اشعري استادانو تر تاثير لاندې ؤ. هغه بالاخره د ۴۷۸ کال کښې په خپل کور کښې وفات شو او هم هلته کښې خاورو ته وسپارلے شو او څه موده پس مقبره الحسېن ته منتقل کړے شو او د خپل پلار ترڅنګه دفن شو.

[3]- وفاء الوفاء ۴ ټوک ۱۴۱۲ مخ.

[4]- وفاء الوفا ۴ ټوک ۱۳۵۱ مخ.

زيارت کوونکي د جُمعې په ورځ، له هغې نه يوه ورځ مخکښې ( د زيارت په ورځ ) او له هغې نه يوه ورځ پس ( د خالي په ورځ ) پېژني.)) [1]

۲- شېخ منصور له مرګ نه پس د ژوندي کېدو په حقله له ابن عباس نه يو حديث راوړي چې د خدا ے ګران رسول صلی الله عليه و آله وسلم د مديني له قبرونو سره تېرېدۀ نو خپل مخ مبارک يې د قبرونو لور ته وګرځوۀ او وې فرمايل: السلام عليکم ا ے د قبرونو خاوندانو!، خدا ے پاک دې تاسو او مونږ وبخښي. تاسو له مونږ نه مخکښې شوئ او مونږ په تاسو پسې يو. )) دا حديث ترمذي [2] په حسن سند سره نقل کړ ے د ے. د دغه حديث په شرح کښې وائي. د قبرونو زيارت کوونکي لپاره مستحب دي چې ووائي: السلام عليکم يا اهل القبور او د مړي او ځان لپاره دې دعا وکړي. او تاکيد شو ے د ے چې د مړي لپاره دې سورۀ اخلاص ولوستے شي، ځکه چې دغه سورت د دعا د قبلېدو کنجي ده. له بلې خوا له مړيو څخه د سلام طلب د دې بيانوونکے د ے چې هغوي شعور او درک لري. او چې هر کله مرګ بېخي عدم نۀ د ے بلکې له يو منزل نه بل منزل ( اخېرت ) ته د منتقلېدو نوم د ے، نو که د انسان بدن وروست شي نو هم روح يې هم هغه شان باقي پاتې وي او په کامله توګه د قيامت تر ورځې پورې د خدا ے پاک لخوا رحمت يا عذاب احساسوي. [3]

د خدا ے د ګران رسول صلی الله عليه و آله وسلم د دې وېنا په شرح کښې (( مګر دا چې خدا ے پاک زما روح ما ته واپس راوګرځوي. )) [4] يې وويل. يعنې زما خبره کول يا زما افاقه د ملکوت په حالاتو کښې له ډوبېدو څخه دي ګڼي هسې پېغمبران عليهم السلام په خپلو قبرونو کښې ژوندي دي لکه چې د جمعې په باب کښې همدا خبره وشوه.

هغه په باب الجمعه کښې د پېغمبراکرم صلی الله عليه و آله وسلم حديث له اوس بن اوس څخه نقلوي : (( په تحقيق سره ترټولو زيات فضيلت لرونکې ورځ د جُمعې ورځ ده چې په دغه ورځ آدم عليه السلام خلق شو، او

---

[1]- وفاء الوفاء ۴ ټوک ۱۴۱۲ مخ، ابو حامد محمد بن محمد چې په غزالي باندې مشهور د ے د اشاعره له سترو عالمانو څخه د ے. هغه يوه موده د نظام الملک لخوا د بغداد په نظاميه مدرسه کښې په تدريس باندې بوخت ؤ او له څلور کالو له تدريس نه پس يې په ۵۸۸ کال کښې د تدريس پېشه پرېښوده او حجاز ته لاړ. له حج کولو نه پس دمشق ته راستون شو او لس کاله يې هلته اقامت ولرۀ. بالاخره بيا طوس ته راغے او بې له تاليف ، عبادت او د قران شريف له تلاوت نه په بل کار باندې بوخت نۀ شو. د نظام الملک په اصرار يې يوه موده د نيشابورپه نظاميه کښې تدريس ورکړ. خو دغه کار يې پرېښود او په خپل وطن کښې اباد شو او د صوفيانو لپاره يې يوه خانقاه او د علم د طالبانو لپاره يې يوه مدرسه جوړه کړه او بالاخره په ۵۰۵ کال کښې وفات شو. ( ذهبي په سيراعلام النبلاء کتاب کښې د ۱۹ ټوک په ۳۲۸ مخ کښې له هغۀ څخه په غدير خم کښې د حديث مبارک (( من کنت مولاه .....)) په حقله يو ډېر مهم مطلب نقلوي چې د مراجعه کولو او کتلو لائق د ے. )

[2]- ابو عيسی محمد بن عيسی بن سوره ( سوره، په سين فتحې او واو ساکن سره ) په ۲۰۰ يا ۲۰۹ کال کښې د ترمذ په شپږ فرسنګي کښې په (( بوغ )) کلي کښې وزېږېد او د بخاري او نورو مشائخو شاګردي يې وکړه او خراسان، عراق ، حجازاو نورو ښارونو ته يې سفرونه وکړل. ترمذي له جامع يا سنن کتاب نه علاوه علل کتاب او شمائل النبي کتاب هم تاليف کړ. هغه په دې وجه چې د حديثونو له حافظانو مشاهيرو څخه ؤ په سترګو معذوره ؤ. جامع يا سنن ترمذي له پنځو زرو نه زيات حديثونه لري او د حديثونو تکرار او دوباره والے پکښې کم د ے. دې بالاخره د ۲۷۹ کال په بزرګې مياشت کښې وفات شو.

[3]- التاج الجامع الاصول ۱ ټوک ۳۸۱ مخ.

[4]- التاج الجامع للاصول ۱ ټوک ۲۹۱ مخ.

په دغه ورځ له دنيا لاړ او همدغه ورځ د نفخې ورځ ده او په همدغه ورځ صاعقه ده[1]، نو بس په دغه ورځ په ما باندې زيات درود ولېږئ ځکه چې ستاسو درودونه ما ته وړاندې کولې شي. » پوښتنه ترې وشوه چې يا رسول الله صلى الله عليه و آله وسلم! زمونږ درودونه څنګه تاسو ته وړاندې کولې شي په داسې حال کښې چې ستاسو بدن په وروست شوے وي؟ د خدا ے ګران رسول صلى الله عليه و آله وسلم وفرمايل: « خدا ے پاک د پېغمبرانو اجساد په زمکه باندې حرام کړي دي. » ابوداود [2] او نسائي [3] دا روايت په صحيح سندونو سره نقل کړے دے. د التاج الجامع للاصول خاوند د دې حديث په شرح کښې ليکي. « د خدا ے په امر هغه درود چې په پېغمبر اکرم صلى الله عليه و آله وسلم باندې لېږل کيږي هغه حضرت خپله اوري او د هغه درود په وجه خوشحالېږي، ځکه چې هغه حضرت په خپل قبر مبارک کښې ژوندے دے او له هغو خلقو څخه چې درود وربادندې استوي خوشحالېږي. نو بس د جمعې په ورځ د هغه حضرت د درجاتو لوړ مقام ته په رسېدو نور کسان هم په خپل نوبت د درجاتو په اوچتېدو کښې خپله ونډه لري. خو له جمعې نه بغېر په بله ورځ باندې درود هغه حضرت ته لېږل کيږي او د مخصوصو فرښتو په ذريعه ورته رسول کيږي. لکه څنګه چې د امت اعمال د زيارت په ورځ د فرښتو په ذريعه هغه حضرت ته رسول کيږي. [4]

عبدالله بن ابي اوفي د خدا ے له ګران رسول صلى الله عليه و آله وسلم نه نقلوي: د جمعې په ورځ په ما باندې زيات درود ولېږئ ځکه چې ستاسو درود ما ته رارسيږي او زۀ يې اورم. » شافعي او ابن ماجه دا حديث نقل کړے دے.[5] له بيان شويو مطالبو نه علاوه د برزخ په عالم کښې د ورح ادراکات له هغو ادراکاتو څخه چې په

---

[1]- وَنُفِخَ فِي الصُّورِ فَصَعِقَ مَن فِي السَّمَاوَاتِ وَمَن فِي الْأَرْضِ إِلَّا مَن شَاءَ اللَّهُ ( سوره زمر ۶۸ ايت )

[2]- ابو داود ، سليمان بن اشعث بن اسحاق سجستاني په ۲۰۲ کال کښې زېږېدلے ؤ او د حديثونو د اورېدو او اخېستو لپاره يې خراسان، شام او حجاز ته سفرونه وکړل او بالاخره په بصره کښې يې سکونت اختيار کړ او په ۲۷۵ کال کښې وفات شو. ترمذي، نسائي او ابو عوانه اشفرائني له دۀ څخه حديثونه اورېدلي دي. ابوداود له خپلو مسموعاتو څخه خپل کتاب سنن د يو شمېر ثقاتو او د احمد بن حنبل نظر ته ورسوۀ . احمد بن حنبل يې په ښۀ ډول ستائېنه وکړه. هغه وائي پنځۀ سوه حديث مې وليکل. بخاري او مسلم د دۀ له استادانو څخه دي..

[3]- ابو عبدالرحمن احمد بن شعبب چې په نسائي باندې مشهور دے په ۲۱۴ يا ۲۱۵ کال کښې د خراسان په يو ښار نساء کښې وزېږېد او د حديثونو د زدکړې لپاره يې خراسان، حجاز، عراق، مصر او شام وغېره ته سفرونه وکړل. بيا يې په مصر کښې سکونت اختيار کړ. ويل کيږي په خپل اخېري عمر کښې له شام نه مصر ته راغے. او چې کله ترې نه د معاويه په فضيلت کښې حديث وغوښتے شو نو وې ويل: د خداے د ګران رسول صلى الله عليه و آله وسلم له يو حديث نه بغېر چې يې وفرمايل: خداے دې د معاويه ګېډه چرې مړه نۀ کړي. » بل څه راته د هغۀ په فضيلت کښې نه دي معلوم. په دې خبره يې دې په لغتو لغتو له جومات نه وويست او چې کله له دغو ګوزارونو نه بيمار شو نو د فلسطين يو ښار رملې ته يې هجرت وکړ او هم هلته د هم دغې بيمارۍ په وجه وفات شو. دۀ ته خلقو د شيعه توب نسبت هم ورکړے ؤ ځکه چې په خپل خصائص نومې کتاب کښې يې د اميرالمومنين علي عليه السلام فضائل راوړي دي. خو هغه خپله د دغه کتاب د تاليف په حقله وائي چې کله مې د دغه وخت خلق له حضرت علي عليه السلام نه منحرف وليدل نو ځکه مې دغه کتاب تاليف کړ. د دۀ د وفات تاريخ ۳۰۳ کال ؤ.

[4]- التاج الجامع للاصول ۱ ټوک ۲۹۲ مخ.

[5]-محمد بن زېد بن ماجه قزويني چې په ابن ماجه مشهور دے په ۲۰۹ يا ۲۰۷ کال کښې وزېږېد او بصرې، بغداد ، مکې ، شام او مصر ته يې سفرونه وکړل. دې په ۲۷۳ کال کښې وفات شو. د قران شريف تفسير او د قزوين تاريخ نومې کتابونه د دۀ تاليفاتو څخه دي.

دنیا کښې یې لرل لا زیات مضبوطیږي لکه خداے پاک فرمائي: لَقَدْ كُنتَ فِي غَفْلَةٍ مِّنْ هَذَا فَكَشَفْنَا عَنكَ غِطَاءكَ فَبَصَرُكَ الْيَوْمَ حَدِيدٌ [1] ‹‹ ته له دې ځاے څخه غافل وې او مونږ ستا له سترګو نه پرده لرې کړه او نن دې سترګې په کامله توګه تېز کتونکې دي. ››

پوښتنه [2]: د خداے د ګران رسول صلی الله علیه و آله وسلم دا حدیث [1] چې فرمائي: ‹‹ خداے پاک د هغهٔ سلام زما له روح سره راستنوي چې زهٔ یې ځواب ورکړم. ›› [2] دا دلالت کوي چې له مرګ نه پس د ژوند دوام نشته ( ځکه چې وې فرمایل: چې روح راته راستنوي نو معلومه شوه چې روح نهٔ ؤ او بیا یې ورته راستون کړ. )

---

[1]- سروۀ ق ( ۵۰ ) ۲۲ ایت

[2]- له هغو مسائلو څخه چې په قران شریف او هم مبارکو حدیثونو کښې ورباندې په واضحه توګه بحث شوے دے د برزخ یا د قبر ژوندون دے. په دې باره کښې بې له یو شمېر خلقو څخه چې له اسلامي تعلیماتو څخه بې خبره دي باقي نور ټول ورباندې د نظر اتفاق لري او د برزخي حیات عقیده لري. دغه حیات او ژوند قران او حدیثي منشاء لري. زمونږ په اسلامي لیکنو کښې په دا ډول مسائلو باندې دومره زیاتې خبرې شوي دي چې که په ژوره توګه کوشش وکړې شي نو شاید چې څو جلده کتابونه ترې جوړ شي. ۱- د سورۀ بقره په ۱۵۴ مبارک ایت کښې فرمائي: وَلاَ تَقُولُواْ لِمَنْ يُقْتَلُ فِي سَبيلِ اللّهِ أَمْوَاتٌ بَلْ أَحْيَاء وَلَكِن لاَّ تَشْعُرُونَ ‹‹ هغو کسانو ته چې د خداے په لار کښې وژل شوي دي مړي مهٔ وائئ بلکې هغوي ژوندي دي خو تاسو یې نهٔ درک کوئ. ›› په دې ایت کښې د لاَّ تَشْعُرُونَ راتلل د دې خبرې بیانوونکي دي چې د دا قسم ژوند او حیات له دنیوي ژوند نه کامل او پوره ژوند دے او د انسان له پوهې نه ډېر اوچت دے. هغه انسان چې په دې محدوده سیاره کښې ژوند کوي د غیبي معلوماتو په نسبت د هغه ماشوم په شان دے چې د خپلې مور په ګېډه کښې ژوند کوي، فرضاً که دغه ماشوم ته وویل شي چې د ستا د مور له رحم نه بهر ستوري، سیارې، غرونه، سمندرونه او دریابونه دي نو په دې کښې یوه خبره هم د هغهٔ د پوهې وړ نهٔ ده، ځکه چې دغه ټول حقائق د مور له رحم نه له بهر سره تعلق لري. نو د هغه انسان لپاره چې په دې خاکي دنیا کښې شپې سبا کوي په دغو خقائقو باندې نهٔ شي پوهېدې، نو بس دا انسان بله چاره نهٔ لري چې په دغو ماورائي چارو باندې ایمان ولري او له ژور فکر څخه معاف شي. نو ځکه دا چې فرمائي تاسو یې نه شئ درک کولې د دې لپاره دي چې په دغه معنا ژوند او حیات د دې انسان لپاره د درک وړ نهٔ دے. ۲- د سورۀ غافر په ۴۶ ایت کښې فرمائي: النَّارُ يُعْرَضُونَ عَلَيْهَا غُدُوًّا وَعَشِيًّا وَيَوْمَ تَقُومُ السَّاعَةُ أَدْخِلُوا آلَ فِرْعَوْنَ أَشَدَّ الْعَذَابِ ‹‹ ( آل فرعون ) سهار او مازیګر اور ته وړاندې کولې شي او کله چې قیامت شي نو حکم به اوشي چې آل فرعون ته تر ټولو سخت عذاب ورکړئ. ›› په دې مبارک ایت کښې له دوو عبارتونو سره مخامخ کیږو. وړومبے عبارت دا چې فرمائي: النَّارُ يُعْرَضُونَ عَلَيْهَا غُدُوًّا وَعَشِيًّا او دویم عبارت دے چې فرمائي: وَيَوْمَ تَقُومُ السَّاعَةُ أَدْخِلُوا آلَ فِرْعَوْنَ أَشَدَّ الْعَذَابِ د ایت مبارک په وړومبے عبارت فرمائي ‹‹ ( آل فرعون ) سهار او مازیګر اور ته وړاندې کولې شي ›› او په دویم عبارت کښې فرمائي: ‹‹او کله چې قیامت شي نو حکم به اوشي چې آل فرعون ته تر ټولو سخت عذاب ورکړئ. ›› نو معلومیږي چې وړومبے عبارت د قیامت له عذاب نه بغېر د یو بل عذاب ښودنه کوي ځکه چې په دویم عبارت کښې د قیامت د عذاب ذکر راغلے دے.نو بس د وړومبي عبارت له عذاب نه مراد د برزخ د عالم عذاب دے او دا ترې ثابته شوه چې هغوي په قبرونو کښې ژوندي دي او د عذاب مزه څکي. د سورۀ آل عمران له ۱۲۹ نه تر ۱۷۱ پورې ایتونه، د سورۀ نوح ۲۵ ایت، د سوره یسن ۲۸ او ۲۹ ایتونه، د سورۀ سجده ۱۱ ایت، د سورۀ اعراف ۷۷ ایت او داسې نور مبارک ایتونه د برزخ په ژوند باندې دلالت کوي. د قبر د ژوند په حقله زیات روایتونه لرو چې له هغو څخه یو له امام جعفر صادق علیه السلام څخه حدیث دے چې له هغهٔ نه د مومنینو د ارواګانو په حقله پوښتنه وشوه نو وې فرمایل: ‹‹ في حجرات فی الجنه یاکلون من طعامها و یشربون من شرابها و یقولون ربنا اتمم لنا الساعه وانجز ما وعدتنا ›› ( بحارالانوار ۲ ټوک ۱۲۹ مخ ) همدا رنګ له روایتونو څخه یو هغه روایت دے چې بخاري په ۵ ټوک کښې د بدر د جنګ په واقعه کښې، مسلم د ۴ ټوک په جنت کتاب کښې، نسائئ د خپل سنن په ۴ ټوک کښې، احمد بن حنبل د خپل مسند په ۲ ټوک کښې، ابن هشام د سیرت د ۱ ټوک په ۲ مخ کښې، مغازي واقدي په ۱ ټوک کښې او علامه مجلسي د بحارالانوار په ۱۲ ټوک کښې نقل کړے دے.وائي: د بدر په جنګ کښې د قریشو له کافرانو څخه ۷۰ تنه ووژل شول، د خداے ګران رسول صلی الله علیه و آله وسلم حکم وکړ چې د مشرکانو

ځواب: ۱- کېدي شي د روح له راستنولو نه مراد معنوي راګرځول وي. له دې امله چې د خداے د ګران رسول صلی الله علیه و آله وسلم پاک روح په الهي شهود کښې ډوب او په بالا عالم کښې دے نو که څوک په نبي اکرم صلی الله علیه و آله وسلم باندې سلام ولېږي نو د هغه حضرت روح د سلام د ځواب ورکولو لپاره توجه ورکوي. له « رد روح » نه مراد دا نۀ دے چې هغه په قبر کښې ژوندے نۀ ؤ او له سلام نه پس بدن ته ستون کړے شو. لکه چې سبکي هم دا خبره کړې ده.

۲- دا هم کېدي شي چې خطاب د هغو مخاطبانو د پوهې په اندازه وي چې په دنیا کښې دي، په دا ډول چې د اورېدو او د ځواب د ورکولو لپاره د روح له راستنولو نه بغېربله چاره نشته، ګویا چې فرمائي: زۀ په کامله توګه اورم او په کامله توګه ځواب ورکوم، ذکر شوے حدیث په دې خبره دلالت کوي چې روح په اول سلام سره راستنیږي او هغه وخت چې ورپړومبے سلام لا نۀ وي راغلے روح هم هغه شان په وړومبۍ قبضه کښې شتون لري. نو بس څوک د دې خبرې قائل نۀ دي چې په دویم سلام سره بیا هغه روح چې د وړومبي سلام ځواب یې ورکړے دے قبض شو او بیا راستنیږي چې د دویم سلام ځواب ورکړي. روایت یوازې په دې خبره دلالت کوي چې روح په وړومبي سلام سره راځي او دا چې په ګڼو سلامونو کښې بیا قبض کیږي او بیا بیا په هر سلام سره راځي له روایت نه داسې دلالت نۀ معلومیږي.

مونږ عقیده لرو چې ټول ادراکات (لکه علم، اورېدل وغېره) د ټولو مړګانو لپاره ثابت دي. او هرکله چې د عامو مړګانو لپاره داسې دي نو بیا خو د پېغمبرانو علیهم السلام لپاره په ډېره لوړه توګه ثابت دي. نو یقیناً چې په قبر کښې د مړګانو لپاره ژوند بیا راګرځي ځکه چې دا چاره له سنت نه ثابته شوې ده، او داسې نۀ ده چې له مړۀ کېدو نه پس وربانديې بیا مرګ مسلط شي بلکې له سنتو څخه په قبر کښې راحتی او عذاب معلومیږي او ثابتیږي او د دغو دواړو حالاتو درک کول له ژوند سره مشروط دي، البته په جزئي ژوند سره هم درک کېدې شي او بېنّه ته ضرورت نشته[3] لکه څنګه چې معتزله [1] د بېنّه قائل دي.

---

مړي په یو (شاړ) کوهي کښې وغورزوئ. کله چې یې د هغوي مړي په کوهي کښې وغورزول نو د خداے ګران رسول صلی الله علیه و آله وسلم یو یو ته د هغۀ په نوم سره غږ وکړاو ورته یې وویل. اے عتبه!، اے شیبه! اے امیه! اے ابوجهله! وغېره! ایا هغه څه چې خداے پاک درته وعده درکړې وه حق او په ځاے مو بیا موند؟ دغه وخت د مسلمانانو یوې ډلې د خداے ګران رسول صلی الله علیه و آله وسلم ته وویل: ایا هغو کسانو ته غږ کوې چې مړۀ دي؟ د خداے ګران رسو ل صلی الله علیه و آله وسلم ورته وفرمایل: تاسو له دوي څخه زیات اورېدونکي نۀ یئ خو دوي د ځواب په ورکولو قادر نۀ دي. د خداے ګران رسول صلی الله علیه و آله وسلم بیا هغو مړیو ته په خطاب کښې وفرمایل: تاسو د پېغمبر صلی الله علیه و آله وسلم لپاره څه بد خپلوان وئ؟ زۀ مو دروغجن وبللم، په داسې حال کښې چې نورو زۀ رښتینے وبللم، زۀ مو له خپل وطن نه ووېستم په داسې حال کښې چې نورو خلقو ما ته پناه راکړه، تاسو ما سره جنګ ته راپاڅېدئ خو نورو زما مدد وکړ. ایا هغه څه چې خداے پاک درسره وعده کړې وه حق او په ځاے مو بیا و نۀ موندل؟

[1]- التاج الجامع ۱ ټوک ۲۹۰ مخ

[2]- د خداے ګران رسول صلی الله علیه و آله وسلم وفرمایل: هیڅ کس داسې نشته چې په ما باندې سلام ولیږي مګردا چې پاک یې سلام ماته راو لیږي او زۀ یې ځواب و وایم.

[3]- وفاء الوفاء ۴ ټوک ۱۳۵۵ مخ.

نو په دې بنیاد د ابن تیمیه په ځواب کښې ( چې له انبیاؤ علیهم السلام نه د شفاعت غوښتل جائز نهٔ ګڼې وایو:

اول: پیغمبران علیهم السلام په قبر کښې ژوندي دي او له هغوي څخه د شفاعت غوښتنه له مړي نه غوښتنه نهٔ ده.

دویم: د قران شریف په نصّ سره شهیدان ژوندي دي ، له بلې خوا د نبوت درجه د شهادت له درجې نه اوچته ده او حتی د علماؤ د قلم سیاهي د شهیدانو له وینې نه اوچته ده. [۲] په نتیجه کښې کله چې یو کس د خداے په لار کښې شهید شو ژوندے دے. نو بس له دې وروسته چې د پیغمبرانو علیهم السلام روح قبض کړے شو بیا هغوي ته راګرځولے شي او هغوي د خداے پاک په نزد د شهیدانو په شان ژوندي دي. [۳]

دریم: که فرض کړو مړے د هیڅ چا خبره نهٔ اوري او په دعا کولو باندې هم قادر نهٔ دے نو بیا هم له مړي څخه په دعا غوښتلو کښې څه باک نشته او د کفر سبب نهٔ ګرځي. دا داسې دي لکه چې له یو ړوند سړي څخه په دې ګمان سره چې جوړ بینا دے وغواړو چې یو څیز ولولي.

څلورم: صحابهٔ او غیر صحابهٔ د خداے د ګران رسول صلی الله علیه و آله وسلم له رحلت نه پس له هغه حضرت څخه د شفاعت، استغاثې او دعا غوښتنه کړې ده او حتی له پیغمبرانو نه علاوه د نورو کسانو ( نیکانو، صالحانو ) په حقله به یې همدا کار کوهٔ او دا چاره خپله د داسې یو عمل په روا والي او جائزوالي باندې دلالت کوي.

پنځم: له مرګ نه پس روح باقي وي او ختمیږي نه، او د سوال او دعا امکان له هغهٔ څخه شته. فخررازي[۴] په خپل تفسیر کښې د قُلِ الرُّوحُ مِنْ أَمْرِ رَبِّي [۱] مبارک ایت په تفسیر کښې استدلال کړے دے چې له مرګ نه پس د روح بقاء په اولسو دلیلونو سره ثابته ده چې یو څو ته پکښې اشاره کوو:

---

۱- د معتزله استاد ورکول چې هغوي د قبر له عذاب او راحتی څخه انکار کوي دا نسبت صحیح نهٔ دے ، ځکه چې یوازې معتزلي ( ضرار بن عمر ) دا خبره کړې وه خو دغه کس هم تر اخیر وخته پورې په اعتزال باقي پاتې نهٔ شو او له معتزله څخه توبه ګار شو او په مجبّره ( جبریه ) ډله کښې شامل شو. قاضي عبدالجبار ( معتزلي ) د شرح الاصول خمسه کتاب په عذاب القبر باب کښې وائي: (( د قبر د عذاب په حقله په امت کښې څه اختلاف نشته مګر هغه چې له ضرار بن عمر نه نقل شوي دي چې هغه معتزله څخهٔ خو بیا له مجبره سره ملګرے شو ، نو په دې وجه چې یو تن او هغه هم حتی په اعتزال باندې ثابت نهٔ او داسې څه خبره وکړي. ابن راوندي په مونږ باندې انتقاد وکړ چې معتزله د قبر له عذاب څخه انکار کوي او اقرار پرې نهٔ لري. بیا قاضي عبدالجبار په برزخ کښې د انسان د حیات د ثابتولو لپاره د قران شریف په ایتونو سره استدلال وکړ: تلخیص التمهید ۲۲۳ مخ ، محاضرات فی الالهیات، استاد سبحاني.

۲- کنزالعمال ۱۰ ټوک ۱۴۱ مخ، حدیث ۲۸۷۱۵ ، بحارالانوار ۲ ټوک ۱۴ مخ.

۳- وفاء الوفاء ۴ ټوک ۱۳۵۵ مخ.

۴- محمد بن عمر چې په فخر رازي مشهور ؤ په ۵۴۳ یا ۵۴۴ هجري کال کښې په رې سیمه کښې وزیږېد. هغهٔ په وېنا او خطاب کولو کښې مهارت لرهٔ او په فارسۍ او عربۍ به یې خبرې کولې، هغهٔ له خپل پلار ضیاء الدین عمر څخه درس زده کړو. رازي د اهلسنتو د اشاعره مسلک له بزرګانو څخهٔ او په حق سره یې د اشعري مذهب خدمت وکړ، هغهٔ به په هرات کښې درس ښودلو او د هغهٔ د درس په محفل کښې به د هر مذهب خلق کښېناستېدل، ان تردې چې د شیخ الاسلام لقب یې حاصل کړ. هغهٔ په منبر باندې له یوې وېنا نه پس یو شعر وویلو چې مطلب یې داسې دے: انسان چې تر څو د خلقو ترمینځ ژوندے وي نو خلق یې خوار ګڼې خو چې کله وفات شي نو د هغهٔ نشتوالے یو لوے مصیبت ګڼي. ( وفیات الاعیان ابن خلکان )

۱- د خدا ے ګران رسول صلی الله علیه و آله وسلم په یوه اوږده خطبه کښې وفرمایل: کله چې بدن ته مرګ راشي روح د بدن د پاسه الوت کوي او وائي: اے زما اهل او اولاده! دنیا دې درسره داسې لوبې ونکړي لکه چې له ما سره یې لوبې وکړې. دا عبارت د دې خبرې ښودنه کوي چې دغه وخت انسان ژوندے ، باقي او پوهه وي.

۲-خدا ے پاک فرمائي: يَا أَيَّتُهَا النَّفْسُ الْمُطْمَئِنَّةُ * ارْجِعِي إِلَى رَبِّكِ رَاضِيَةً مَّرْضِيَّةً * [۲] چې دا مبارک ایت په دې خبرې باندې دلالت کوي چې هغه څیز چې د خدا ے پاک په لور واپس ګرځي ژوندے دے او هغه له خدا ے پاک نه راضي او خدا ے پاک له هغهٔ نه راضي دے نو بس له مبارک ایت نه دا خبره څرګندیږي چې انسان له مرګ نه پس ژوندے او باقي دے.

۳-د خدا ے ګران رسول صلی الله علیه و آله وسلم فرمائي: پېغمبران علیهم السلام نهٔ مري بلکې له یو منزل نه بل منزل ته منتقل کیږي او هر کس چې مړ شو نو قیامت یې راځي. ، او قبر د جنت له باغونو نه یو باغ او د دوزخ له کندې څخه یوه کنده ده وغېره... چې دا ټول نصوص د دې حقیقت بیانوونکي دي چې انسان له مرګ نه پس ژوندے او باقي دے.

۴- خدا ے پاک فرمائي: حَتَّىَ إِذَا جَاء أَحَدَكُمُ الْمَوْتُ تَوَفَّتْهُ رُسُلُنَا وَهُمْ لاَ يُفَرِّطُونَ * ثُمَّ رُدُّواْ إِلَى اللّهِ مَوْلاَهُمُ الْحَقِّ * [۳] د دې مبارک ایت له مخې هغه څوک چې خدا ےپاک ته واپس ګرځي له دې بې روحه بدن څخه بل دے.

۵- د دنیا ټول ملتونه، ولسونه ، هند، روم، عرب ، عجم وغېره او ټولې فرقې او مذهبونه یهودیان، مسېحیان، زرتشتیان، مسلمانان وغېره د خپلو مردګانو لپاره صدقه ورکوي او د هغوي لپاره د خېر دعا غواړي، د هغوي د قبرونو زیارت ته ځي، نو اوس که له مرګ نه پس انسان ژوندے نهٔ وي نو د هغهٔ لپاره صدقه ورکول، د هغهٔ زیارت ته تلل او د هغهٔ لپاره دعا غوښتل بې فائده او یو بېهوده کار دے.

نو بس په صدقه ورکولو ، دعا غوښتلو او قبرونو ته په تللو کښې اجماع په دې خبره دلالت کوي چې د هغوي اصیل او سالم فطرت دا ګواهي ورکوي چې د انسان حقیقت د بدن له ډانچې نه علاوه بل څیز دے او حقیقي معنو کښې هغه نهٔ مري او یوازې دا بدني ډانچه ده چې مري.[۴]

نتیجه دا شوه چې هغه پاک فطرت چې د هر انسان په باطن کښې موجود دے له مرګ نه پس د روح په ژوندون باندې ګواهي ورکوي او هدغه شان مبارک ایتونه او حدیثونه د روح په بقاء باندې شاهد دي. نو په دې بنیاد له پاکو ارواګانو څخه چې د کتاب ، سنت او انساني فطرت د ګواهۍ په بنیاد ژوندۍ دي د شفاعت او دعا غوښتل هیڅ منعې او عېب نهٔ لري او نهٔ د بدعت، کفر او شرک سبب کیږي، او د دا ډول خبرې

---

هغه بالاخره په ۲۰۴ هجري کال کښې وفات شو. ۱ اتیج الغیب، ۲- المباحث المشرقیه، ۳- شرح الاشارات وغېره د هغهٔ له اثارو څخه دي

۱- سورهٔ اسراء ( ۱۷) ۸۵ ایت.

۲- سورهٔ والفجر ( ۸۹) ۲۷ ایتږ

۳- سورهٔ انعام ( ۲) ۲۱ ایت.

۴- تفسیر الکبیر ۲۱ ټوک ۴۱ مخ.

چې د وهابیانو او سلفیانو لخوا کیږي پاک انساني فطرت ته د نۀ رجوع کولو او په قراني او روائي نصوصو کښې د غور او تدبر نۀ کولو نښه ده.

## د روح د بقا په حقله د سبکي نظریه

له سبکي نه پوښتنه وشوه چې ایا ارواګاني د بدنونو په شان ختمیږي؟ نو وې ویل: د اروګانو پوښتنه یا د حکماؤ د مذهب په بنیاد ده او یا د متشرعینو د مذهب په بنیاد ده.[1]

مشرعین [2] په دې خبره اتفاق لري چې ارواګانې له مفارقت او له بدن څخه له جدا کېدو نه پس باقي دي، او دا چاره امکان هم لري او ټولې شرعې يې په واقع کېدو باندې اتفاق هم لري، نو په دې بنیاد د شریعتونو ترمنځ په دې حقله څه اختلاف نۀ وینم، خو دا چې فخر رازي په دې حقله وائي: «د دا ډول عقلي اعتباراتو (یعنې له مرګ نه پس د روح بقاء) حکماء چې کله د عمومو انبیاؤ او حکماؤ له ګفتار سره یو ځاے شي نو د دې مطلب په فائده کښې دي چې مونږ د نفس په بقاء باندې جزم او یقین پېدا کوو.»

دا چې فخر رازي په خپل عبارت کښې د عمومو پېغمبرانو ذکر کړے دے چې انبیاء له بدن څخه د روح له جدا کېدو نه پس د روح په بقاء باندې اجماع نۀ لري، په داسې حال کښې چې له هغۀ نه داسې ابهام بې وجې دے او زۀ ګمان نۀ کوم چې له جمهور انبیاؤ نه د هغۀ مراد دا وي چې په دې موضوع کښې پوره اجتماع نۀ لري، ځکه چې د خبرو په ابتداء کښې یې ویلي دي چې مشرّعون د روح په بقاء باندې اجماع لري او دا چې روح له بدنه له بیلېدو وروسته باقي پاتے کیږي، له هغو ځیزونو څخه دي چې اعتقادورباندې فرض دے، ځکه چې اسماني شریعتونه او کتابونه په خاصه توګه زیات قراني ایتونه او روایتونه د دې خبرې بیانوونکي دي چې روح له بدن څخه له جدا کېدو نه پس باقي پاتې کیږي او هیڅ مسلمان په دې کښې شک نۀ لري. فخر رازي حتی ویلي دي چې ټول مړګان ژوندي دي او په دې خبره باندې یو شمېر تېرو شخصیتونو اجماع کړې ده او د دې مبارک ایت چې فرمائي: وَلاَ تَقُولُواْ لِمَنْ يُقْتَلُ فِي سَبيلِ اللّهِ أَمْوَاتٌ بَلْ أَحْيَاء وَلَكِن لاَّ تَشْعُرُونَ [3] په باره کښې یې ویلي دي چې دا مبارک ایت یوازې په شهیدانو پورې محدود نۀ دے او دا مبارک ایت د کافرانو د هغو خبرو د ردولو کوشش کوي چې وائي چې قیامت او له مرګ نه پس ژوندي کېدل نشته او انسان په مرګ سره په کامله توګه ختمیږي او د مړي لپاره د احساس او د دې په شان څه اثر باقي نۀ پاتې کیږي. البته د مړګانو ژوند مختلف دے، د شهید د ژوند عظمت د یو هغه مومن له ژوند نه زیات دے چې شهید شوے نۀ دے او د کافر ژوند د هغو عذابونو په وجه زیات ښکته دے او بالاخره ټول د ژوند او حیات په لرلو کښې مشترک دي. ځینې بدنونه ورستیږي او ځینې بدنونه هم نۀ ورستیږي او باقي او سلامت پاتې وي. دا د اسلام د مبین دین خبره ده.

---

[1]- مستشرعین: فقهاء

[2]- مشرعون: انبیاء علیهم السلام

[3]- سورۀ بقره (۲) ۱۵۴ ایت.

په قران شریف او مبارکو حدیثو کښې په تحقیقاتو سره دا خبره څرګندیږي چې دا موضوع له هغو مسائلو څخه ده چې د اسلام په مبین دین کښې یې څرګندوالےد ضرورت ترحده دے[1] او په بله معنا د دین له ضروریاتو څخه دے نو په دې بنیاد وهابیان څه دلیل نۀ لري چې د هغۀ په بنیاد باندې هغو کسانو ته چې د انبیاؤ، اولیاؤ او صالحانو له ارواګانو سره متوسل کیږي او هغه وسیله ګرځوي د کفر نسبت ورکړي، په داسې حال کښې چې دغه ارواګانې باقي دي. کېدې شي دلیل یې هم هغه ناپوهي او په مبارکو ایتونو او روایتونو کښې غور او فکر نۀ کول وي چې که قصداً او اراداتاً نۀ وي نو معذور دي ګڼې څه عذر ورته باقي نۀ پاتې کیږي.

شپږم: په دې باندې اعتقاد چې مردګان اوري یا نۀ اوري؟ د دین له اصولو ، ارکانو یا واجباتو څخه نۀ دي چې که چا یې برخلاف عقیده ولرله بدعت ګذار ورته وویل شي بلکې داسې یو کس په خپله عقیده کښې ثواب حاصل کړے دے او په داسې صورت کښې یې اجر په برخه کېږي او که خطا یې کړي وي نو معذور دے او هیڅ یې په ضرر نۀ دي. دا خبره په صحاحو او سننو کښې راغلې ده[2] نتیجه دا شوه چې دغه عقیده د کفر او ګناه سبب نۀ کیږي او که داسې وي نو بیا ولې فخر رازي وائي چې روح باقي دے او مرده ته دعاāو زیارت یې کول او د هغۀ لپاره صدقه او نذر ورکول د روح د باقي پاتې کېدو په وجه دي[3] نو ایا په داسې صورت کښې فخررازي ته د کفر ، شرک او بدعت نسبت ورکولې شو؟ مفسرانو هم د «فَالْيَوْمَ نُنَجِّيكَ بِبَدَنِكَ»[4] مبارک ایت په تفسیر کښې لیکلي دي: دا ایت د دې خبرې وضاحت کوي چې د انسان نفس د هغۀ له بدن نه بغېر یو بل څیز دے.

## شفاعت په روایتونو او د صحابهؤ په وینا کښې

١- انس وائي: له پېغمبراکرم صلی الله علیه و آله وسلم نه مې وغوښتل چې د قیامت په ورځ زما شفاعت وکړي، هغۀ دا خبره ومنله او وې فرمایل: زۀ به دا کار وکړم. پېغمبراکرم صلی الله علیه و آله وسلم ته مې وویل: تاسو به زۀ کوم ځاے کښې لټوم؟ وې فرمایل: د صراط په غاړه.» [5] سواد بن قارب د خداے د ګران رسول صلی الله علیه و آله وسلم خدمت ته حاضر شو او د څو شعرونو له ویلو نه پس یې له هغوي څخه د

---

١- فتاوی السبکي ٢ ټوک ٢٣٢ مخ.

٢- صحیح بخاري ٩ ټوک ، ١٩٣ مخ، صحیح مسلم ۵ ټوک، ١٣١ مخ، البته زمونږ ( امامیه ) کتابونه له داسې څه عبارت نه خالي دي، منجمله هغه څیزونه چې زمونږ په نزد یې د نص په نۀ اعتبار باندې دلیل دے دا دے چې د عمر بن العاص د غلام د حدیث په طریقې سره راغلے دے چې دغه کس مجهول دے او یو شمېر سني عالمان یې نۀ قبلوي او له بلې لارې مرسله روایت نقل شوے دے، له دې نه علاوه چې د روایت سند زمونږ له نظره مخدوش دے. عمده القاري ٢۵ ټوک ٢٧ مخ ته رجوع وکړئ.

٣- تفسر المیزان ١٠ ټوک ١٢١ مخ.

۴- سورۀ یونس (١٠ ) ٩٢ ایت

۵- الجامع الصحیح ۴ ټوک ٢٢١ مخ، ٢۴٣٣ حدیث

شفاعت غوښتنه وکړه او وې ویل: اے د خداے ګران رسوله! د قیامت په ورځ زما شفیع جوړ شه. د شفاعت په ورځ به نور کسان سواد بن قارب ته د خرما په منېځ کښې د یوې ریښې په اندازه ګټه ورنکړي. [1]

۲- ابن عباس وائي: کله چې علي علیه السلام د خداے ګران رسول صلی الله علیه و آله وسلم ته له غسل ورکولو څخه فارغ شونو وې فرمایل: مور او پلار مې له تا قربان شه تهٔ هم د حیات او هم د ممات په حال کښې پاک او پاکیزه یې. د خداے پاک په نزد زمونږ یادونه وکړه. [2]

۳- حضرت ابوبکر د خداے د ګران رسول صلی الله علیه و آله وسلم له مخ نه کفن لرې کړ او هغه یې ښکل کړ او هم هغه د حضرت علي په شان خبره یې وکړه. [3]

۴-د حضرت عمر بن خطاب د خلافت په دور کښې خلق له قحطۍ سره مخامخ شول، بلال بن حارث چې د خداے د ګران رسول صلی الله علیه و آله وسلم صحابي وو د خداے د ګران رسول صلی الله علیه و آله وسلم قبر مبارک ته راغے او وې ویل: اے د خداے رسوله ! د خپل امت لپاره دې د باران سوال وکړه ځکه چې هلاک شول. د خداے ګران رسول صلی الله علیه و آله وسلم دغه صحابي ته په خوب کښې راغے او ورته یې خبر ورکړ چې زر به باران اوریږي. [4]

نو په دې بنیاد له پېغمبراکرم صلی الله علیه و آله وسلم نه د باران سوال کول چې په برزخ کښې دے او په برزخ کښې د خداے د ګران رسول صلی الله علیه و آله وسلم دعا کول څه امتناع نهٔ لري او انکار ترې نهٔ شي کېدې او همدا رنګ د خداے ګران رسول صلی الله علیه و آله وسلم د هغه کس چې په سوال باندې چې له هغه نه یې غوښتنه کوي پوهېږي. نو بس لکه څنګه چې په هغه وخت کښې په دنیا کښې له پېغمبراکرم صلی الله علیه و آله وسلم نه سوال کول نهٔ بدعت ؤ ، نهٔ شرک ؤ او نهٔ کفر ؤ نو اوس هم له پېغمبراکرم صلی الله علیه و آله وسلم نه سوال کول په داسې حال کښې چې په برزخ کښې دے نهٔ شرک دے ، نهٔ کفر دے او نهٔ بدعت دے. که وویل شي چې له مړي څخه د شفاعت غوښتنه په دې وجه چې د هغه مړي په حقله عبادت ګڼل کېږي او منعې ده نو په ځواب کښې به ووایو چې ایا له ژوندي کس څخه د شفاعت غوښتنه او ترې نه سوال کول عبادت دے؟ نو بس هر ډول ځواب مو چې د ژوندي په حقله ورکړ هم هغه ځواب د مړي په حقله هم دے. تاسو چې له ژوندي نه شفاعت غوښتل جائز ګڼئ نو همدا نیوکه په تاسو وهابیانو باندې هم راځي. نو په دې بنیاد له دغو ټولو دلائلو نه پس له مړي نه د شفاعت د غوښتلو د حراموالي په حقله د وهابیت د څرګندونو او دعوو لپاره څه لاره باقي نهٔ پاتې کېږي،

---

[1]- وکن لي شفیعا یوم لا ذو شفاعه بمغن فتیلا عن سواد بن قارب. په ځینو نسخو کښې سواد بن عاذب او په نورو ځینو کښې سواد بن قارب لیکلے شوے دے. ( الدر رالسنیه ۲۹ مخ، کشف الاریتاب ۲۲۳ مخ، الاصابه ۹۲ مخ، اسدالغابه، ۳ ټوک ۳۷۵ مخ.)

[2]- امالي شیخ مفید ۱۰۵ مخ، بحار ۲۲ ټوک ۵۲۷ مخ، له دې خبرې نه د حضرت علي علیه السلام مراد چې د خداے په نزد زمونږ یادونه وکړه هم هغه وروستے عبارت چې (( شفاعت مو وکړه )) دے. هم هغه ډول چې حضرت یوسف علیه السلام په جېل کښې ؤ هغه ازاد شوي قیدي ته وویل چې: اذکُرْنِي عِندَ رَبِّكَ ( سوره یوسف ۴۲ ایت ) یعنې خپل مالک ته دې زما یادونه وکړه.

[3]- کشف الارتیاب ۲۲۵ مخ، چې د ذیني دحلان د کلام له خلاصې نه یې نقل کړ.

[4]- فتح الباري، ۲ ټوک ۳۹۸ مخ، السنن الکبری ۳ ټوک ۳۵۱ مخ، وفاء الوفاء ۴ ټوک ۱۳۷ مخ.

او حېرانوونکو ځیزونو څخه چې وهابیت یې دعوا کوي دا خبره ده چې هیڅ یو صحابي او تابعي د شفاعت غوښتنه نۀ ده کړې. نو بس د وهابیت لخوا د دا ډول فتوې له مصادرو او د صحابهٔ له فعل نه د وهابیانو په ناخبرۍ باندې دلیل دے او د دوي دا خبرې د ناپوهۍ او جهالت په وجه دي.

# له قبرونو څخه تبرک حاصلول

١- د وهابیت نظریه
٢- د وهابیت په نظریې باندې رد
٣-له قبرونو څخه د صحابهٔ تبرک حاصلول
۴- د تبرک په حقله د سني فقهاؤ نظریه
۵- د قبر د ښکلولو په حقله روایت
٦- له آثارو څخه تبرک حاصلول
٧- له آثارو څخه د تبرک حاصلولو په اړه د فقهاؤ نظریه
٨- د مدینې له خاورې څخه د شفاء غوښتل
٩- د پېغمبر اکرم صلی الله علیه و آله وسلم په آثارو سره تبرک
١٠- هغه قبرونه او جنازې چې هغو څخه تبرک حاصل کړے شو

## له قبرونو څخه تبرک حاصلول [1]

ابن تېمیه او د هغهٔ پېروکار له قبرونو څخه تبرک حاصلول ورپورې ځان یا یو څیز مخل او د هغو ښکلول حرام ګڼي او داسې مسلمانانو ته کافران او مشرکان وائي د « قبوریُون » یعنې د قبرونو عبادت کوونکي په نوم سره یې یادوي او د مسلمانانو دا کار د هغه کار په شان ګڼي چې خلقو به د جاهلیت په دوران کښې له خپلو بتانو سره کوۀ.

نو مونږ د دغو کسانو د خبرو په رد کښې وایو:

اول: که د تبرک او تقبیل یعنې د قبرونو د ښکلولو په جائزوالي باندې څه نصّ هم نۀ وې راغلے نو بیا هم دا اعمال شرعي رجحان لري ځکه چې د شعائرو تعظیم او احترام دے. انبیاء کرام علیهم السلام د مقام او احترام لرونکي دي او دغه احترام په وفات سره نۀ ختمیږي. امام مالک [2] منصور ته وویل: د پېغمبر احترام

---

[1]- تبرک د برکت له مادې نه اخېستے شوے دے چې د زیاتېدو په معنا دے او برکه ( یعنې تالاؤ ) ته په دې وجه برکه ویل کیږي چې هلته د باران اوبۀ جمع کیږي، او مثلاً په مېرو او بیابانونو کښې په دا ډول د اوبو جمع کېدل د کاروانونو او قافلو لپاره برکت لري. او په اصطلاح کښې په دې معنا دي چې مسلمان او موحد انسان د انبیاء کرامو علیهم السلام او د خداے پاک د نازولو او نېکانو بندګانو او له هغوي نه له پاتې تبرکاتو او څیزونو څخه د خېر او برکت د زیاتوالي غوښتنه وکړي. تبرک په ذاتي توګه شرعي او عقلي رجحان لري او داسې حقیقت دے چې زیاتره مبارک ایتونه او روایتونه یې تاییدوي، او چې هرکله یوه چاره شرعي او عقلي دلیل او رجحان ولري نو له دیني شعائرو څخه ګڼل کیږي.« وَمَن يُعَظِّمْ شَعَائِرَ اللَّهِ فَإِنَّهَا مِن تَقْوَى الْقُلُوبِ » او د داسې یو عمل په حراموالي باندې هیڅ دلیل وجود نۀ لري، له بلې خوا عقل یې هم د تعظیم د ښۀ والي حکم کوي. له دې امله چې داسې یو عمل انسان خداے پاک ته نزدې کوي نو ځکه ښۀ والے لري، له دغو مبارک ایتونو څخه یو د سورۀ یوسف ۹۳ ایت دے چې فرمائي: اذْهَبُواْ بِقَمِيصِي هَذَا فَأَلْقُوهُ عَلَى وَجْهِ أَبِي يَأْتِ بَصِيراً « زما قمیص یوسئ او زما د پلار په مخ یې وغورځوئ چې نظر یې بېرته راشي. » حضرت یعقوب علیه السلام په کلونو کلونو په حضرت یوسف علیه السلام پسې ژړا وکړه ان تردې چې په سترګو معذوره شو او نظر یې لاړ، هغهٔ په خپلو سترګو باندې د حضرت یوسف علیه السلام د قمیص په غوړولو سره د سترګو نظر بېرته حاصل کړ.

یو بل ایت د سورۀ کهف ۲۱ مبارک ایت دے چې فرمائي: قَالَ الَّذِينَ غَلَبُوا عَلَى أَمْرِهِمْ لَنَتَّخِذَنَّ عَلَيْهِم مَّسْجِداً « هغه کسان چې په بلې ډلې باندې یې برے موندلے ۇ وویل: په قبر باندې یو جومات جوړوو. » چې دا چاره له تبرک نه بغېر بل څه نۀ ۇ، او همدا رنګ د سورۀ بقره ۱۲۵ مبارک ایت دے چې فرمائي: وَإِذْ جَعَلْنَا الْبَيْتَ مَثَابَةً لِّلنَّاسِ وَأَمْناً وَاتَّخِذُواْ مِن مَّقَامِ إِبْرَاهِيمَ مُصَلًّى « هغه وخت چې کعبه مو د خلقو لپاره د اجتماع او امن ځاے وګرځوۀ، او حکم مو ورکړ چې « مقام ابراهیم » د ځان لپاره د نمونځ ادا کولو ځاے وګرځوئ. » نو اوس د حضرت ابراهیم علیه السلام مقام یعنې د هغهٔ د اودرېدو په ځاے باندې د نمونځ کولو مطلب نور څۀ دے؟ بې له دې نه چې ووایو چې هغه مقام او ځاے د حضرت ابراهیم علیه السلام د اودرېدو په وجه متبرک شو نو تبرک لپاره په هغه ځاے کښې د نمونځ ادا کولو حکم شوے دے.

[2]- مالک بن انس حمیري اصبحي مدني چې د موطا کتاب لیکوال دے په ۹۰ یا ۹۳ یا ۹۵ کال کښې وزېږېد. ویل کیږي چې هغه درې کاله د مور په ګېډه کښې ۇ ( ابن ندیم د الفهرست کتاب لیکوال ) هغهٔ له امام جعفر صادق علیه السلام او د مدینې له فقیه ربیعه الراي نه فقه زده کړه او امام شافعي له هغهٔ نه علم زده کړو. جعفر بن سلیمان بن علي بن عبدالله عباس یعنې د منصور

په داسې حال کښې چې له دنیا لاړ وي د هغهٔ د ژوند د دوران په شان دے. نو بس د خداے د ګران رسول صلی الله علیه و آله وسلم او د نېکانو بندګانو احترام او تعظیم په وفات کېدو سره نهٔ ختمیږي او تل واجب وي.[1]

دویم:که د شعائرو تعظیم او احترام شرک او حرام وګڼلے شي او د قبرونو احترام او د هغو ښکلول عبادت او شرک وبللے شي نو بیا پکار دي د کعبې تعظیم او طواف هم شرک وي او همدا رنګ پکار دي د حجرالاسود تعظیم او ښکلول، د حضرت ابراهیم علیه السلام د مقام او کور تعظیم[2] ، د خداے د ګران رسول صلی الله علیه و آله وسلم د جوماتونو او مشاعرو تعظیم، د مور او پلار تعظیم، حضرت ادم علیه السلام ته د فرښتو سجده، حضرت یوسف علیه السلام ته د پلار او ورړو سجده، د سپایانو لخوا د خپلو کماندړانو او جرنېلانو احترام، د صحابهٔ لخوا د خداے د ګران رسول صلی الله علیه و آله وسلم تعظیم، د خلیفه ګانو لخوا د پېغمبرانو علیهم السلام تعظیم او حتی د وهابیانو لخوا د خپلو باچایانو او مشرانو تعظیم او احترام پکار دي ټول شرک وي، په داسې حال کښې چې هیڅ یو وهابي او سلفي د دې خبرې اعتراف نهٔ کوي.

دریم: د صحابانو او صالحانو عمل د وهابیت د نظریې په خلاف دے. هغوي به په قبرونو پورې خپل بدن مخښلو او هغه به یې ښکلول او د هغو قبرونو له خاورو به یې تبرک حاصلوهٔ چې څو نمونې یې دلته نقلولې شي:

## ۱- د خپل پلار حضرت محمد مصطفی صلی الله علیه و آله وسلم د قبر مبارک له خاورو څخه د حضرت فاطمه زهرا سلام الله علیها تبرک حاصلول

حضرت علي علیه السلام نقلوي چې کله د خداے ګران رسول صلی الله علیه و آله وسلم دفن کړے شو نو فاطمه سلام الله علیها د هغهٔ د قبر په خوا کښې اودرېده او له قبر نه یې لږه خاوره راواخېسته او په مخ یې ومخښله، وې ژړل او دا دوه شعرونه یې وویل چې مطلب یې داسې دے: «دهغه کس به څه کیږي چې د احمد صلی الله علیه و آله وسلم د قبر خاورې بویوي او تر څو چې دغه کس ژوندے وي د ګران بیه مشکو له

دوانیقي د ترهٔ زوے چې د منصور لخوا په مدینه کښې حاکم ؤ ته چا د مالک بن انس په سر چغلي وخوړ او ورته یې وویل چې مالک له تاسره بیعت او تړون ضروري او شرعي نهٔ ګڼي. هغهٔ د مالک د بربنډولو حکم ورکړ او بیا یې په کوړو سره ووههٔ او په زمکه باندې یې راکښکهٔ چې په دې وجه یې د لاس مړوند جدا شو. مالک بالاخره په ۱۷۹ هـ ق کال کښې وفات. موطا د هغهٔ مشهور کتاب دے.

[1] - کشف الارتیاب ۳۴۳ مخ

[2] - له کور نه مراد د حضرت اسماعیل علیه السلام او د هغهٔ د مور کور دے چې دواړه په دغه کور کښې دفن شوي دي. حضرت ابراهیم علیه السلام چې کله بي بي هاجره او اسماعیل علیهم السلام مکې ته راوستل نو هغوي یې په یو ځاے کښې چې بیا وروسته پکښې کور جوړ شو پوازې پرېښودل او بي بي هاجرې ته یې حکم ورکړ چې دغلته د ځان لپاره یو څپر یا جونګړه جوړه کړي. کله چې بیا بي بي هاجره وفات شوه نو حضرت اسماعیل علیه السلام هغه په هم هغه کور کښې ښخه کړه او بیا چې کله حضرت اسماعیل علیه السلام ۱۳۰ کاله پس له دې دنیا لاړ نو په هم هغه کور کښې د خپلې مور تر څنګه دفن کړے شو. کشف الارتیاب ۳۴۳ مخ.

بویولو نه به بې نیاز وي. په ما باندې داسې مصیبتونه راغلل چې که په رڼا ورځ باندې راغلي وې نو هغه به په توره شپه بدله شوې وه. )) [1]

## ۲- د خدای د ګران رسول صلی الله علیه و آله وسلم له قبر څخه د ابو ایوب انصاري تبرک حاصلول:

داود بن ابو صالح وائي: یوه ورځ مروان بن حکم جومات ته راننوت نو وې لیدل چې یو سړي خپل مخ د خدای دګران رسول صلی الله علیه و آله وسلم په مبارکه روضه باندې ایښودی دی. مروان هغه څټ نه ونیوۀ او ورته یې وویل: پوهېږې چې دا څه کوې؟ هغه کس ( چې حضرت ابو ایوب انصاري ؤ ) مروان ته وویل: هو پوهېږم، زۀ کاڼي ته نۀ یم راغلی، زۀ د خدای د ګران رسول صلی الله علیه و آله وسلم ته راغلی یم. ما د خدای له ګران رسول صلی الله علیه و آله وسلم نه اورېدلي دي چې وې فرمایل: هغه وخت چې د دین خاوندان د دین مشري او رهبري کوي نو پکار دي په دین باندې ژړا ونکړئ بلکې هغه وخت په دین باندې ژړا وکړئ چې د دین مشري او رهبري د نا اهلو په لاسو کښې راشي. [2]

دا حدیث حاکم په مستدرک [3] کښې او ذهبي هم صحیح ګڼلی دی. سبکي وائي چې که د داسې حدیث اسناد صحیح وي نو بیا د قبر د دیوال مس کول مکروه نۀ دي. [1]

---

۱- ماذا علی من شمّ تربه احمد ان لا یشمّ مدي الزما غوالیا
صُبّت عليّ مصائب او انّها صُبّقت علی الایام صرنَ لیالیا

ارشاد الساوي ۳ ټوک ۳۵۲ مخ، د شیراوي کتاب الاتحاف ۹۰ مخ، وفاءالوفاء ۴ ټوک ۴ مخ، مشارق الانوار ۲۳ مخ، د ابن حجر کتاب التاوی الفقهیه ۲ ټوک ۱۸ مخ، السیره النبویه ۲ ټوک ۳۴۰ مخ، کشف الارتیاب ۳۴۷ مخ، المواهب اللدنیه ۳ ټوک ۴۰۰ مخ، او همدا رنګ ابن جوزي په الوفاء او ابن عساکر په التحفه خالدي په صلح الاخوان، خطیب شربیني په خپل تفسیر او عمر رضا کحاله په اعلام النساء و غېره کښې دا حدیث نقل کړے دے.

۲- مستدرک حاکم ۴ ټوک ۵۲۰ مخ، ۸۵۷۱ حدیث، وفاء الوفاء ۴ ټوک ۱۴۱۴ مخ، مسند احمد بن حنبل ۵ ټوک ، الغدیر ۵ ټوک، شفاء السقام سبکي وغېره. یوازېنے کس چې د خدای د ګران رسول صلی الله علیه و آله وسلم د دغه جلیل القدر صحابي له عمل څخه انکار کوي او غندي یې همدغه مروان بن حکم دے ځکه چې دا خبره له هغۀ ناشونې نۀ ده. هغه کس چې مودې مودې یې د خدای له ګران رسول صلی الله علیه و آله وسلم او د هغۀ له پاک خاندان (اهلبېتو ) سره بغض لرۀ داسې خبره له هغۀ نه اورېدل حېرانوونکې نۀ ده. د خدای ګران رسول صلی الله علیه و آله وسلم دې یعنې مروان او د دۀ پلار حکم دواړه له مدینې نه شړلي وو او هغه حضرت په خپل عمل سره دوي خوار او ذلیل کړي وو ځکه چې په زړونو کښې یې د خدای له ګران رسول صلی الله علیه و آله وسلم سره کینه لرله. د ایت الله احمدي میانجي په قول: هغه څخه چې له دې روایت څخه مونږ ته معلومیږي دا دي چې دلته دوه سنته موجود دي، یو د خدای د ګران رسول صلی الله علیه و آله وسلم سنت چې د هغو وفادارو او جلیل القدر صحابانو ورباندې عمل کوۀ او بل د هغه شړلې شوي او رټلې شوي اموي سنت دے. او هغه څه چې عقل او شرع یې حکم کوي دا دي چې پکار دي د خدای د ګران رسول صلی الله علیه و آله وسلم په سنت باندې عمل وشي نه د هغه کس چې د خدای له ګران رسول صلی الله علیه و آله وسلم رټلې او شړلې وي. ( التبرک ۱۴۷ مخ )

۳- حاکم- محمد بن عبدالله چې په ابن بیّع باندې مشهور دے او په ۴۰۵ کال کښې وفات دےد حدیثونو له مشائخو او حافظانو څخه ؤ. حاکم د سامانیانو لخوا د نیشابور قاضي ؤ او زیاترو مشائخو کښې یې ځانګړے مقام لرۀ . ویل کیږي چې دۀ دوه زره حدیثونه اورېدلي دي. د دۀ مستدرک کتاب په هغو حدیثونو مشتمل دے چې د بخاري او مسلم په شرائطو باندې پوره دي.

علامه اميني وائي: دا حديث مونږ ته يوه دا خبره په ډاګه کوي چې د پاکانو له قبرونو سره له توسل پېدا کولو او د هغو له وسيله ګرځولو څخه منعې کول د بني اميه ؤ له بدعتونو څخه دي. [2]

## ۳- د خداے د ګران رسول صلی الله علیه و آله وسلم له قبر نه د بلال حبشي تبرک حاصلول.

بلال حبشي يوه شپه د خداے د ګران رسول صلی الله علیه و آله وسلم په خوب کښې وليد ، هغه حضرت ورته وفرمايل: اے بلاله دا څه جفا ده، ايا وخت نۀ دے رارسېدلے چې زما زيارت وکړې؟ بلال په خفګان او پرېشانئ سره له خوبه راپاڅېد او په خپل مرکب باندې سپور شو او مدېنې منورې ته لاړ او د خداے د ګران رسول صلی الله علیه و آله وسلم د قبر خوا ته اودرېد او ډېر يې وژړل او خپل مخ يې په قبر مبارک باندې وسولوۀ. [3]

## ۴-د دويم خليفه د زوے تبرک حاصلول:

ابن حمله وائي د حضرت عمر زوے عبدالله به خپل ښے لاس د خداے د ګران رسول صلی الله علیه و آله وسلم په قبرمبارک باندې ايښودۀ او د بلال په شان به يې دواړه مخه په قبر باندې سولول. [4]

## ۵- د عطاء تبرک حاصلول:

---

مستدرک هغه کتاب دے چې يو بل کتاب د متمم په توګه او په همدغو شرائطو سره هغه حديثونه چې د سلف له کتاب څخه پاتي شوي دي راغونډ کړي دي.

[1]- وفاء الوفاء ۴ ټوک ۱۴۰۴ مخ، کشف الارتياب ۳۴۷ مخ.

[2]- الغدير ۵ ټوک ۱۴۹ له هغو څيزونو څخه چې حېرانوونکي دي دا دي چې حتی بني اميه ؤ له هغه ټول الحاد ،باطني کفر او د خداے له ګران رسول صلی الله علیه و آله وسلم او د هغوي له اهلبېتو علیه السلام سره د ټولې دښمنئ باوجود د خداے د ګران رسول صلی الله علیه و آله وسلم د قبر مبارک په شرافت باندې عقيده لرله. ځکه چې کله امام حسن مجتبی علیه السلام شهيد کړے شو نو د هغه قدرمن امام د وصيت مطابق د خداے له ګران رسول صلی الله علیه و آله وسلم سره د عهد د تجديد لپاره خلقو غوښتل چې د هغه امام جنازه مبارکه د خداے د ګران رسول صلی الله علیه و آله وسلم قبر مبارک ته نزدې يوسي. نو بني اميه ؤ په دې خيال چې غواړي امام د خپل نيکۀ د قبر مبارک په خوا کښې دفن کړي وسلې سنبالې کړې او په ډېرې سختئ سره يې د دغه کار مخنيوے وکړ او دليل يې دا وړاندے کړ چې ولې عثمان بن عفان خليفه دې د بقيع په هديره کښې دفن کړے شوے وي او امام حسن دې د پېغمبراکرم صلی الله علیه و آله وسلم د قبر په خوا کښې دفن کړے شي؟ او دا چې که د قبر لپاره د احترام ، شرف او برکت خبره نۀ وې نو بيا ولې بني هاشمو د امام حسن علیه السلام جنازه د هغه حضرت د وصيت مطابق له خپل نيکۀ سره د عهد د تجديد په خاطر غوښتل د قبر خوا ته يې يوسي. نو ايا دا کار له پېغمبراکرم صلی الله علیه و آله وسلم سره د توسل پېداکولو او تبرک حاصلولو نه علاوه څه بل څه وو؟ او د حېرانتيا خبره دا ده چې ولې بني اميه ؤ په دې کار باندې افسوس کوۀ چې دريم خليفه ولې د پېغمبراکرم صلی الله علیه و آله وسلم له قبر مبارک نه لرې په جنت البقيع هديره کښې ښخ کړے شو او د نيکۀ په خوا کښې د امام حسن علیه السلام د ښخولو خنډ جوړ شول.؟ ايا دا چاره د عامو مسلمانانو په نزد د خداے د ګران رسول صلی الله علیه و آله وسلم د قبر مبارک له فضيلت او شرف نه علاوه څه بل څه وو؟ افلا تعقلون ( کشف الارتياب ۳۴۴ مخ )

[3]- سير اعلام النبلاء ۱ ټوک ۳۵۸ مخ، اسدالغابه ۱ ټوک ، ۲۰۸ مخ، شفاء السقام ۳۹ مخ

[4]- کشف الارتياب ۴۳۲ مخ، شفاء ۲ ټوک ۱۹۹ مخ، وفاء الوفاء ۴ ټوک ۱۴۰۵ مخ.

مصعب زبيري وائي: د ابي زبير له زوے نه مې واورېدل چې وې ويل: مالک راته وويل: عطا بن ابي رياح مې وليد چې جومات ته داخل شو د منبر موړې يې ونيوې او د قبلې په لور يې مخ کړ.[۱]

عطاء څوک دے؟
ذهبي وائي: عطاء د خلقو پېشوا، شيخ الاسلام او د حرم شريف مفتي ؤ چې له صحابه ؤ نه به يې حديثونه نقلول او د صحاحو خاوندانو ترې رواپتونه نقل کړي دي.[۲]

## ۲- د ابن ابي المنکدر تابعي تبرک حاصلول:

هغه له خپلو ملګرو سره ناست ؤ چې ژبه يې بنده شوه او خبرې يې نۀ شوې کولې ( يعنې څه بيماري ورته ولګېده ) په همدغه حال کښې پاڅېد او خپل مخ يې د خدا ے د ګران رسول صلی الله عليه و آله وسلم په قبر مبارک پورې وسولوۀ او بيا راستون شو. له دې امله چې يو ځل داسې د دوستانو له محفل نه پاڅېدلے ؤ نو ملګرو ملامته کړے ؤ هغۀ ورته په ځواب کښې وويل. ما ته چې هر کله څه مشکل راپېښ شي نو د خدا ے د ګران رسول صلی الله عليه و آله وسلم له قبر نه شفاعت غواړم.[۳]
ذهبي وائي: يعنې د نبي اکرم صلی الله عليه و آله وسلم له قبر نه مرسته غواړم.[۴]

## د سني فقهاؤ نظريه

۱- د ابن حنبل فتوا: ابن جماعه شافعي وائي: عبدالله بن احمد بن حنبل له پلار څخه دا روايت نقل کړے دے چې له پلار نه مې د هغه کس په باره کښې پوښتنه وکړه چې د خدا ے د ګران رسول صلی الله عليه و آله وسلم منبر مبارک باندې لاسونه راکاږي او تبرک ترې حاصلوي او منبر مبارک ښکلوي، او همداسې اعمال د

---

[۱]- سير اعلام النبلاء ۸ ټوک **۵۴** مخ.
[۲]-سيراعلام النبلاء **۵** ټوک ۷۸ مخ، د صحاحو خاوندان: يعنې بخاري، مسلم، ابن ماجه، ابي داؤد، ترمذي، نسائي.
[۳]- ذهبي د ابن المنکدر په حقله وائي: هغه امام، پېشوا، حافظ او شيخ الاسلام ؤ. چې څه د پاڅه په دېرشم کال کښې زېږېدلے دے، له پېغمبراکرم صلی الله عليه و آله وسلم او همدا رنګ له سليمان او ابي رافع وغيره نه به يې حديثونه نقلول. صحاح سته هم له دۀ نه روايتونه نقل کړي دي او ابن معين او ابو خاتم هغه تائيد کړے دے. سيراعلام النبلاء **۵** ټوک **۳۵۳** مخ، ابن المنکدر صمات بيماري لرله او ابن منظور د لسان العرب د **۳** ټوک په **۵۵** مخ کښې د صَمَتً مادې په حقله وائي: الصمات: يعنې د اوږدې مودې لپاره د ژبې بندېدل.
[۴]- سيراعلام النبلاء **۳** ټوک، **۲۱۳**مخ ږ د پام وړ او عجبه دا چې د سيراعلام النبلاء کتاب صحيحين او معلقين د وهابي افکارو تر تاثير لاندې راغلي دي او چې کله د دا ډول روايتونو نقلولو ته رسيدلي دي نو بې له غور او فکر نه يې ورباندې نيوکې کړي دي او د دا ډول احاديث يې يا د ضعف په بهانه او يا په دې بهانه چې دا د اسلامي عقائدو په خلاف دي رد کړي دي او دا ګمان يې کړے دے چې بس وهابي نظريه او عقيده اسلامي ده.

پېغمبراکرم صلی الله علیه و آله وسلم په قبر باندې هم د ثواب لپاره ترسره کوي؟ نو په ځواب کښې يې راته وويل چې خبر دے څه باک نۀ لري.[1]
په الجامع فی العلل و معرفت الرجال کتاب کښې داسې عبارت راغلے دے: دغه کس د داسې اعمالو په وسيلې سره د خدا ے پاک تقرب او نزدېکت حاصلول غواړي، احمد بن حنبل ورته په ځواب کښې وويل: هيڅ باک نشته.[2]
۲- له ابن علا نه نقل شوي دي چې له امام احمد بن حنبل نه د پېغمبراکرم صلی الله علیه و آله وسلم د قبر او منبر د ښکلولو په حقله پوښتنه وشوه نو وې ويل: هيڅ څه منعې او باک نشته.
ابن العلا وائي دا خبره مې ابن تيميه ته وښودله نو هغۀ د احمد بن حنبل په دې خبره باندې حېرانتيا څرګنده کړه او وې ويل: په احمد باندې تعجب کوم هغه زما په نزد ډېر عظمت لري ايا دا د هغۀ کلام دے؟[3] نو په داسې حال کښې چې د احمد بن حنبل موقف د ابن تيميه لپاره حېرانوونکے ؤ نو ولې يې احمد بن حنبل په شرک او کفر باندې تورن نۀ کړ!!!!
۳- د رملي شافعي فتوا: که څوک د نبي، ولي يا يو عالم په قبر باندې لاس راکاږي او ښکل يې کړي هغه هم د تبرک حاصلولو په نيت سره نو هيڅ باک او منعې نلري.[4]
۴- هغه وائي: د هغه تابوت ښکلول چې په قبر باندې پروت وي او په هغۀ باندې د لاسونو راکښل مکروه دي. د اولياو قبرونو او مزارونو ته د ننوتو د ورونو ښکلول هم د زيارت لپاره کراهت لري خو که تبرک حاصلولو په نيت سره وي نو څه باک نۀ لري او مکروه کار نۀ دے.، پلار مې په همدې مطلب فتوا ورکړه، فقهاؤ هم په دې چاره باندې د نظر څرګندونه کړې ده: چې که د حجر اسود له ښکلولو نه عاجز وي نو په امسا سره دې اسودکانړي ته اشاره وکړي او د امسا هغه برخه دې ښکل کړي چې يې پرې حجر اسود ته اشاره کړې وي.
۵- د محب الدين طبري شافعي فتوا: په قبر باندې لاسونه راښکل او ښکلول جائز دي او د عالمانو او صالحانو عمل په همدې طريقه ؤ.[5]
۶- د شهاب الدين خفا جي حنفي فتوا: هغه په شفاء کتاب باندې په خپله شرح کښې په هغه ځا ے کښې چې دا عبارت ليکل شوے دے «چې د قبر مس کول، ښکلول، او ورسره سينه سولول مکروه دي» وائي: په دې کراهت باندې اجماع نشته او په هم دې دليل احمد او طبري وويل چې د قبر ښکلول او ورسره ځان سولول څه باک نۀ لري.[6]

---

[1]- وفاء الوفاء ۴ ټوک ۱۴۱۴ مخ.
[2]- الجامع فی العلل و معرفت الرجال ۳ ټوک ۳۲ مخ، ۲۵۰ شمېره
[3]- وفاء الوفاء ۴ ټوک ۱۴۱۴ مخ.
[4]- دا وېنا شبراملي له شيخ ابي ضياء څخه ( وفات ۱۰۸۷ ) ا المواهب المدينه کتاب په حاشيه کښې نقل کړې ده او کنزلمطالب (دحمزاوي کتاب) هم د ۳۳ ټوک په ۲۱۹ مخ کښې نقل کړې ده.
[5]- اسني المطالب ۱ ټوک ۳۳۱ مخ، وفاء الوفاء ۱ ټوک ۱۴۰۷ مخ.
[6]- شرح الشفاء ۳ ټوک ۱۷۱ مخ، وفاء الوفاء ۴ ټوک ۱۴۰۴ مخ، الغدير ۵ ټوک ۱۳۴ مخ.

۷- ابن ابي صيف يماني ( چې د مکې يو شافعي عالم دے ) وائي: د قران شريف، د حديثونو د کتابونو، او د نېکانو خلقو د قبرونو ښکلول جائز دي.[۱]
۸- د زرقاني مالکي فتوا: د قبر ښکلول کراهت لري خو د تبرک حاصلولو په نيت سره څه کراهت نۀ لري.[۲]
۹- عزامي شافعي د ابن تيميه د دې خبرو په حقله چې هر چا چې د صالحانو د قبرونو طواف وکړ يا يې پرې لاسونه راکښل نو ډېره لويه ګناه يې کړې ده، وائي: هغۀ يوه نامعلومه خبره کړې ده، يو ځل وائي چې چا دا عمل وکړ نو ډېره لويه ګناه يې کړې ده او بل ځل د داسې ډول مسائلو په حقله وائي چې شرک يې کړے دے، په داسې حال کښې چې ځينو نامتو عالمانو او فقيهانو د دۀ له پېدا کېدو نه څو پېړۍ مخکښې دا بحثونه وړاندې کړې او احکام يې هم مشخص کړې دي. د دې سړي ( ابن تيميه ) خبرې د علماؤ د ګفتار په خلاف دي. کله کله په يوه مسئله کښې د اجماع مدعي شي په داسې حال کښې چې له دې مخکښې يې په خلاف اجماع جوړه شوې وي. که څوک د ژور نظر کس وي او د هغو کسانو په کلام کښې چې له دۀ نه مخکښې يا وروسته وو او منصف او ښۀ پوهه کسان وو غور او فکر وکړي نو زمونږ خبرې ته به متوجه شي. مثلاً مسلمان عوام د قبرونو طواف کوي او لاسونه پرې راکاږي خو د علم خاوندان په دې حقله درې ډلې دي. يوه ډله يې په مطلقه توګه جائز ګڼي، يو شمېر يې مطلقاً منعې کوي البته حراموالي ته يې نۀ رسي او يوې ډلې تفصيل ورکړے دےاو ويلي يې دي چې که په يو کس باندې د مړي د زيارت شوق غالب ؤ نو په داسې حالت کښې کراهت له منځه ځي او که څوک د زيارت شوق نۀ لري نو ادب دا تقاضا کوي چې داسې عمل يعنې د قبر طواف او لاسونه پرې راکاږل دې پرېږدي. نو اوس که په هغو چارو کښې چې د هغو په ذريعې سره يې مسلمانان تکفير کړل غور وکړۀ نو د هغوي خبرې دوو مقدمو ته ګرځي چې صغرا يې باطل او کبرا يې صحيح ده. د قضيې کبرا داسې ده: له خداے پاک نه بغېر د بل چا يا د بل څه لپاره هر عبادت يو شرک عبادت دے ( صحيح ) خو صغرا يې داسې ده: د مړي يا غايب کس رابلل يا د قبر طواف کول او ورباندې د لاس راکښل يا د مړي لپاره حلاله يا نذر کول د غېرالله عبادت دے ( دا صغرا دروغ او کذب دے. )[۳]
۱۰- ابن حجر وائي: ځينو فقهاؤ د حجرالاسود ښکلول د هر هغه څه چې د تعظيم مستحق وي که هغه انسان وي يا بل څه څيز وي د ښکلولو په روا والي باندې استنباط کړے دے.[۴]
۱۱- شېخ ابراهيم باجوري شافعي وائي:د قبر ښکلول او لاسونه ورباندې اېښودل مکروه دي او که د تبرک په نيت سره وي نو مکروه نۀ دي.[۵]
۱۲-شېخ عدوي حمزاوي مالکي وائي: په دې کښې شک نشته چې د خداے د ګران رسول صلی الله عليه و آله وسلم د قبر ښکلول له خداے پاک څخه د تبرک له حاصلولو نه بغېر بل څه نۀ دي او دا چاره د جواز له حېثه د اولياؤ د قبرونو له ښکلولو نه زيات حق لري، هغه هم د تبرک په نيت سره.[۱]

---

۱- الغدير ۵ ټوک ۱۵۳ مخ.
۲- شرح المواهب ۸ ټوک ۳۱۵ مخ.
۳- فرقان القرآن ۱۳۳ مخ.
۴- وفاء الوفاء ۴ ټوک ۱۴۰۵ مخ.
۵- شرح فقه شافعي ۱ ټوک ۲۷۲ مخ، القدير ۵ ټوک ۱۵۴ مخ.

۱۳- کشف الارتیاب له کفایه شعبي، فتاوی الغرائب، مطالب المومنین و خزانه الروایه نه یو روایت نقلوي چې د مور پلار د قبر ښکلول څه باک نهٔ لري ځکه چې یو سړے د خداے د ګران رسول صلی الله علیه و آله وسلم په خدمت کښې حاضر شو او عرض یې وکړ: اے د خداے رسوله ما قسم خوړلے دے چې د جنت درشل او د حورالعین تندے به ښکلوم. د خداے ګران رسول صلی الله علیه و آله وسلم ورته حکم ورکړ چې د مور قدمونه او د پلار تندے دې ښکل کړه. هغه سړي وویل چې اے د خداے ګران رسوله! که مې مور پلار ژوندي نهٔ وي نو بیا؟ ورته یې وفرمایل چې د مور پلار قبرونه دې ښکل کړه. سړي عرض وکړ که د هغوي قبرونه و نهٔ پېژنم نو؟ وې فرمایل دوه کرښې راکاږه او نیت وکړه چې یو قبر دې د مور دے او بل دې د پلار دے بیا هغه دواړه کرښې ښکلې کړه او دغه شان کوم قسم چې دې خوړلے دے هغه پوره کړه. [2]

## د خداے د ګران رسول صلی الله علیه و آله وسلم له آثارو څخه تبرک حاصلول

د مسلمانانو سیرت له پخوا نه واخلې تر ننه پورې په دې چاره باندې ګرځېدلے دے چې د خداے د ګران رسول صلی الله علیه و آله وسلم له منبر مبارک، او له هغه ځاے څخه چې هغه حضرت به ورباندې نمونځ ادا کوۀ او د هغوي د د قدمونو له ځاے څخه به یې تبرک حاصلوۀ او دغه شان له هر هغه څیز څخه چې هغه حضرت به ورته ګوتې وروړې وي، او د مدینې منورې له خاورې په خاصه توګه د هغه حضرت له قبر مبارک ، د حضرت امیر حمزه سیدا لشهداء د قبر له خاورو څخه به یې تبرک حاصلوۀ. د دغه سیرت څو نمونې وړاندې کوو:

### د خداے ګران رسول صلی الله علیه و آله وسلم له منبر مبارک څخه تبرک:

د خداے د ګران رسول صلی الله علیه و آله وسلم منبر مبارک د مسلمانانو په نزد ډېر احترام او لوړ مقام لري. په دا ډول چې ځینو فقهاؤ د خداے د ګران رسول صلی الله علیه و آله وسلم له منبر مبارک سره نزدې د هغۀ د احترام په خاطر قسم خوړل منعې کړي دي او تل به یې له منبر مبارک څخه تبرک حاصلوۀ.

۱- بخاري وائي: مروان له منبر سره نزدې د زېد بن ثابت د قسم خوړلو له مخې حکم جاري کړ. [3]

۲-عاقولي ویلي دي د خداے د ګران رسول صلی الله علیه و آله وسلم منبر مبارک د وخت په تېرېدو مات شو بني عباسو خلفاؤ هغه بیا جوړ کړ او له منبر نه له باقي پاتې لرګیو څخه د تبرک لپاره د وېښتو لپاره ږومنزې

---

[1]-کنزالمطالب ۲۰مخ، الغدیر ۵ ټوک ۱۵۴مخ، مشارق الانوار ۱ ټوک ۱۴۰ مخ.

[2]- کشف الارتیاب ۳۵۰ مخ.

[3]- صحیح بخاري ۳ ټوک ۲۴۳ مخ، یو لړ نمونې نورې هم موجودې دي چې د دې حقیقت بیانوونکې دي چې صحابهٔ به د خداے د ګران رسول صلی الله علیه و آله وسلم له منبر مبارک څخه تبرک حاصلوۀ، ابراهیم بن عبدالرحمن بن عبدالقاري وائي: د ابن عمر د کار کتونکے وم چې لاس یې د منبر په هغه ځاے باندې راکښکۀ چې د خداے ګران رسول صلی الله علیه و آله وسلم به ورباندې تشریف اېښوده او بیا یې لاسونه په خپل مخ باندې راکښکل. او همدا رنګ له منبر سره نزدې د قسم خوړلو په حقله حدیثونه موجود دي چې ارواښاد ایت الله میانجي نقل کړي دي. ( د تفصیل لپاره کتاب التبرک ، له ۱۳۲ نه تر ۱۳۷ مخونو پورې رجوع وکړئ. )

جوړې کړې ځکه چې د خداے د ګران رسول صلی الله علیه و آله وسلم صحابهٔ به هم د هغه حضرت د منبر د لمس کولو ډېر اهتمام کوۀ. [1]

۳- په آثار نبویه کتاب کښې راغلي دي چې د خداے د ګران رسول صلی الله علیه و آله وسلم منبر په خپل ځاے پروت ۋ چې یو وخت یې اور واخېست چې په دې وجه د مدینې خلقو ته یو دردناک غم او تکلیف ورسېد ځکه چې د خداے د ګران رسول صلی الله علیه و آله وسلم د منبر مبارک غاړې او موړې چې خپل لاسونه مبارک به یې هلته اېښودل او دغه شان د پښو مبارکو اېښودو ځاے اوسوزېد. [2]

۴-یزید بن عبدالله بن قسیط وائي: یو شمېر صحابه مې ولیدل چې کله جومات خالي شونو د خداے د ګران رسول صلی الله علیه و آله وسلم د منبر مبارک چې د هغه حضرت د قبر نبي طرفت ته پروت ۋ موړې ونیوې او د قبلې په لور یې مخ کړ او دعا یې وغوښته.[3]

۵-شېخ احد بن الحمید ( چې د لسمې پېړۍ یو لوے عالم دے ) وائي: خلقو به د خداے د ګران رسول صلی الله علیه و آله وسلم د منبر مبارک له لرګیو څخه تبرک حاصلوۀ. [4]

۶-سمهودي وائي: د خداے د ګران رسول صلی الله علیه و آله وسلم د منبر مبارک ته چې د هغه حضرت په روضه کښې پروت ۋ یو بل منبر د غلاف په شان اچولې شوے ۋ او پکښې یې طاخونه ( سورنګونه ) پرېښودي وو نو خلقو به په هغو سورنګونو کښې خپل لاسونه ورکول په اصل منبر به یې راکاږل او تبرک به یې ترې حاصلوۀ. [5]

## په دې حقله د فقهاؤ فتوې

۱- د امام مالک له استاد یحیی بن سعید انصاري، له مالک، ابن عمر او ابن مسیب څخه نقل شوي دي چې د منبر شریف په غاړو او موړو باندې لاس راکښل جائز دي.[6]

۲- امام جعفر صادق علیه السلام فرمائي: چې کله د خداے د ګران رسول صلی الله علیه و آله وسلم د قبر مبارک په خوا کښې له دعا نه فارغ شوې نو د منبر مبارک خوا ته راشه او په هغۀ باندې لاسونه کېږده او د

---

[1]- ( التبرک ۱۳۹ مخ.

[2]- الاثارالنبویه ۳۱ مخ.

[3]- الطبقات الکبری ۱ ټوک ۱۳ مخ، وفاء الوفاء ۴ ټوک ۱۴۰۱ مخ ، د ابن قسیط په حقله ویل شوي دي چې هغه د خپلې زمانې د فقهې امام ، او د حدیثونو ثقه راوي دے او د صحاح سته خاوندانو د هغۀ له لارې روایتونه نقل کړي دي. یو امانتدار سړے ۋ او خلقو به د هغۀ له امانت دارۍ او فقهې څخه استفاده کوله په ۱۲۲ هجري قمري کښې وفات شو( سیر اعلام النبلاء ۵ ټوک ۲۶۶ مخ. )

[4]- عمده الاخبار ۱۳۵ مخ.

[5]- وفاء الوفاء ۲ ټوک ۳۹ مخ.

[6]- الصارم المنکي ۱۳۲ مخ٫ وفاء الوفاء ۴ ټوک ۱۴۰۳ مخ، سیراعلام النبلاء ۵ ټوک ۴۲۸ مخ.

منبر مبارک د دواړه خواو موړې له لاندې نه ونیسه او خپلې سترګې او مخ وربانديې د پاسه وسولوه چې دا کار د سترګو د شفاء لپاره ښهٔ دے.[۱]

۳- اسحاق بن ابراهیم وائي : د حاجي شان دا دے چې مدینې منورې ته لاړ شي او د خداے د ګران رسول صلی الله علیه و آله وسلم په جومات کښې نمونځ ادا کړي او د هغه حضرت له روضې، قبر ، منبر او د هغوي د ناستي له ځاے او له هغوځایونو څخه چې هغه حضرت په لاسو سره لمس کړي دي تبرک حاصل کړي. د خداے د ګران رسول صلی الله علیه و آله وسلم د قدمونو مبارکو د اېښودو له ځایونو ، او له هغې ستنې څخه چې هغه حضرت به ورته ډډه وهلې وه او جبرائیل علیه السلام به پرې نازلېدهٔ تبرک حاصل کړي. او همدا رنګ تبرک دې حاصل کړي له هغو کسانو څخه چې دغه ځایونه يې مرمت کړي وي که هغه صحابه وي که تابعین وي او که د مسلمانانو امامان وي.[۲]

۵- غزالي وائي: هر هغه کس چې د خداے د ګران رسول صلی الله علیه و آله وسلم د ژوند په دوران کښې يې د هغه حضرت په لیدو سره له هغهٔ څخه تبرک حاصلوهٔ د هغهٔ له رحلت نه پس هم کولې شي د هغهٔ په زیارت کولو سره تبرک حاصل کړي او د دې چارې لپاره جائز دي چې د خداے د ګران رسول صلی الله علیه و آله وسلم د زیارت لپاره د سفر بار وتړلے شي.[۳]

## د پېغمبراکرم صلی الله علیه و آله وسلم او د نورو د قبر له خاورې څخه تبرک حاصلول

د مسلمانانو سیرت په دې باندې ؤ چې د خداے د ګران رسول صلی الله علیه و آله وسلم او حضرت حمزه (رض) د قبر او حتی د ټولې مدینې منورې له خاورو څخه به يې تبرک حاصلوهٔ لکه چې په دې حقله چې د مدینې منورې خاوره د هرې بیمارۍ ، د جذام او سر درد وغېره بیماریو شفاء لرونکې ده یو لړ روایتونه نقل شوي دي او مسلمانو فقهیانو په د ذکر شویو مواردو کښې د تبرک د رجحان او د تبرک د جائزوالي فتوې ورکړې دي.

۱- سمهودي وائي: صحابه ؤ او غېر صحابه ؤ به د خداے د ګران رسول صلی الله علیه و آله وسلم د قبر مبارک خاوره اخېسته.نو بي بي عائشې هغوي متفرق کړل او هغه دیوال چې سورے يې لرۀ او له هغه ځاے څخه به يې د قبر مبارک خاوره اخېسته بند کړ. ویل شوي دي:چې دا کار يې د دې لپاره وکړ چې د صحابه ؤ او غېر صحابه ؤ دا عمل د قبر مبارک د سورې کېدو او د قبې شریفې د نړېدو سبب کېدهٔ.

۲- هغه وائي: مسلمانانو به د مدینې منورې له خاورې څخه د تبرک لپاره استفاده کوله. د مثال په توګه هغوي به د صهېب له قبر[۴] څخه د تبې د علاج لپاره استفاده کوله. بیا د زرکشي خبره راوړي او وائي چې د مدینې خاوره بل ځاے ته وړل د دې لپاره چې دغه ښار مقدس دے او دا چې د خداے د ګران رسول صلی الله

---

۱- وسائل ۱۰ ټوک ۲۷۰ مخ ۷ باب.

۲- الصارم المنکي ۱۴۸ مخ.

۳- احیاء العلوم ۱ ټوک ۲۵۸ مخ.

۴- دلته استباه شوې ده صهېب د چا قبر نه بلکې د یو ځاے نوم دے

عليه و آله وسلم حرم مبارک دغلته دے جائز نهٔ دي، البته له دې عدم جواز نه د سيدا لشهداء حمزه له قبر نه خاوره وړل مستثنی شوي دي ځکه چې ټول په دې باندې اتفاق لري چې خاوره يې د شفا او علاج لپاره څه باک نهٔ لري.[1]

۳- صنهاچي وائي: له احمد بن يکوت نه مې د قبرونو د خاورو په حقله چې خلق يې د تبرک لپاره وړي پوښتنه وکړه چې دا عمل جائز دے يا منعې دے؟ په ځواب کښې يې وويل: جائز دے. خلق تل د عالمانو، شهيدانو او نېکانو له قبرونو څخه تبرک حاصلوي او زمونږ د آقا او مولا حمزه د قبر خاوره (د تبرک لپاره) له پخوا نه تر اوسه اخېستل کيږي.[2]

۴- ابن فرحون وائي: نن خلق هغه خاوره چې د حضرت حمزه د قبر په خوا کښې ده وړي او له هغې نه د تسبو دانې جوړوي، هغهٔ د خلقو په دې عمل باندې استدلال وکړ چې د مدينې منورې خاوره وړل جائز دي.[3]

## د مدينې منورې د خاورې په وسيله د بمياريو د علاج په حقله حديثونه

۱- سمهودي وائي: د ابن نجار له کتاب او د ابن جوزي له الوفا کتاب نه دا حديث زمونږ لپاره نقل شوے دے چې ((د مدينې دوړه د جذام يعنې برګي مرض لپاره شفاء ده.))

۲- ابن اثير [4] په جامع الاصول کښې له سعد نه نقلوي چې کله د خدا ے ګران رسول صلی الله عليه و آله وسلم له تبوک څخه راستنېدهٔ نو د مدينې يو شمېر مومنان يې د هرکلي لپاره مخې ته ورغلل. دغه وخت د هغوي په راتګ سره خاورې او دوړې اوچتې شوې نو ځينو هغو کسانو چې د خدا ے له ګران رسول صلی الله عليه و آله وسلم سره ملګري وو خپلې پوزې پټې کړې خو د خدا ے ګران رسول صلی الله عليه و آله وسلم هغه پوښښ چې په مخ يې اچولےؤ لرې کړ او وې فرمايل: زما دې په هغه چا قسم وي چې زما ځان يې په قبضه کښې دے چې بې له شکه د مدينې دوړې د هرې بيمارۍ شفاء ده.

۳- له ابي سلمه نه نقل شوي دي چې د خدا ے له ګران رسول صلی الله عليه و آله وسلم څخه يوه وېنا مونږ ته رارسېدلې ده چې هغه حضرت وفرمايل: د مدينې دوړه چذام بيماري ختموي. مونږ وايو چې مونږ يو کس وليد چې د جذام بيماري يې لرله او چې د مدينې له خاورې نه يې د شفاء لپاره استفاده وکړه نو د هغهٔ مرض

---

[1]- وفاء الوفاء ۱ ټوک ۲۹ مخ.

[2]- وفاء الوفاء ۱ ټوک ۱۱۲ مخ.

[3]- وفاء الوفاء ۱ ټوک ۱۱۲ مخ.

[4]- ابوالسعادت مبارک بن محمد چې په ابن اثير جرزي شافعي مشهور دے او په ۲۰۲ کال کښې وفات دے د دغه کتاب په تاليف کښې د رزين کتاب اصل او بنياد ګرځولے دے، ځکه چې رزين د شپږو کتابونو (بخاري، مسلم، موطا، سنن ابي داؤد، جامع ترمذي او سنن نسائي) د اخبارو په يوه برخه باندې اکتفا کړې ده. ابن اثير د ذکر شويو ټولو کتابونو نور روايتونه ضميمه کړي او د اختصار لپاره يې د روايتونو اسناد لرې کړي او يوازې د اخبري راوي (صحابي يا تابعي) ذکر يې کړے دے. البته د کتاب په اخبر کښې يې د ټولو راويانو ذکر د حروفو په ترتيب سره کړے او همدا رنګ د هغه کتاب نوم چې نومړے حديث پکښې ذکر شوے وي د هر حديث په سر کښې راوړےدے. هغهٔ په دغه کتاب کښې بابونه هم د حروفو په ترتيب سره راوړي دي، او له دې وجې چې ځينو روايتونو شرحې ته او يا د مشکل الفاظو وضاحت ته ضرورت لرهٔ نو دا کار يې د هغو ترځنګه کړے دے. ځينو سني عالمانو د دغه کتاب اختصار وړاندې کړے دے.

نور هم زيات شو. چې هغه مجبور شو چې له کوره بهر وځي او د سپېڅې خاورې د يوې غونډۍ په لور ( چې د قبا په لاره کښې د بطحان په وادۍ کښې ده ) لاړ شي او د هغه ځاے په زمکه باندې خپل بدن وسولوي او خاوره يې له ځان سره راوړي چې بې شکه دې عمل هغهٔ ته فائده ( شفا) ورکړه.
۴- ابن زباله ، يحيى بن حسن بن جعفر العلوي او ابن نجار نقلوي چې د خداے ګران رسول صلى الله عليه و آله وسلم بلحارث قبيلې ته ورغے نو هغوي يې د سالنډۍ او ذهني پرېشانۍ په بيمارو اخته وليدل. ورته يې وفرمايل چې تاسو ولې له دغو بيماريو سره مخامخ شوئ؟ هغوي ورته عرض وکړ چې اے د خداے رسوله! د تبې په وجه! ورته يې وفرمايل: نو تاسو چرته يئ او صهېب سيمه چرته ده؟ هغوي وويل: په صهېب کښې څه وکړو؟ ورته يې وفرمايل: له هغه ځاے څخه خاوره راوړئ، بيا له تاسو نه يو کس دې په هغې خاورې باندې د خپلې خولې لاړې واچوي او او دې وائي: اے خدايه! زمونږ د زمکې خاوره دې زمونږ د ځينو د خولې په لاړو سره د خداے په اذن زمونږ د بيمار شفا وي. بس هم دا کار يې وکړ او له هغوي څخه تبه لاړه. ابن نجار له خپلو خبرو نه وروسته وائي: ابو قاسم بن يحيى علوي وائي:صهېب په بطحان سيمه کښې له ماجشونيه سيمې څخه لاندې يوه دره ده او هلته يوه کنده ده چې خلق ترې خاوره وړي، نن سبا که څوک په وبا باندې اخته شي نو له هغه ځاے څخه خاوره راوړي او د شفاء لپاره يې له يو ځاے نه بل ځاے ته وړي او ما هم له دغې خاورې نه څه خاوره خپلو دوستانو ته د علاج لپاره لېږلې ده.
سمهودي هم د زرکشي له خبرو نه پس وائي: د حرم د خاورې د وړلو له منعې کولو څخه د حضرت حمزه عليه السلام د قبر خاوره مستثنا شوې ده. ځکه چې مسلمانان له پخوا نه تر اوسه پورې په دې باندې اتفاق لري چې دحضرت حمزه عليه السلام د قبر خاوره د سردرد د علاج لپاره څه باک نهٔ لري. ابن نجار وائي: هر کله چې څوک د زرکشي په کلام باندې پوه شي نو ورته معلوميږي چې د صهېب خاوره ترې مستثنا [1] شوې ده.

## له هغو سيکو او سرو زرو څخه تبرک حاصلول چې د خداے ګران رسول صلى الله عليه و آله وسلم لمس کړل.

۱- جابر بن عبدالله انصاري [2] وائي: زهٔ د خداے له ګران رسول صلى الله عليه و آله وسلم سره وم، په يو اوښ باندې سپور وم چې بيمار شوم او زهٔ له قافلې نه وروسته پاتے شوم. د خداے ګران رسول صلى الله عليه و آله وسلم راستون شو او وې فرمايل: اے جابره! ولې وروستو پاتے شوې. و مې ويل: اوښ مې بيمار دے. د خداے ګران رسول صلى الله عليه و آله وسلم اوښ له لکۍ ونيوهٔ او وې شړلو. جابر وائي: ما به بيا دا عمل کوهٔچې په نتيجه کښې په وړومبيو کسانو کښې شامل شوم. کله چې مدينې ته نزدې شو، د خداے ګران رسول صلى الله عليه و آله وسلم راته وفرمايل: اوښ دې څه شو؟ ومې ويل چې بيمار دے، پېغمبراکرم صلى الله عليه و آله وسلم وفرمايل: دا اوښ دې په ما باندې خرڅ کړه، ومې ويل: نه دا ستاسو خپل مال دے، درته

---

۱- وفاء الوفاء ۱ ټوک ۲۹ مخ.
۲- جابر بن عبدالله بن عمر بن حرام انصاري، دې له هغو څو تنو صحابهٔ څخه دے چې د خداے له ګران رسول صلى الله عليه و آله وسلم نه يې ډېر حديثونه نقل کړي دي.

مې در وبخښلو. هغه حضرت وفرمایل: نه، اوښ دې په څلوېښت درهمه اخلم. تهٔ په اوښ باندې سپور شه. کله چې مدینې ته ورسېدې نو له اوښ سره ما ته راشه. جابر وائي: کله چې مدینې ته ورسېدم نو په اوښ باندې د خدا ے دګران رسول صلی الله علیه و آله وسلم په خدمت کښې حاضرشوم نو هغه حضرت بلال ته وویل: د جابر لپاره په وقیه [1] سره وزن وکړه او یو قیراط هم ورته زیات ورکړه. جابر وائي: ومې ویل چې دغه اضافه قیراط به هیڅ کله تر مرګه پورې له ځانه جدا نهٔ کړم. هغه قیراط مې یوه تېلا کښې واچوهٔ او هر وخت به مې له ځان سره ساتهٔ ، ان تردې چې شامیانو او امویانو د حرّه په ورځ چې مدینه منوره یې ولوټله نو دغه قیراط یې له مانه واخېست. [2] دغه کس د خدا ے د ګران رسول صلی الله علیه و آله وسلم جلیل القدر صحابي حضرت جابر بن عبدالله انصاري ؤ چې له هغه قېراط څخه چې د خدا ے ګران رسول صلی الله علیه و آله وسلم ورته عطا کړے ؤ تبرک حاصلوهٔ او هغه یې په حفاظت کښې ساتهٔ، په داسې حال کښې چې لا د خدا ے ګران رسول صلی الله علیه و آله وسلم حیات ؤ اوحتی چې دغه صحابي په دې خبره باندې پخلے کوهٔ چې دغه قېراط به تر مرګه پورې له ځان سره ساتي.

۲- د پېغمبراکرم صلی الله علیه و آله وسلم یوه بي بي سره د نورو ښځو د خدا ے له ګران رسول صلی الله علیه و آله وسلم سره خېبر ته لاړه او د خدا ے ګران رسول صلی الله علیه و آله وسلم د غنیمت یوه برخه هغوي ته ورکړه. د هغه حضرت بي بي د ټولو ښځو په نمائندګۍ هغه حضرت ته ورغله او ورته یې وویل: اے د خدا ے رسوله! مونږ ښځې غواړو چې له تاسو سره خېبر ته راشو او د خپل توان مطابق د مسلمانانو مرسته وکړو. د خدا ے ګران رسول صلی الله علیه و آله وسلم وفرمایل: خدا ے پاک دې برکت در عطا کړي. هغه وائي چې له پېغمبراکرم صلی الله علیه و آله وسلم راوواتو او چې کله خېبر فتح شو او مونږ ته کومه برخه راورسېده له هغو څخه د خدا ے ګران رسول صلی الله علیه و آله وسلم زما په غاړه کښې ( دسرو) یو امېل

---

[1]- د حدیث په عبارت کښې د اوقیّه ، وقیّه او قیراط په شان الفاظ راغلي دي.

[2]- د کافرو امویانو له بې شرمو اعمالو څخه یو په مدینه منوره باندې حمله وه چې په تاریخ کښې د « حرّه » په واقعه باندې یاده شوې ده. د امام حسېن علیه السلام له شهادت نه پس په اکثرو اسلامي سیمو په خاصه توګه په مدینه منوره کښې یو هېجان راپورته شو ، د مدینې حاکم د دې لپاره چې د یو تدبیر ښودنه وکړي. یو شمېر کسان د خپلو استازیو په توګه دمشق ته ولېږل چې فاسق خلیفه ورته انعامونه ورکړي. او چې کله مدینې ته راستانهٔ شي خلق د یزیدلعنت الله علیه اطاعت ته وهڅوي.. په دغو استازیو کښې د غسیل ملائېکه حنظله (رض) زوے هم ؤ، هغه چې کله یزیدله نزدې نه ولید نو وې کتهٔ چې یزید له سپو سره لوبې کوي، شراب څښي او حتی ټول غېر شرعي او خلاف کارونه کوي. نو په دې وجه چې کله هغه مدینې ته راستون شو نو خلقو ته یې وویل: چې د داسې یو کس له خوا نه راغلم چې شراب څښي، او له خپلو مائېندو خوېندو سره نکاح کوي او اصلاً دین نهٔ لري. د دې خبرو په اورېدو سره په خلقو کښې یو سخت شورش رااوچت شو او خلقو د اموي حاکم او خاندان له مدینې نه ووېستل. کله چې د خلقو د شورش خبر شام ته ورسېد. نو یزید لعنت الله علیه د مسلم بن عقبه لعنت الله علیه په مشرۍ یو لښکر مدینې ته ولېږهٔ. دغه لښکر مدینه محاصره کړه. د مدینې خلقو څو ورځې مقاومت وکړې شو خو زر یې وسله وغورزوله. د یزید بن معاویه لښکر چې مدینې ته داخل شو نو ډېرې بدې غمېزې یې رامنځته کړې او تر خپل وسه پورې یې د خلقو قتل عام وکړ. او تر څو چې یې کولې شول د خلقو په ناموسونو باندې یې حملې او تیري وکړل. ابو الحسن مداینې وائي: د حره له غمېزې او تړېجدېي نه پس یو زر ښځو حرامیان بچي وزېږول. او مسلم بن عقبه لعنت الله علیه دومره زیات قتل عام وکړ چې خلقو به ورته د مسلم په ځا ے مسرف بن عقبه ویل: مسند احمد بن حنبل ۳ ټوک ۳۱۴ مخ، سنن نسائي ۷ ټوک ۲۷۹ مخ.

واچوۀ. په خدا ے مې دې قسم وي چې هغه مې هیڅکله له ځانه جدا نۀ کړ او وصیبت مې وکړ چې دغه امېل دې له ما سره په قبر کښې دفن شي.[1]
د پېغمر اکرم صلی الله علیه و آله وسلم دغې بي بي له هغه امېل څخه چې د خدا ے د ګران رسول صلی الله علیه و آله وسلم لاس مبارک ورسره لګېدلے ؤ تبرک حاصلوۀ او فخر یې ورباندې کوۀ او وصیت یې وکړ چې دغه امېل دې له هغې سره په قبر کښې هم ښخ کړے شي. او په هغې باندې هیڅ چا څه نیوکه او تنقید ونکړ او ورته یې بدعتي، کافره او مشرکه و نۀ ویل.

## د پېغمبر اکرم صلی الله علیه و آله وسلم له اثارو څخه تبرک حاصلول

۱- انس بن مالک وائي: د خدا ے ګران رسول صلی الله علیه و آله وسلم مې ولید په داسې حال کښې چې نائي ورته وېښتۀ سمول او صحابه تري ګېر چاپېره ولاړ وو او هر اصحابي یې یو یو وېښتۀ په لاس کښې نیولے ؤ.[2]
۲- د پېغمبراکرم صلی الله علیه و آله وسلم له وېښتۀ مبارک څخه تبرک حاصلول: احمد بن حنبل به تل له ځان سره یو وېښتۀ ساتۀ او ویل به یې چې دا وېښتۀ مبارک د خدا ے د ګران رسول (ص) د ے.[3]
۳- محمد بن سیرین وائي: عبېد ته مې وویل: ما سره د خدا ے د ګران رسول صلی الله علیه و آله وسلم له وېښتو مبارکو څخه یو وېښتۀ د ے چې د انس په ذریعه راته رارسېدلے د ے. عبېد وویل: که ما سره د خدا ےدګران رسول صلی الله علیه و آله وسلم یو وېښتۀ موجود وې نو زما لپاره به له دنیا او له هغه څه چې په دنیا کښې موجود دي غوره او محبوب وې.[4]
۴-کبشه وائي: د خدا ے ګران رسول صلی الله علیه و آله وسلم زمونږ خوا ته راغے او د هغه مشک له خولې څخه یې اوبۀ وڅښلې چې هلته زوړوند ؤ زۀ پاڅېدم او د مشک هغه خوله مې را پرې کړه (او له ځان سره مې

---

[1]- السیرۀ الحلبیه ۲ ټوک ۷۷۰ مخ.
[2]- په دې حقله روایتونه ډېر دي کرماني په خپل مناسک کتاب کښې لیکي: چې کله د خدا ے ګران رسول صلی الله علیه و آله وسلم د عقبه رمي جمره ترسره کړه او په منا کښې خپل د استوګنې ځا ے ته ستون شو او قرباني یې وکړه، بیا یې نائي راوبالۀ او هغۀ ته یې وویل چې د سر د ښي اړخ لږ وېښتۀ مې پرې کړه، بیا دغه وېښتۀ یې ابو طلحه ته ورکړل چې په خلقو کښې یې وویشي. بیا یې نائي ته وویل چې د سر د کیڼ طرف څه وېښتۀ مې پرې کړه او هغه یې هم ابوطلحه ته ورکړل چې په خلقو کښې یې وویشي. ویل کیږي چې خالد بن ولید د خدا ے د ګران رسول صلی الله علیه و آله وسلم د تندي طرف لږ وېښتۀ لرل او هغه به یې په خپله ټوپۍ کښې اېښودل او په جنګ کښې به کامیابېدۀ. (تبرک الصحابه ۸ او ۹ مخونه) او ځینې هغه څیزونه چې نقل شوي دي او انسان حېرانوي دا دي چې کله معاویه د مرګ په حال کښې ؤ نو وصیت یې وکړ چې د خدا ے د ګران رسول صلی الله علیه و آله وسلم له قمیص، پرتوګ، ردا او وېښتو سره دې ښخ کړے شي. اوس که کېدې شي چې دا وصیت یې تظاهر ، ریا یا دروغ وي خو بیا هم په هر حال ویلې شو چې تبرک هغه چاره ده چې په مسلمانانو کښې رائجه وه (جامع الاصول (۴ ټوک ۱۰۲ مخ) صحابه ؤ به د خدا ے د ګران رسول صلی الله علیه و آله وسلم د اوداسۀ (چارندام) له اوبو څخه د شفاء حاصلولو لپاره د هغو اوبود حاصلولو په سر باندې له یو بل سره جګړه کوله. (بخار ۳ ټوک ۳۵ مخ، ۱۸۷ حدیث، تاریخ طبري ۳ ټوک ۴۷۵ مخ.)
[3]- سیر اعلام النبلاء ۱۱ ټوک ۲۵۲ او ۲۳۰ مخونه
[4]- سیر اعلام النبلاء ۱۱ ټوک ۲۵۲ او ۲۳۰ مخونه

وساتله ).[1] ابن ماجه د دې حديث په دوام کښې وائي: دا کار ښائي چې له هغه ځيز څخه چې د خداے ګران رسول صلی الله عليه و آله وسلم پرې خوله مبارکه لګولې ده تبرک حاصل کړے شي.[2]
ترمذي دا حديث حسن او صحيح بللے دے.[3] او دا حديث احمد بن انس له ام سليم نه روايت کړے دے.[4]

**۵**- راوي له سهل بن سعد نه نقلوي : د خداے ګران رسول صلی الله عليه و آله وسلم او د هغوي صحابه په سقيفه بني ساعده کښې کښېناستېدل او له سهل نه يې اوبۀ وغوښتې ، سهل وائي ما اوبۀ په يوې کاسه کښې واچولې او په هغوي مې اوبۀ وڅښولې، راوي وائي چې سهل ما ته هغه کاسه مبارکه وښودله او له هغې کاسې څخه يې په ما باندې اوبۀ وڅښولې. عمر بن عبدالعزيز ( چې په هغه وخت کښې د مدينې حاکم ؤ) له سهل نه وغوښتل چې هغه کاسه مبارکه ما ته راوبخښه.او سهل هم ورته وروبخښله. بخاري وائي: ما دغه کاسه مبارکه په بصره کښې وليدله او له هغې څخه مې اوبۀ وڅښلې او هغه مې د نصر بن انس له وارثانو نه په اتۀ لکه درهمه واخېسته.[5]

**۶**- ام المومنين بي بي عائشه وائي: خلقو به خپل بچي د خداے ګران رسول صلی الله عليه و آله وسلم ته راوستل او هغوي به متبرک کول.[6]

---

[1]- الجامع الصحيح للترمذي ۴ ټوک ۳۰۲ مخ ۱۴۹۲ حديث. له کبشه نه مراد کبشه د ثابت لور ده. هر کله چې د صحابه ؤ او غېر صحابه ؤ دا ټولو اعمال ګورو چې د خداے د ګران رسول صلی الله عليه و آله وسلم له اثارو څخه تبرک حاصلوي نو بيا څنګه نۀ شو کولې د هغه حضرت له مقام څخه تبرک حاصل کړو؟ تبرک خپله يو ډول وسيله ده، هرکله چې تبرک يوه روا چاره وه نو ايا د هغه حضرت د مقام د وسيلې له جوړولو څخه انکار وکړو او هغو کسانو ته چې دا اعمال ترسره کوي مشرکان ووايو؟ ايا هغو کسانو ته کافران ويلې شو چې د خداے د ګران رسول صلی الله عليه و آله وسلم په کاسه باندې به يې د تبرک لپاره اوبۀ ښبلې؟ او يا دا چې دغه يو شمېر کسان ( وهابيان ) دې خپلو عقائدو ته بيا کتنه وکړي. او تل دې بنا په دې باندې کوي چې له دين څخه عقلاني دفاع وکړي او له دغو ټولو تاريخي شواهدو او اثارو نه دې انکار و نۀ کړي؟

[2]- سنن ابن ماجه ۲ ټوک ۱۱۳۲ مخ.

[3]- الجامع الصحيح ترمذي ۴ ټوک ۳۰۲ مخ.

[4]- مسند احمد بن حنبل ۳ ټوک ۱۱۹ مخ.

[5]- ابن حجر په فتح الباري کښې له ۱۰۱ نه تر ۱۰۳ مخونو پورې دغه حديث نقل کړے دے او ويلي يې دي. عمر بن عبدالعزيز په دغه زمانه کښې د مدينې حاکم ؤ او دغه کاسه وربخښل چې د سهل لخوا يې پېه ونيوه حقيقي بخښل نۀ دي بلکې صرف يو ډول اختصاص دے په بله معنا له دې امله چې نبوي آثار نه خرڅېدې شي او نۀ د چا ملکيت جوړېدې شي بلکې هر څوک يې چې لري يو ډول اختصاص د هغۀ لپاره رامنځته کيږي.

[6]- الاستيعاب ۱ ټوک ۵۱ مخ له صحيح مسلم نه په نقل سره، ابن حجر د الاصابه د ۱ټوک په ۵ مخ کښې وائي: هر ماشوم چې به د خداے د ګران رسول صلی الله عليه و آله وسلم د حيات په دوران کښې پېدا کېدۀ نو د خداے ګران رسول صلی الله عليه و آله وسلم ته به يې راوستۀ او هغه به يې ليدۀ، کله به چې يو ماشوم پېدا شو انصارو به هغه د رسول اکرم صلی الله عليه و آله وسلم خدمت ته د تبرک لپاره راوستۀ. د هغو کسانو نومونه چې د خداے ګران رسول صلی الله عليه و آله وسلم هغوي تحنيک کړل، د خپلې خولې مبارکې لاړه يې د هغوي په خوله کښې اچولې او سرونه يې ورته مسح کړي دي د تاريخ په کتابونو کښې ليکل شوي دي. د هغو کسانو په سر کښې چې هغه حضرت به ورته د خپلې خولې جوېه خوراک ورکوۀ مولی الموحدين اميرالمومنين حضرت امام علي عليه السلام دے. ( السيرۀ الحلبيه ۱ ټوک ۲۰۳ مخ، ينابيع الموده ۷۳ مخ. )

۷- مسلم [۱] په واسطې سره له اسما بنت ابوبکر نه نقلوي: دا جامه د خدا ے د ګران رسول صلی الله علیه و آله وسلم ده، راوي وائي چې اسماء وائي: یوه ارته او اوږده جامه چې په اوږو باندې اچول کیږي کسروانیه چې د رېښمي کپړې یقه یې لرله، او مخې او شا ته یې په هم هغې ریښمې کپړې سره ګنډل شوې ده. اسماء وائي دغه جامه له بي بي عاېشې سره وه چې هغه وفات شوه نو هغه جامه ما واخېسته. دغه کپړه به د خدا ے ګران رسول صلی الله علیه و آله وسلم اغوسته، ما به هغه په اوبو سره وینځله او له هغو اوبو نه به مې د بیماریو د شفاء لپاره استفاده کوله. وائي: دا خبرې د اسماء بنت ابوبکر دي چې تر ۷۳ هجري پورې ژوندۍ وه او حتی د هغې د زوے عبدالله بن زبېر له قتل نه وروسته هم ژوندۍ وه، بي بي عائشه یې خور وه چې په ۶۰ هجري کښې وفات شوې وه. د پېغمبراکرم صلی الله علیه و آله وسلم د جامې د وینځلو نه په پاتې اوبو سره د شفاء د حاصلولو بهیر لږ تر لږه له ۶۰ هجرۍ نه تر ۷۳ هجرۍ پورې دوام ولرۀ او د هغې دا عمل د امام حسېن علیه السلام په شان د خدا ے د ګران رسول صلی الله علیه و آله وسلم د اهلبېتو او د ابن عباس، جابر بن عبدالله انصاري، زېد بن ارقم، او انس بن مالک (رض) په شان د هغه حضرت صلی الله علیه و آله وسلم د اصحابانو په وړاندې ؤ او هیڅ یو د هغې دا عمل ناروا و نۀ بلۀ او هغه یې ترې نه منعې نکړه. نو بس دا عمل دا خبره څرګندوي چې د داسې یو عمل یعنې د خدا ے د ګران رسول صلی الله علیه و آله وسلم له اثارو څخه تبرک او شفاء حاصلول د مسلمانانو په نزد ثابت او د قبول وړ وو. البته د داسې اعمالو د حراموالي ګنګوسې له هغه وخت نه واوربدلې شوې چې د ابن تیمیه عجیبه عجیبه فتوې څرګندې شوې او ابن عبدالوهاب نجدي او د هغۀ پېروکار یې هم جاري ساتونکي شول. دوي د خدا ے د ګران رسول صلی الله علیه و آله وسلم له جامو او د دا ډول نورو مبارکو اثارو څخه د شفاء او تبرک حاصلول شرک ګڼلے دے. او د داسې اعمالو جائزوالے د ابن تیمیه حرّاني په فتوو سره نسخ شو.

۸- جمال الدین، عبدالله بن محمد انصاري محدث [۲] وائي: زۀ او زما استاد تاج الدین فاکهاني [۳] دمشق ته په سفر لاړو او د مشتق په دارالحدیث اشرفیه کښې له خپل مولا رسول اکرم صلی الله علیه و آله وسلم متعلق نعل ( کېړۍ ) مبارک زیارت ته ورغلو. دغه وخت هم زۀ ورسره وم، زما استاد چې کله نعل مبارک ولید نو سرپوښ یې ترې اوچت کړاو هغه یې ښکلوۀ او په مخ او سترګو یې هغه کېړۍ مبارکه مخښله او په داسې حال کښې چې له سترګو یې اوښکې جاري وې دا شعر یې ویۀ: که مجنون ته وویل شي چې لیلی ته

---

۱- مسلم په ۲۰۲ کال کښې وزېږېد او د حدیثونو له اخېستو لپاره یې حجاز، عراق، شام او مصر ته سفرونه وکړل، د حدیثو له مشائخو منجمله له احمد بن حنبل څخه یې د علم زدکړه وکړه، له هغۀ نه نقل شوي دي چې خپل صحیح یې له اورېدل شویو دریو لکو حدیثونو څخه تالیف کړ. مسلم د ۲۶۱ کال د بزرګې په میاشت کښې د ۵۵ کالو په عمر کښې په نیشابور کښې وفات شو.

۲- د دغه کس د پېژندګلو لپاره د معجم المؤلفین د ۶ ټوک ۱۱۵ مخ ته رجوع وکړئ. محدث هغه کس ته ویل کیږي چې استادان یې پېژندلي، او په علل او نقائصو باندې خبر وي او د راویانو نومونه او د هغوي د ژوند ورته معلوم وي او د زیاترو روایتونو متنونه یې خفظ وي.د محدث عنوان د حافظ له عنوان څخه په مرتبه کښې کم وي.

۳- د هغۀ په باره کښې ویل شوي دي چې یو فقیه دے چې په حدیث، اصولو او عربي علومو کښې دانا ؤ. په ۷۳۱ هجري کښې وفات شو. التحفه المختاره فی الردّ علی منکر الزیاره د هغۀ له کتابونو څخه دي. ( معجم المومنین ۷ ټوک ۲۹۹ مخ. )

رسېدل غواړې یا دنیا او هغه څه چې په دنیا کښې موجود دي هغه غواړې؟ نو مجنون به وائي چې د لېلی د کېږدۍ خاورې زما له پاره غوره دي او هغه زما لپاره له مصیبت څخه د شفاء سبب دي.[1]

**۹**- نافع وائي: که عبدالله بن عمر مو لیدلے وې چې د خداے دگران رسول صلی الله علیه و آله وسلم له آثارو څخه پېروي کوي نو ویلي به مو وې چې دا لېونے دے.[2] او همدا رنګ وائي: ابن عمر به د خداے له ګران رسول صلی الله علیه و آله وسلم څخه له پاتې اثارو څخه اتباع کوله او په هر ځاے کښې چې رسول اکرم صلی الله علیه و آله وسلم نمونځ ادا کړے ؤ نو دۀ به هم هلته نمونځ کوۀ، حتی ابن عمر هغه ونه چې هغه حضرت به ورلاندې کښېناستېدۀ په حفاظت کښې ساتلې وه او د هغې به یې ډېر خیال ساتۀ او دغې ونې ته به یې اوبۀ ورکولې چې اوچه نۀ شي.[3] مالک وائي: ابن عمر د خداے د ګران رسول صلی الله علیه و آله وسلم له مبارکو اثارو او حالاتو څخه پېروي کوله او د دې عمل به یې ډېر اهتمام کوۀ او دغه اهتمام به یې تر دې حده زیات کوۀ چې خلق یې په عقل باندې وویرېدل.[4]

نافع د ابن عمر په حقله وائي:هغۀ به د مکې په لاره کښې د خپل اوښ سر ته اشاره کوله او ویل به یې: کېدې شي د اوښ پل د اوښ په پل باندې راشي، یعنې د هغۀ اوښ خپل قدم هلته کېږدي چې په کوم ځاے کښې د پېغمبراکرم صلی الله علیه و آله وسلم اوښ مبارک قدم اېښودے دے.[5] ابن عمر به د منبر شریف له هغه ځاے څخه چې د خداے ګران رسول صلی الله علیه و آله وسلم به پرې کښېناستېدۀ تبرک حاصلوۀ.[6] ابراهیم بن عبدالرحمن وائي: ابن عمر ته به مې کتل چې هغه په هغه ځاے باندې لاسونه مخښي چې پېغمبراکرم صلی الله علیه و آله وسلم به په هغه ځاے باندې کښېناستېدۀ او بیا به یې هغه لاسونه په خپل مخ باندې راکښل.[7]

---

[1]- الدیباج المذهب ۱۸۷ مخ، الغدیر **۵** ټوک **۱۵۵** مخ.

[2]- سېر اعلام النبلاء ۳ توک ۲۱۳ مخ، حلیه الاولیاء ۱ ټوک ۳۱۰ مخ، ابن عمر هغه کس دے چې د امام علي علیه السلام په لاس یې بیعت ونکړ خو بیا وروسته مجبور شود حجاج بن یوسف لعنت الله علیه له پښې سره بیعت وکړي. ویل کیږي چې دغه وخت ډېر ضعیف او معذور ؤ نو حجاج دربار ته ورغے او ورته یې وویل چې یا امیرالمومنین غواړم چې ستا بیعت وکړم هغۀ ورته طنزاً وویل چې د امیرالمومنین ( علي علیه لسلام ) بیعت دې ونکړ او نن چې مجبور شوې نو راغے. بیا یې نو په ځاے د دې چې لاس ورته وړاندې کړے ؤ پښه یې ورته د بیعت لپاره وړاندې کړه او عبدالله بن عمر د هغۀ له پښې سره بیعت وکړ.

[3]- سیر اعلام النبلاء ۳ ټوک ۲۱۳ مخ، اسد الغابه ۳ ټوک ۳۴۱ مخ.

[4]- سیر اعلام النبلاء ۳ ټوک ۲۱۳ مخ،

[5]- سیر اعلام النبلاء ۳ ټوک ۲۳۷ مخ، حلیه الاولیاء ۱ ټوک ۳۱۰ مخ.

[6]- وفاء الوفاء ۴ ټوک ۱۴۰۲ مخ.

[7]- المنغني لابن قدامه ۳ ټوک ۵۵۹ مخ.

۱۰ ابن منکدر به تل د نبوي جومات انګړ ته راتۀ او خپل بدن به يې له هغۀ سره سولوۀ او نبغ به د جومات په انګړ کښې سملاستېد ، چې ترې د دې عمل پوښتنه وشوه نو يې وويل: ما وليدل چې د خدا ے ګران رسول صلی الله علیه و آله وسلم په دې ځا ے کښې ۏ.[1]

۱۱- مامون يحيى بن اکثم ته وويل: يو سړي د لرګي يا يوې تختې له يوې ټوټې سره چې قيمت يې د يو درهم په اندازه ۏ او د هغۀ په شان ۏ ما ته راوړه او وې ويل چې دا هغه څيز د ے چې د خدا ے ګران رسول صلی الله علیه و آله وسلم به پرې لاسونه راکښل. دغه کس زما په نزد مطمئن کس نۀ ۏ او د خپلې خبرې په رښتياوالي باندې يې څه دليل هم نۀ لرۀ، ما د خدا ے له ګران رسول صلی الله علیه و آله وسلم سره د مينې په وجه هغه څيز قبول کړ او تقريباً په زر ديناره مې ترې واخېست، هغه مې په مخ او سترګو باندې ومخښۀ او هغه څيز ته به مې په کتو او وربادې د لاس په وهلو سره تبرک حاصلوۀ او د خپلې يا د نورو د بيمارۍ لپاره به مې ترې شفاء حاصلوله او هغه څيز به مې د ځان په شان په حفاظَت کښې ساتۀ په داسې حال کښې چې ظاهراً هغه د لرګي يوه بې ارزښته ټوټه وه اوبل هيڅ فضيلت يې نۀ لرۀ بې له دې چې د خدا ے ګران رسول صلی الله علیه و آله وسلم ورسره لاسونه لګولي وو.[2]

## يحيى بن اکثم څوک د ے؟

هغه له سني امامانو څخه د ے او د سني مذهب يو لو ے عالم د ے. لکه چې دا خبره ابن کثير کړې ده.[3] هغه فاضي القضات ، فقيه، علامه او د اجتهاد له امامانو څخه ۏ او ذهبي هم په خپل کتاب کښې همداسې ويلي دي. د مامون[4] په حقله يې هم ويلي دي چې هغه د عدل مشوق ، نېک سيرته، ښۀ فکر لرونکے، هوښيار او له سترو عالمانو څخه ۏ او هغه وينئ چې له هغو څيزونو څخه چې د خدا ے له ګران رسول صلی الله علیه و آله وسلم منسوب دي تبرک حاصلوي او دغه چاره جائزه او روا ګڼي . او دا عمل به يې د هغې زمانې د يو فقيه يحيى په مخکښې کوۀ او يحيى به هغه له دې کار څخه نۀ منعې کوۀ بلکې د دې کار جائزوالے به يې تائيدوۀ.

## له هغه کاڼي څخه تبرک حاصلول چې د بي بي فاطمې سلام الله عليها په کور کښې ۏ:

---

[1]- وفاء الوفاء ۴ ټوک، ۱۴۰۲ مخ، سير اعلام النبلاء ۵ ټوک ۳۵۹ مخ، دا چې ابن منکدر وائي چې رسول اکرم صلی الله علیه و آله وسلم مې وليد چې مراد يې په خوب کښې ليدل دي ځکه چې هغه صحابي نۀ ۏ بلکې تابعي ۏ، پېدائش يې له نبوي هجرت څخه څه د پاسه دېرش کاله وروسته ۏ (وفاء الوفاء ۲ ټوک ۴۴۴ مخ، کشف الارتياب ۳۴۸ مخ.

[2]- تاريخ بغداد طيفور ۴۵ مخ.

[3]-البدايه و النهايه، ۱۰ ټوک ۳۱۲ مخ، د يحيى بن اکثم په باره کښې دا خبره د مماشات لپاره ده ګنې هسې ابن اکثم مشهور د ے چې په بدو او ناروا کارونو پسې به ګرځېدۀ: (سير اعلام النبلاء ۱۲ ټوک ۱۰ مخ) ويل کيږي چې هغه له ډېرو زياتو فاسقو قاضيانو څخه ۏ، (مستدرکات علم رجال ۸ ټووک ۱۸۹ مخ)

[4]- سير اعلام النبلاء ۱۰ ټوک ۲۷۹ مخ، البته د ځينو په نزد د عدل مشوق والے د شرابو له څښلو سره څه منافي کار نۀ د ے او مامون هم له دغو څخه يوه نمونه وه. که څه هم په دې حقله ځينو د هغۀ دفاع کړې ده چې داسې چاره د هغوي د ليکوالانو يو عادت د ے.

يحيی بن عباد وائي: کله چي ظالمانو د حضرت امام حسېن عليه السلام لور فاطمه بنت حسېن عليه السلام او د هغې خاوند حسن بن حسن عليه السلام د حضرت بي بي فاطمه زهرا سلام الله عليها له کور نه ووېستل او کور يې ورته وران کړ نو حسن بن حسن عليه السلام خپل زوے جعفر عليه السلام هغه کور ته واستوۀ او ورته يې وويل: وګوره چي ايا يو کاڼے چي فلاني فلاني صفات لري د خپل کور په بنياد کښې ابنودل شوے دے ؟ جعفر بن حسن بن حسن عليه السلام هغه کاڼے پېدا کړ، هغه ځاے يې ونړوۀ او کاڼے يې ترې بهر راووېست او پلار يې خبر کړ، پلار يې هم ډېر خوشحال شو او په زمکه باندې د شکر په سجده پرېوت، بيا يې وويل: کله چي به د خداے ګران رسول صلی الله عليه و آله وسلم د بي بي فاطمې عليها السلام کورته راتۀ نو په دغه کاڼي به يې نمونځ ادا کوۀ او يا دا چي بي بي به پرې نمونځ کوۀ ( يحيی دلته په دې خبره کښې په شک کښې دے )

اتم امام حضرت امام علي رضا عليه السلام فرمائي: بي بي فاطمه زهرا عليها السلام امام حسن او امام حسېن عليهم السلام په دې کاڼي باندې زېږولي دي.

## دلته ۱۲۲ او ۱۲۳ مخونه نشته ځکه د ۱۲۴ مخ ترجمه کوم ۱۲۸ ۱۲۹مخونه هم نشته

د خداے له ګران رسول صلی الله عليه و آله وسلم له آثارو څخه تبرک حاصلوۀ، د هغه حضرت له وېښتو مبارکو او يا د مشک له خولې څخه چي ورباندې د خداے ګران رسول صلی الله عليه و آله وسلم اوبۀ څښلې وي تبرک حاصلوۀ، همدا رنګ د خداے د ګران رسول صلی الله عليه و آله وسلم د نعل ( کېړی ) مبارک او د هغه حضرت د اوبښ د پښو پل او يا له هغه لرګي يا تختې څخه چي له هغه حضرت سره يې تعلق لرۀ او د دغه شان د هغه حضرت د قبر مبارک له خاورو وغېره څخه تبرک حاصلوۀ. او دغه کسان چي يې تبرک حاصلوۀ معمولي کسان نۀ وو بلکې ځيني صحابه وو او ځيني تابعين وو، او ځيني هم د حديثو امامان ، د صحاح سته او سننو خاوندان، استادان او فقيهان وو. له دغو ټولو شواهدو سره بل څۀ دليل لري چي ابن تيميه او د هغۀ پېروکار هغه کسان چي به يې له قبرونو په تبره بيا د خداے د ګران رسول صلی الله عليه و آله وسلم له قبر مبارک او نورو آثارو څخه تبرک حاصلوۀ تکفير کړي. ايا ابن تيميه د خپلې فتوې په لوازمو باندې پابند دے؟ او صحابه ،تابيعين، د صحاحو خاوندان او فقيهان تکفيروي؟

۶- د نورالدين بن محمود بن زنکي (وفات ۵۶۹) قبر: ابن کثير ليکي: قبر يې په دمشق کښې زيارتګاه ده او د هغهٔ چاپېره د احاطې له دريچو سره خوشبو کړې شوې وې وه او هر لاروي به له هغهٔ څخه تبرک حاصلوهٔ.[1]
۷- د ابن تيميه له جنازې څخه د هغهٔ د پېروکارو تبرک حاصلول: د ابن تيميه پېروکارو د هغهٔ د جنازې د غسل له اوبو څخه تبرک حاصلوهٔ، دلته دا پوښتنه پېدا کيږي چې ايا د هغهٔ پېروکار مشرکان او د بدعت خاوندان وو؟ ايا د هغهٔ فتوا د هغو د ملګرو په حقله عملي کيږي؟ ايا د هغهٔ د جنازې د مراسمو ترسره کوونکي ټول مشرکان وو او له مسلمانانو څخه څوک د هغهٔ په جنازه کښې شريک نهٔ وو؟ ايا د تبرک او لمس کولو جائز والے د مسلمانانو ترمېنځ يوه عقلاني او رائجه چاره نهٔ وه او نهٔ ده؟ او د داسې اعمالو په حراموالي فتوا ورکول د عقلاؤ د امر په خلاف او يوه ناروا خبره نه ده؟ د هغهٔ په جنازه کښې له هرې خوا ګڼ شمېر خلقو ګډون وکړ. خلق دومره زيات وو چې لارې ګودرې بندې شوې او خلق به وخت په وخت زياتېدل. د هغهٔ په جنازه باندې د هغهٔ پېروکارو د د تبرک لپاره عمامې او دخوشبويانو لرګي کېښودل، په پارې سره لړلې شوې يوه رسۍ چې د سپږو او ورږو د لرې کولو لپاره يې په جنازې ايښودې وه په ۱۵۰ درهمه اخېستې شوې وه.[2] دغه ټولې چارې د هغهٔ له جنازې سره وشوې خپله د ابن تيميه او د وهابيانو له نظره د شرک مظاهر دي نو په دې بنياد د هغهٔ پېروکار ټول مشرکان وو!!!

۸- د بخاري له قبر څخه د خلقو تبرک حاصلول: سبکي د بخاري د وفات او د هغهٔ د دفن کولو په حقله ليکي: خلقو به د هغهٔ د قبر خاورې اخېستې ان تردې چې د قبر لاندې برخه راڅرګنده شوه او د هغهٔ د قبر حفاظت ناممکن شو نو له دې امله مو د قبر د پاسه د لرګي صندوق غوندې ولګوه چې پکښې سورې سوري وو او نور نو چا اصل قبر ته ګوتې نهٔ شوې وړې.[3]
۹- له يحيی بن مبارک (وفات ۳۷۲) څخه تبرک حاصلول: ابن بشکوال وائي: هغه د خپلې زمانې يو زاهد او د خپل ښار يو عابد کس ؤ او خلقو به ترې تبرک حاصلوهٔ او د دعا لپاره به ورته ورتلل.[4]

## له شخصيتونو او څيزونو څخه تبرک حاصلول

۱- سبکي وائي: کله چې مې پلارد اشرفيه د دارالحديث په لوېه کوټه کښې (۷۴۲ کال) ساکن شو نو تل به د شپې په وخت يې ايوان ته ورتلهٔ او په هغه اثر شريف (قالين يا غاليچه) باندې به يې عبادت کوهٔ او خپل

---

[1]- البدايه والنهايه، ۱۲ ټوک، ۳۵۳ مخ، الغدير، ۵ ټوک، ۲۰۳ مخ هغه د شام حاکم ؤ د هغهٔ په باره کښې ويل شوي دي چې په اروپا کښې به يې جهاد کوهٔ، امر بالمعروف به يې کوهٔ او دنيا يې په مخکښې ناڅه وه. تقريباً پنځوس ښارونه يې د کفارو له تسلط نه ازاد کړل. (البدايه والنهايه ۱۲ ټوک ۳۰۲مخ.)
[2]- البدايه والنهايه ۱۴ ټوک ۱۳۶ مخ، الکني والالقاب ۱ ټوک ۲۳۷ مخ.
[3]- طبقات الشافعيه ۲ ټوک ۲۳۲ مخ، سيراعلام النبلاء ۱۲ ټوک ۴۶۷ مخ.
[4]-سيراعلام النبلاء ۱۲ ټوک ۳۴۵ مخ.)

مخ به يې په هغهٔ باندې مخښلو. دغه قالين يا غاليچه د اشرف (د هغهٔ د وقف كوونكي) وخت ته ګرځي او نووي به د درس په وخت په هغهٔ باندې كښېناستېدهٔ.[۱]

۲- له داؤدي څخه تبرک حاصلول: ذهبي له سمعاني نه نقلوي: داؤدي د خراسان له لوړو علمي شخصيتونو څخه ؤ او د دې استحقاق لري چې انسان له ډېر لرې نه له هغهٔ څخه د تبرک حاصلولو لپاره سفر وكړي.[۲]

۳- له قواس څخه د دارقطني تبرک حاصلول: دارقطني وائي: مونږ به له ابي الفتح القواس څخه هغه وخت چې لا ماشوم ؤ تبرک حاصلوهٔ.[۳]

۴- له لرګيو څخه تبرک حاصلول: حافظ محمد بن يوسف بخاري وائي: د حج په ورځو كښې له يحيى بن معين سره د يوې جمعې په شپه مدينې منورې ته داخل شو او يحيى په هم هغه شپه وفات شو، كله چې سحر شونو د وفات خبر يې په خلقو كښې خپور شونو خلق راغونډ شول، په دې كښې بني هاشم راغلل او وې ويل: دغه لرګي چې د خداے ګران رسول (ع) ته د دې د پاسه غسل وركړے شوے ؤ راوړئ، ځيني خلقو د دغو لرګيو له راوړو څخه ډډه كوله او دا خبره يې په دې نهٔ قبلوله چې هسې نه د خداے د ګران رسول صلى الله عليه و آله وسلم په شان كښې څه جسارت وشي ځكه چې دغه كس داسې څه لياقت نهٔ لري نو په دې وجه بحث جوړ شو. بني هاشمو وويل مونږ د پېغمبراكرم صلى الله عليه و آله وسلم سره نزدې خلق يو او دا سړے چې وفات دے د دې چارې صلاحيت لري چې د دې لرګيو د پاسه ورته غسل وركړې شي، نو بس له دې امله ورته په هغو لرګيو باندې غسل وركړے شو او د جمعې په ورځ (۲۲۳ هجري كال) دفن كړے شو.

عباس الدوري وائي: دغه كس وفات وموند او هغه يې د هغو لرګيو د پاسه چې د خداے ګران رسول صلى الله عليه و آله وسلم ته ورباندې غسل وكړے شوے ؤ يوړهٔ.[۴]

۵- له كوهي څخه تبرک حاصلول: غزالي د نبي اكرم صلى الله عليه و آله وسلم د زيارت او د هغهٔ د آدابو په بحث كښې وائي: زائر دې بيا د اوبس نومې كوهي ته راشي ځكه چې ويل شوي دي چې د خداے ګران رسول صلى الله عليه و آله وسلم په دغه كوهي كښې د خپلې خولې مباركې لاړې (د تبرک په توګه) واچولې. دغه كوهے د جومات په خوا كښې دے او د خداے ګران رسول صلى الله عليه و آله وسلم د كوهي په اوبو باندې اودس وكړ او له هغې يې اوبه وڅښلې. په مدينه كښې ټول مشاهد او مساجد دېرش ځايونه دي چې د ښار اوسيدونكو ته معلوم دي او زائر دې د خپل توان او وس مطابق هغو ځايونو ته لاړ شي. او له پېغمبراكرم صلى الله عليه و آله وسلم څخه د تبرک او شفاء حاصلولو لپاره دې هغه كوهي ته لاړ شي چې د خداے ګران رسول صلى الله عليه و آله وسلم هلته اودس كړے په هغو اوبو يې غسل كړے او ترې نه يې څښلي دي.[۵]

---

۱- طبقات الشافعيه ۸ ټوک ۳۹۲ مخ.)

۲- سيراعلام النبلاء ۱۸ ټوک، ۲۲۳ مخ، الانساب ۲ ټوک ۴۴۸ مخ.

۳- سيراعلام النبلاء ۱۲ ټوک ۴۷۵ مخ، تاريخ بغداد ۱۴ ټوک ۳۲۷ مخ

۴- سيراعلام النبلاء ۱۱ ټوک له ۹۱ نه تر ۹۵ مخونه.

۵- احياء العلوم ۱ ټوک ۲۲۰ مخ.

۷- د احمد له قمیص څخه تبرک: د احمد زوی له پلار څخه یو قمیص د یادګار په توګه لرۀ چې هغه وائي په هغه قمیص کښې نمونځ ادا کوم او تبرک ترې حاصلوم.[۱]

نو اوس ایا د سمر قند اوسیدونکي چې په ۲۵۷ کال کښې محمد بن اسماعیل بخاري وفات شو او د هغۀ د قبر له خاورو څخه یې تبرک حاصلوۀ کافران او مشرکان وو؟ ایا هغه کسان چې بخاري غسل او کفن ورکړ او هغه یې دفن کړ کافران وو؟ ایا دغه نمونې چې وړاندې شوې له توحید څخه د هغوي د انحراف خبر ورکوي؟ تاسو په کوم جرات سره په مسلمانو باندې یرغل وکړ او داسې ناروا ناروا نسبتونه مو ورته ورکړل او ورکوۀ یې؟ نو بس ستاسو د کلام پاکي او تقوا چرته ده؟ ستاسو دا افکار او فتوې چرته د اسلام او نبوي سنت مطابق دي؟

مونږ په دغه هومره تاریخي نصوصو باندې بسنه کوو چې د دې حقیقت بیانونکي دي چې د مسلمانانو له قبرونو، او د هغوي له اثارو څخه د تبرک حاصلول د پېغمبراکرم صلی الله علیه و آله وسلم له وخت نه تر ننه پورې په اسلامي ټولنه کښې له رائجو او مرسومو چارو څخه وو او دي. بلکې پکښې د هغو د جواز، رجحان او استحباب وضاحت هم شوی دی. او ذهبي نقل کړي دي چې عبدالله بن احمد بن حنبل وائي پلار مې احمد بن حنبل ولید چې د خدای د ګران رسول صلی الله علیه و آله وسلم یو وېښتۀ مبارک ورسره ؤ، هغه به یې په جامو باندې اېښودو او ښکلوو به یې، زۀ ګمان کوم چې هغه وېښته مبارک یې په سترګو باندې اېښې ؤ .همدا رنګ به یې هغه په اوبو کښې ډوبوۀ او هغه اوبۀ به یې د شفاء لپاره څښلې. و مې لیدل چې د خدای د ګران رسول صلی الله علیه و آله وسلم کاسه به یې د اوبو په ذخیره کښې وېنځله او بیا به یې له هغې څخه اوبۀ څښلې. ذهبي وائي څۀ ډول انسان د احمد له کار څخه انکار کولې شي؟ په داسې حال کښې چې عبدالله له پلار څخه د هغه کس په حقله چې د پېغمبراکرم صلی الله علیه و آله وسلم د منبر مبارک په غاړو او موړو او کوټه باندې لاس راکښکۀ پوښتنه وکړه، هغۀ ورته وویل: په دې عمل کښې څه باک او منعې نۀ وینم، ځان او تاسو د خوارجو او بدعتیانو له دغو افکار (یعنې دې کارونو سره مخالفت کوونکو) نه په خدای پاک سپارم.[۲]

---

[۱]- احیاء العلوم ۱ ټوک ۲۲۰ مخ.

[۲]- سیراعلام النبلاء ۱۱ ټوک ۲۱۲ مخ.

په تاریخ کښې په مطالعې سره د وهابیت د افکار او د هغوي فتوې په یو خطرناک فکري بهیر باندې مبني دي چې قران مجید د داسې خطرناکو افکارو له خپرولو څخه خلق ویرولي دي او دا د خوارجو له بهیر نه هم خطرناک بهیر دی. دا افکار د امویانو له افکارو نه اخېستې شوي او د هغو نقل دی. د سورۀ اسراء ۶۰ مبارک ایت فرمائي:

وړومبی فقره: وَإِذْ قُلْنَا لَكَ إِنَّ رَبَّكَ أَحَاطَ بِالنَّاسِ

دویمه فقره: وَمَا جَعَلْنَا الرُّؤيَا الَّتِي أَرَيْنَاكَ إِلاَّ فِتْنَةً لِّلنَّاسِ

دریمه فقره: وَالشَّجَرَةَ الْمَلْعُونَةَ فِي القُرْآنِ

څلورمه فقره: وَنُخَوِّفُهُمْ فَمَا يَزِيدُهُمْ إِلاَّ طُغْيَانًا كَبِيرًا ↔

↔ «رایاد کړه هغه وخت چې درته مو وویل: چې ستا خدای په خلقو باندې کامله احاطه لري او هغه خوب چې مو تا ته وښودو یوازې د خلقو د ازمېښت لپاره ؤ. همدا رنګ ملعونه شجره چې په قران کښې مو ذکر کړې ده، مونږ هغوي وویرول خو له سترې سرکشۍ او طغیان نه بغېر بل څیز په هغوي زیات نه شول.» خدای پاک دغه خوب بیان نکړ چې څه ؤ او هم ایت مبارک دا بیان نۀ

کړ چې په قران مجید کښې  له ملعونه شجرې څخه مراد څه دے چې خداے پاک د خلقو فتنه ګرځولې ده او په قران شریف کښې داسې شجره نۀ ده راغلې چې خداے پاک یې نوم اخېستے وي او بیا ورباندې لعنت ویلې وي. ایت مبارک دغو دوو فقرو ته د اجمالي اشارې کوشش کوي او له سیاق څخه په استفادې سره د هغو په تفصیل باندې پوهېدې شو. په دویمه فقره کښې په غور کولو سره به دې خبرې ته ورسیږو چې هغه شجره چې په قران شریف کښې وربانديې لعنت شوے دے هم دا اوس د قران مجید د لعنت کوونکو تر مېنځ شتون لري، ځکه چې فرمائي: (( وَالشَّجَرَةَ الْمَلْعُونَةَ فِي الْقُرْآنِ )) او ظاهر یې د فعلیت ښودنه کوي. د دې مطلب په نظر کښې لرلو سره اوس قران مجید ته مراجعه کوو چې کوم څېزونه په قران شریف کښې د لعنت وړ ګرځیدلي دي:  په ابلیس، یهودو، مشرکانو منافقانواو داسې نورو خلقو باندې په قران مجید کښې لعنت ویلے شوے دے. مثلاً هغه کسان چې په کفر سره له دنیا نه ځي، یا د خداے پاک ایتونه پټوي او یا خداے پاک او دهغۀ ګران رسول صلی الله علیه و آله وسلم ازاروي. او همدا رنګ چې کله د ((شجره )) کلمې ته پاملرنه کوو نو دې ته متوجه کیږو چې  (( شجره )) له دې نه علاوه چې په هغو ونو باندې چې تنه لري ، په هغو جرړو باندې هم اطلاق کیږي چې له هغو نه فرعي څانګې راټوکیږي. ( لکه مذهبي او اعتقادي جرړې ) په لسان العرب کښې راغلي دي چې کله ووائي فلانے کس له مبارکې شجرې څخه دے نو معنا یې دا ده چې مبارک خاندان لري. د خداے ګران رسول (ص) په زیاترو موقعو فرمائیلي دي چې: زۀ او علي له یوې شجرې څخه یو.

اوس چې کله د خداے پاک په مبارکو ایتونو کښې غور او تدبر وکړو نو راته څرګندیږي چې له ملعونه شجرې څخه مراد یو ملعون او لعنت کړے شوے قوم دے چې له یوې جرړې څخه یې څانګې پېدا کړې او وده یې موندلې ده. او د یو ونې په شان یې څانګې شوي دي او اسلامي امت د هغې په ذریعې سره ازمېښت شوے دے او کیږي. د شجرې چې دا صفات وي نو له دریو څخه په یوې ډلې باندې تطبیق کیږي: مشرکان، منافقان او د کتاب خاوندان ( اهل کتاب ). له شواهدو څخه دا خبره ترلاسه کیږي چې هغوي جرړې لري او څانګې لري په نسل زیاتونې او اولاد پېدا کولو سره د مسلمانانو ترمنځ ژوند کوي او د خلقو دین او دنیا فاسدوي او هغوي له فتنې سره مخامخوي او په نسل زیاتولو سره په مسلمانانو کښې ژوند کوي . اوس له دغو درې واړو څخه کومه ډله د مبارک ایت مصداق ده؟ ایا له مبارک ایت نه مراد مشرکان او اهل کتاب کېدې شي؟ نه، ځکه چې داسې صفات د مشرکانو او اهل کتابو لپاره نۀ له هجرت نه مخکښې او نه له هجرت نه پس څرګند شوي دي، ځکه چې خداے پاک فرمائي:  مونږ مسلمانان د هغوي له شر نه ساتلي دي ( سورۀ مائده ۳ ایت ) په دې مېنځومان کښې پاتې کیږي یوازې منافقان چې په ظاهره مسلمانان وو او د نسل په زیاتولو او د اولادونو په راوړولو او یا د فکري بهیر په زیاتولو سره یې اسلام له خطر سره مخامخ کړ. د دغو اړخونو په نظر کښې لرلو سره دا معلومیږي چې خداے پاک دغه (( ملعونه شجره )) رسول اکرم صلی الله علیه و آله وسلم ته په خوب کښې ښودلې وه او بیا یې په قران شریف کښې بیان کړه چې هغه شجره چې تا ته مې په خوب کښې وښودله په اسلام کښې فتنه ده. دا مطالب له عامو روایتونو سره سمون خوري او خاص احادیث یې هم تائیدوي. په دغو روایتونو کښې راغلي دي چې له رؤیا نه مراد هغه خوب ؤ چې د خداے پاک ګران رسول صلی الله علیه و آله وسلم د بني امیه په حقله ولید او (( ملعونه شجره )) هم دغه خاندان دے. البته نسل یې اوس په خلقو کښې نشته خو انحرافي افکار یې په خلقو کښې موجود دي او خواسته او ناخواسته یو شمېر مسلمانان د داسې الحادي تفکراتو تر تاثیر لاندې راغلي دي،

سیوطي په درالمنثور کښې له ابن جریر څخه اوهغۀ له سهل بن سعد څخه روایت نقل کړے دے چې د خداے ګران رسول صلی الله علیه و آله وسلم په خوب کښې ولیدل چې بني فلانے ( امیه ) د هغۀ د منبر باندې ټوپونه وهي، هغه شان چې څنګه بیزوګانې ټوپونه وهي. نو ډېر خفه شو او تر څو چې ژوندے ؤ نو چا بیا په خنده و نۀ لید. او خداے پاک ذکر شوے مبارک ایت نازل کړ. همدارنګ په درالمنثور کښې له ابن حاتم نه او هغۀ له ابن عمر نه روایت نقل کړے دے چې د خداے ګران رسول صلی الله علیه و آله وسلم وفرمایل: ما د حکم بن العاص اولاد په خوب کښې ولید چې په منبر باندې ختلي دي او د بېزوګانو په شکل وو.او خداے پاک د سورۀ اسراء دغه مبارک ایت نازل کړ چې له شجرې نه مراد د حکم بن ابی العاص خاندان دے. په درالمنثور کښې سیوطي له ابن مردویه نه او هغه له بي بي عایښې نه نقلوي چې روزي مروان بن حکم ته وویل چې ما خپله د خداے له ګران رسول ( ص) نه واورېدل چې ستا پلار او نیکۀ ته یې وفرمایل چې تاسو هغه په قران کښې ملعونه شجره یئ. په مجمع البیان کښې له امام جعفر صادق علیه السلام او ابو جعفر علیه السلام نه روایت نقل شوے دے چې وې فرمایل: د دغه تاویل له مخې په قران کښې ملعونه

# استغاثه او د حاجتونو غوښتنه

۱- د وهابیت نظریه
۲- د وهابیت په نظریه باندې رد
۳- پېغمبرانو ته استغاثه ژوندو انسانانو ته استغاثه ده
۴-د پېغمبراکرم صلی الله علیه و آله وسلم قبر مبارک ته د استغاثې لپاره د دریم خلیفه حکم
۵- قبرونو ته استغاثه
۶- د هغو ځینو شخصیتونو یوه نمونه چې یې قبرونو ته استغاثه کړې ده.

---

شجره هم هغه بني امیه خاندان دے. د لا زیاتې مطالعې لپاره تفسیرالمیزان ۱۳ ټوک د سورۀ اسراء ۶۰ ایت تفسیر ته مراجعه وکړئ.

## د مدد او حاجت غوښتې په حقله د وهابیت نظریه

ابن تیمیه وائي: «که یو کس یو مړي ته چې په برزخ کښې وي ووائي: ما ته پام وکړه ( یا راورسېږې ) یا له ما سره مدد وکړه، یا زما شفاعت کوونکے شه، یا له ما سره په دښمن باندې په کامیابۍ کښې مرسته وکړه او داسې نورې جملې چې د هغو پوره کول یوازې د خدا ے په قدرت کښې دي د شرک له قسمونو څخه دي.» [1]

هغه په زیارت القبور ولاستنجاد المقبور کتاب کښې لیکي: «که یو کس د یو نبي یا یو نېک کس قبر ته راشي او له هغهٔ نه مدد وغواړي، مثلاً ووائي: بیماري یې جوړه کړي، یا قرض یې ادا کړي او د دې په شان نورې داسې چارې چې یوازې خدا ے یې په ترسره کولو باندې قادر دے څرګند شرک دے چې ویوونکےیې پکار دي توبه وباسي او که توبه یې ونهٔ وېسته نو پکار دي چې قتل کړے شي.»

او همدا رنګ لیکي: «زیاتره ګمراه کسان وائي: دغه کس له ما نه خدا ے‌ته زیات نزدے دے او زهٔ له خدا ے نه لرے یم او زهٔ نهٔ شم کولې چې خدا ے راوبولم، خو د دې کس په وسیله، او د دې په شان نورې جملې دا ټولې د مشرکانو خبرې دي.» [2]

محمد بن عبدالوهاب نجدي هم وائي: «له خدا ے نه بغېر بل څوک رابلل او ورته استغاثه کول له دین نه د وتلو او د مشرکانو او د بت پرستانو په ډله کښې د شاملېدو سبب ګرځي او د داسې کس وینه او مال مباح دي، مګر دا چې توبه وکړي.» [3]

## د دې نظریې کره کتنه او څېړنه

له غېر نه د مدد او مرستې غوښتنه په دریو صورتو کښې ده:

۱- یوازې د هغه کس په نوم سره اواز کوي او مثلاً وائي: اے محمده ( یا رسول الله! ) : اے عبدالقادره! ( اے لو ے څوانه )، اے اهلبېتو! یا علي! یا سخي! وغېره

۲- کله یې نداء په دې صورت کښې وي چې وائي: اے فلانیه زما شفیع وګرځې ( زما وسیله شې ) یا اے فلانیه ! له خدایه وغواړه چې حاجت مې پوره کړي.

۳- کله هم په دې صورت سره مدد غواړي: قرض مې ادا کړې او مرض ته یا مریض مې شفا ورکړې او اے د خدا ے رسوله ! په خپل فضل سره مې بې نیازه کړې وغېره

---

[1]- الهدیه السنیه ۴۰ مخ، یوه عجیبه خبره د ابن تېمیه دا دعوا ده چې په قران او سنت کښې د استغاثې غوښتنه نهٔ ده راغلې او امت پرې اجماع نهٔ ده کړې او دا یو لو ے شرک دے چې پېغمبراکرم صلی الله علیه و آله وسلم ورسره مقابله کړې ده.

[2]- کشف الارتیاب ۲۱۴ مخ، د دوي له دلائلو څخه یو دلیل دا دے چې له وثیمه وغېره نه نقل شوي دي چې ود، سواع، یغوث، یعوق او نسر د حضرت نوح علیه السلام د قوم د صالحو کسانو نومونه وو چې خلقو به هر وخت د هغوي قبرونو ته تګ راتګ کوهٔ د ډېرې مودې لپاره دا اعمال د دې سبب شول چې خلق د هغوي په شکل بتان جوړ کړي نو ځکه قبرونو ته تلل حرام دي.

[3]-کشف الارتیاب ۲۱۴ مخ، د دوي د نورو دلائلو او د دوي په خبرو باندې د رد لپاره د هم دغه کتاب له ۲۱۴ نه تر ۲۲۰ پورې مخونو ته مراجعه وکړئ.

له دې درې واړو څخه هيڅ يو منعې نۀ لري ځکه چې موحد مسلمان چې روغه او سالمه عقيده لري دا عقيده لري چې له خدا ے پاک نه بغېر هيڅوک په خپلو اکه توګه او په نظر کښې د خدا ے پاک له نيولو نه بغېر توان نۀ لري چې ځان ته يا بل ته څه ګټه ورسوي او يا څه ضرر له ځانه يا له بل نه لرې کړي. که يو کس دا اميد لري چې يو کس ورته څه ګټه ورورسوي او يا ترې څه ضرر لرې کړي دا د خدا ے پاک له مشيت نه بغېر نۀ دي بلکې د هغۀ غوښتنه په نظر کښې لري، که خدا ے وغواړي ضرر ترې لرې کړي او څه ګټه ور ورسوي او که و نۀ غواړي وې نۀ کړي. په نتيجه کښې هغه کس چې د خدا ے پاک د رضايت وړ د ے او خدا ے پاک غوره کړ ے او په مخلوق يې ورته برتري ورکړې ده په دې وجه دي چې دغه کس ( پېغمبر وغېره ) وسيله شي چې حاجتونه يې زر تر زره پوره شي. که يو مسلمان داسې غوښتنه وکړي نو پکار دي دا فعل يې صحيح وګڼلے شي او پکار نۀ دي چې فوراً ورباندې د مرتد کېدو فتوا جاري کړو او د هغۀ وينه، مال او ناموس مباح وګڼلې شي. داسې فتوې له ګمانونو څخه پېروي ده إِنَّ الظَّنَّ لاَ يُغْنِي مِنَ الْحَقِّ شَيْئًا نو که يو کس ووائي چې: ا ے د خدا ے ګران رسوله! له خدايه وغواړه چې حاجت مې پوره کړي نو حقيقي مقصد يې خدا ے پاک د ے چې ټول کارونه يې په اختيار کښې دي. که څوک وائي: ا ے حضرت محمده صلی الله عليه و آله وسلم ! حاجت مې پوره کړه، نودا ويل د اسنادو له بابه فعل به سبب د ے، مثلاً هلته چې ويل کېږي: پسرلي شينکے راوټوکوۀ.
زيات شمېر مبارک ايتونه موجود دي چې د فعل په ظاهر کښې بندګانو ته نسبت ورکړ ے شو ے د ے، لکه:
١- وَمَا نَقَمُواْ إِلاَّ أَنْ أَغْنَاهُمُ اللّهُ وَرَسُولُهُ مِن فَضْلِهِ [١] « هغوي يوازې په دې وجه انتقام اخلي چې خدا ے او د هغۀ رسول دوي په خپل فضل سره بې نيازه کړل. »
٢- وَارْزُقُوهُمْ فِيهَا وَاكْسُوهُمْ [٢] « او له هغۀ نه هغوي ته ورزي ورکړئ او جامې ورته واچوئ. »
٣- وَلَوْ أَنَّهُمْ رَضُوْاْ مَا آتَاهُمُ اللّهُ وَرَسُولُهُ وَقَالُواْ حَسْبُنَا اللّهُ سَيُؤْتِينَا اللّهُ مِن فَضْلِهِ وَرَسُولُهُ [٣] « او که په هغه څه باندې چې خدا ے او دهغۀ پېغمبرهغوي ته ورکړي دي راضي وي او ووائي چې خدا ے زمونږ لپاره کافي د ے او زر به خدا ے او د هغۀ رسول مونږ ته له خپل فضل څخه راوبخښي مونږ يوازې د هغۀ رضا غواړوو. »
په حقيقت کښې بې نياز کول د خدا ے پاک له خوا دي خو هغۀ څنګه خپل رسول هم په رزق ورکولو کښې شريک کړ ے د ے؟ [٤] دا په داسې صورت کښې دي چې وهابيت د « ارزقني » ( حاجت وغواړه ) په شان خبره شرک او کفر ګڼلې ده،

---

١- سورۀ توبه (٩) ٧۴ ايت

٢- سورۀ نساء (۴) ۵ ايت

٣- سورۀ توبه (٩) ۵٩ ايت

۴- له امام جعفر صادق عليه السلام څخه روايت شو ے د ے چې ابو حنيفه له هغه حضرت سره ډوډۍ خوړه کله چې امام جعفر صادق عليه السلام ډوډۍ وخوړه نو وې ويل: الحمد لله رب العالمين بيا يې وويل: ا ے خدايه ! دا طعام ستا او ستا د رسول صلی الله عليه و آله وسلم لخوا ؤ. ابو حنيفه ورته وويل: ا ے ابا عبدالله ايا د خدا ے لپاره شريک ګرځوې؟ هغه حضرت ورته وفرمايل:غلے شه، خدا ے پاک په قران شريف کښې فرمائي: وَمَا نَقَمُواْ إِلاَّ أَنْ أَغْنَاهُمُ اللّهُ وَرَسُولُهُ مِن فَضْلِه ( سورۀ توبه (٩) ٧۴ ايت ) او په بل ځا ے کښې فرمائي: وَلَوْ أَنَّهُمْ رَضُوْاْ مَا آتَاهُمُ اللّهُ وَرَسُولُهُ وَقَالُواْ حَسْبُنَا اللّهُ سَيُؤْتِينَا اللّهُ مِن فَضْلِهِ وَرَسُولُهُ ( سورۀ توبه

۴- خداے پاک عیسی علیه السلام ته د پېدائش او تخلیق او له پېدائشي جذام او ړوند والي له بیمارۍ څخه د شفاء ورکولو نسبت ورکړے دے: أَنِّي أَخْلُقُ لَكُم مِّنَ الطِّينِ كَهَيْئَةِ الطَّيْرِ فَأَنفُخُ فِيهِ فَيَكُونُ طَيْرًا بِإِذْنِ اللّهِ [1] ((زۀ له خټو نه د مارغۀ په شکل یو څیز جوړوم، بیا په هغۀ کښې پوکم او د خداے په حکم مارغۀ شي.))

نو اوس اے وهابي ملایانو! ولې دغو مواردو ته د کفر او شرک نسبت نه ورکوئ؟ که یو کس له یو پېغمبر یا د خداے له یو ولي څخه له بیمارۍ نه د شفاء یا د قرض د ادا کېدو وغېره غوښتنه وکړي او هغه هم د خداے پاک په اذن سره نو بې له څه ځنډه ورباندې زر د کفر او شرک فتوې ولګوئ. [2]

## د سمهودي خبره

شافعي وائي: چې د خداے له ګران رسول صلی الله علیه و آله وسلم سره توسل پېدا کول او هغه وسیله ګرځول له هغه حضرت څخه د یوې چارې غوښتنه ده، یعنې هغوي په دې چاره کښې سبب وګرځي او د هغه کس لپاره له خداے پاک څخه د یوې چارې غوښتنه وکړي او یا د یو کس لپاره له خداے پاک نه شفاعت وغواړي. د خداے د ګران رسول (ص) دا ډول توسل او وسیله ګرځول له هغوي څخه هم هغه د دعا غوښتل دي که څه هم عبارت یې مختلف وي (لکه توسل، وسیله، شفاعت او استغاثه وغېره) هم دا ډول خبره ده چې هغه حضرت ته عرض کوي: چې له تا نه غواړم چې له تا سره په جنت کښې یوځاے یم، نو مراد یې دا دے چې د خداے ګران رسول صلی الله علیه و آله وسلم جنت ته په داخلېدو کښې د هغۀ سبب او شافع وګرځي. [3]

---

(۹، ۵۹ ایت) ابو حنیفه وویل: په خداے مې دې قسم وي لکه چې دغه ایتونه مې نۀ وو لوستي. (کنزالفوائد ۱۹۲ مخ، وسائل: ۲۴ ټوک ۳۵۱ مخ، بحارالانوار ۴۷ ټوک ۲۴۰ مخ

[1]- سورۀ آل عمران (۳، ۴۹ ایت

[2]- ځکه چې هغه متناقضې او ګډوډې فتوې چې د قران شریف له مبارکو ایتونو سره سمون نۀ خوري په قران شریف کښې د نۀ غور او تدبر په وجه دي لکه څنګه چې مې په تېرو مخونو کښې ځینې نمونې راوړې. ابن تېمیه دعوا کوي چې: له سره په قران کښې د استغاثې غوښتل نۀ دي راغلي چې باطلوالے یې بیان کړم.

[3]- وفاء الوفال ۲ټوک ۴۲۱ مخ، وهابیت وائي که د بنده مطلوب داسې څیز وي چې یوازې د خداے په قدرت او اختیار کښې وي او وغواړي له غېر نه د هغه څیز طلب وکړي نو دا کار شرک دے، خو که مطلوب یوه داسې چاره وي چې نور یې په پوره کولو باندې قادر وي ، په یو حال کښې که له بل چا نه وغوښتې شي نو جائز کار دے او بل صورت کښې جائز نۀ دے چې د یو استغاسه کوونکي کس له ژوندون او نۀ ژوندون سره تعلق لري. ابن تیمیه په زیارت القبور رساله کښې وائي: ان کان مما یقدر علیه العبد فیجوز طلبه منه فی حال دون حال، فان مساله المخلوق قد تکون جائزه و قد تکون منهیا عنه. هغه څه چې هغوي یې دې ته سم کړل چې د داسې اعمالو په شرک والي باندې فتوا ورکړي دا دي چې وائي: د داسې کارونو په کولو سره د غېر الله عبادت ګڼل کیږي ، په داسې حال کښې چې عبادت خاص هغه خداے لره دے او خداے پاک د قران شریف په یو ایت کښې دعا عبادت بللے دے.

د دا ډول فتوو جاري کول د عبادت د صحیح معنې د نۀ درک کولو په وجه دي چې که په معنا کښې یې ښۀ تره غور او فکر کړے وے نو داسې له خنده نه ډکې خبرې به یې نۀ کولې چې د عامو او خاصو د ټوقو او مسخرو سبب وګرځي.

نو اوس د ګناه بخښل، بيمار ته شفا ورکول وغيره داسې فعلونه دي چې بې له خدای پاک نه ورباندې څوک قادر نهٔ دي. او که ووائې چې د دعا کوونکي مقصد دا دی چې د خدای ګران رسول صلی الله عليه و آله وسلم په تاثير کولو کښې خپلواکي لري او خدای پاک پکښې څه کردار نهٔ لري نو په ځواب کښې به ووايو چې هيڅ يو مسلمان د خپلې دعا په حقله داسې څه نيت او اراده نهٔ لري نو په دې بنياد استغاثه او استعانت د شفاعت او دعا لپاره غوښتنه ده او هيڅ عقلي اونقلي منعې نهٔ لري، په داسې حال کښې چې خپله وهابيت هم په دې باندې اعتراف لري چې له ژوندي انسان څخه غوښتنه جائزه ده.

ابن تيميه وائي: له پېغمبراکرم صلی الله عليه و آله وسلم نه نقل شوي دي چې فرمائي: داسې کس نشته چې د خپل ورور په پس شا باندې د هغهٔ لپاره دعا وکړي مګر دا چې خدای يوه فرښته د هغهٔ په دعا باندې ماموروي نو هغه چې هر وخت د خپل ورور لپاره دعا غواړي نو فرښته وائي چې دغه شان دعا دې ستا په برخه هم شي.[1]

له هغو څيزونو څخه چې په دعا کښې روا دي د غائب کس لپاره د هغې اجابت دی، په همدې وجه د خدای ګران رسول صلی الله عليه و آله وسلم حکم وکړ چې په هغهٔ دې درود ولېږلی شي او د هغهٔ لپاره دې له خدای پاک نه د مغفرت دعا وغوښتې شي.

په يو مبارک حديث کښې راغلي دي چې د خدای ګران رسول صلی الله عليه و آله وسلم فرمائي: « چې کله مو د موذن اواز واورېد نو چې څنګه هغه وائي تاسو هم وائې او بيا په ما باندې درود ولېږئ ځکه چې هر چا په ما باندې يو ځل درود وويلو نو خدای پاک په هغهٔ باندې لس واره درود وائي. نو بيا له خدای پاک نه زما د وسيلې غوښتنه وکړئ ځکه چې وسيله په جنت کښې يوه درجه ده چې د خدای پاک له بندګانو څخه د يو بنده لپاره ده او زهٔ اميدوار يم چې هغه بنده به زهٔ يم، نو بس هر څوک چې له خدای پاک نه زما لپاره د وسيلې غوښتنه وکړي نو د قيامت په ورځ به د هغهٔ لپاره زما شفاعت حلال وګرځي. »[2] او همدارنګ روا دي له هغه کس څخه دعا غوښتل چې له هغهٔ نه اوچت يا له هغهٔ نه لاندې وي، او په يو صحيح روايت کښې راغلي دي چې د خدای ګران رسول صلی الله عليه و آله وسلم اوېس قرني ياد کړ او حضرت عمر ته يې ووېل: « که کولې شې چې له هغهٔ څخه وغواړې چې ستا لپاره مغفرت وغواړي نو دا عمل انجام کړه. »[3]

او په يو بل حديث کښې راغلي دي خلق له اوچکلۍ سره مخامخ شول نو د خدای له ګران رسول صلی الله عليه و آله وسلم څخه يې وغوښتل چې د هغوي لپاره دې د باران غوښتنه وکړي، هغه حضرت هم له خدای پاک څخه د باران غوښتنه وکړه چې په نتيجه کښې يې په هغوي باندې باران نازل شو.[4]

نو په دې بنياد استغاثه هم هغه له هغه کس څخه د دعا غوښتنه ده چې د مرستې او مدد غوښتنه ترې کيږي. او له دې عمل څخه هيڅ منعې وجود نهٔ لري.که هغه مدد کوونکے له مدد غوښتونکي څخه په درجه کښې کم وي او يا ترې اوچت وي.

---

[1]- رسالهٔ زيارت القبور ۲ مخ، کشف الارتياب ۲۲۳ مخ.

[2]- کشف الارتياب ۲۲۳ مخ.

[3]- مسند احمد بن حنبل ۳، ۲۴۵، ۲۲۱ او ۳۸۱ مخونه.

[4]- سيراعلام النبلاء ۴ ټوک ۲۲ مخ.

## مړي ته استغاثه

وهابيان او سلفيان له مړي څخه د دعا غوښتنه جائزه نۀ ګڼي او دليل يې د «فَلَا تَدْعُوا مَعَ اللَّهِ أَحَدًا» [١] مبارک ايت ګڼي.

د دې دعوې ځواب دا دے چې دعا لغوي او اصطلاحي معنې لري د دعا لغوي معنا ندا او رابلل دي، مثلاً خدا ے پاک فرمائي: لَا تَجْعَلُوا دُعَاءَ الرَّسُولِ بَيْنَكُمْ كَدُعَاءِ بَعْضِكُم بَعْضًا [٢]
«پېغمبر، هغه ډول چې په خپلو کښې يو بل ته اواز کوئ مۀ رابولئ.»

او همدارنګ له خدا ے پاک څخه د غوښتنې او له هغۀ څخه په مطلقه توګه د دنيوي او اخروي حاجتونو د غوښتلو په معنا يې اطلاق په دې وجه دے چې دا معنا يې يوه لغوي معنا ګڼل کيږي. او يا دا چې په دې معنا کښې حقيقت عرفي شوے او مشهور شوے دے. په هر حال دعا په دويمه معنا «عبادت» نومولې شوې ده او د قران شريف مبارک ايت هم دې چارې ته اشاره کوي: ادْعُونِي أَسْتَجِبْ لَكُمْ إِنَّ الَّذِينَ يَسْتَكْبِرُونَ عَنْ عِبَادَتِي سَيَدْخُلُونَ جَهَنَّمَ دَاخِرِينَ [٣] پکار دي پاملرنه وکړو چې له خدا ے پاک نه بغېر له بل چا نه مطلق دعا او د حاجت طلب عبادت نۀ دے او نهي ترې نۀ ده شوې، نو په نتيجه کښې چې يو کس له چا نه غوښتنه وکړي ، ورته ورشي ، يا ورسره هغه مرسته او مدد وکړي، يا ورته يو څيز ورکړي او يا يې حاجت روا کړي، نو نۀ يې د هغه کس عبادت کړے دے او نۀ يې ګناه کړې ده.

## د دعا اصطلاحي معنا

١- خاصه دعا مراد ده، يعنې د خدا ے پاک له رابللو او ترې نه د سوال کولو په شان د غېر رابلل او ترې نه سوال کول دي.په دې معنا چې سوال کوونکے او حاجت غوښتونکے کس دا اعتقاد ولري چې هغه غېر کس چې ترې نه يې غوښتنه کړې ده له خدا ے پاک نه بغېر خپلواکه ، مختار او قادر دے لکه څنګه چې يهود او نصارا د خپلو عبادتونو په ځايونو کښې دعا کوي.

٢- د بتانو ،کاڼو او ونو بوټو په شان څيزونو څخه د مدد سوال کول چې خدا ے پاک داسې د مدد سوال منعې کړے دے لکه څنګه چې به مشرکانو دا کار کوۀ.

٣- له فرښتو او پېريانو څخه غوښتل چې يې عبادت کيږي او هغه کسان چې يې پرستش کوي دا عقيده لري چې په دې عالم کښې د خدا ے پاک د تاثير تر څنګه دوي هم په تاثير کولو کښې خپلواکي او اختيار لري. قران شريف په دې حقله فرمائي: إِنَّ الَّذِينَ تَدْعُونَ مِن دُونِ اللَّهِ عِبَادٌ أَمْثَالُكُمْ [٤] «په حقيقت کښې هغه کسان چې تاسو يې د خدا ے په ځا ے رابولئ ستاسو په شان بندګان دي.» يا فرمائي: وَالَّذِينَ تَدْعُونَ مِن دُونِهِ لاَ

---

١- سورۀ نوح (٧٢) ١٨ ايت
٢- سورۀ نور (٢۴) ٦٣ ايت.
٣-سورۀ غافر (۴٠) ٦٠ ايت.
۴- سورۀ اعراف (٧) ١٩۴ ايت.

يَسْتَطِيعُونَ نَصْرَكُمْ وَلَآ أَنفُسَهُمْ يَنْصُرُونَ [1] «هغه کسان چې يې بې له خدا ے نه رابولئ له تاسو سره مرسته نۀ شي کولې او نۀ له ځان سره مرسته کولې شي.» او يا فرمائي: فَلَا تَدْعُوا مَعَ اللَّهِ أَحَدًا [2] «له خدا ے سره د غېر پرستش مۀ کوئ»

نو اوس که يو کس پېغمبر راوبولي او ورته فرياد وکړي او يا ترې څه وغواړي نو په دغو دريو موردو کښې نۀ راځي، ځکه چې که څوک هغه حضرت رابولي دې لپاره چې هغه خدا ے ته سوال وکړي يا د خدا ے په نزد شفاعت وکړي نو په دې باندې عقيده لري چې کار په اخېر کښې د خدا ے پاک په اختيار کښې د ے نو بس د هغه ذات خوښه ده چې د هغې چارې سوال له پېغمبر اکرم صلی الله عليه و آله وسلم نه قبلوي او يا يې نه قبلوي او د پېغمبراکرم صلی الله عليه و آله وسلم ذات مبارک د فېض واسطه او وسيله ده، او دا چاره په نهې کړې شويو دعاګانو کښې نۀ شامليږي ځکه چې د پېغمبر اکرم صلی الله عليه و آله وسلم په مطلق اختيار او خپلواکۍ باندې عقيده نۀ لري.

## پېغمبرانو عليهم السلام ته استغاثه کول

وهابيت وائي: د پېغمبرانو او صالحانو عليهم السلام وسيله ګرځول صحيح کار نۀ د ے، ځکه چې هغوي مړۀ دي او مړي څه نۀ اوري، نو بس دا کار څه فائده نۀ لري چې يو کس ووائي: اے د خدا ے رسوله! مدد او مرسته مې وکړه. او يا ووائي چې: اے د خدا ے رسوله! ما ستا په وسيله خدا ے پاک ته مخه کړې ده چې حاجت مې پوره شي.

ځواب: لکه څنګه چې مخکښې ذکر وشو چې انبياء کرام عليهم السلام له رحلت کېدو نه پس هم ژوندي دي.نو بس څه عقلي او شرعي منعې نشته چې د خدا ے يو پېغمبر يا ولي له دنيا لاړ د هغو کسانو چې هغوي خپله وسيله ګرځوي خبرې واوري، ځکه چې هغوي ژوندي دي.

انس له پېغمبر اکرم صلی الله عليه و آله وسلم څخه داسې نقل کړې دي: «پېغمبران ژوندي کسان دي چې په قبرونو کښې په نمانځۀ کښې مشغول دي.» [3] او همدا رنګ يې وفرمايل: هيڅ يو مسلمان داسې نشته چې د خپل مومن ورور د قبر په خوا کښې تېر شي او ورته سلام وکړي مګر دا چې هغه کس هغه وپېژني او د هغۀ د سلام ځواب ورکړي.» [4]

---

[1]- سورۀ اعراف (۷)، ۱۹۷ ايت.

[2]- سورۀ جن (۷۲)، ۱۸ ايت.

[3]- بېهقي دا ورايت صحيح ګڼلے د ے، ابن حجر په فتح الباري کښې ثابت ګڼلے د ے، ځکه چې د هغۀ بنا په دې ده چې په فتح الباري کښې موجود احاديث د صحيح بخاري شرح ده او هغه څه چې يې راوړې دي صحيح او حسن دي ( المقالات السنيه ۱۱۴ مخ. )

[4]- مناوي دا روايت د ابن عساکر په نقل سره په شرح الجامع الصغير کښې راوړے د ے، حافظ عراقي وائي: ابن عبدالبر هغه په التمهيد او الاستذکار کتابونو کښې په صحيح سندونو سره له ابن عباس څخه نقل کړے د ے او عبدالحق هم دغه روايت صحيح ګڼلے د ے (المقالات السنيه ۱۱۴ مخ.)

بيهقي وائي: « سعيد بن مسيب له ابوهريره نه نقلوي چې د خداے ګران رسول صلی الله علیه و آله وسلم په بيت المقدس کښې له پيغمبرانوعليهم السلام سره ليدل کتل وکړل او د نمانځۀ په وخت ټولو د خداے په ګران رسول صلی الله علیه و آله وسلم پسې اقتداء وکړه او نمونځ یې ادا کړ او بیا ټول په بيت المقدس کښې راغونډ شول. »

په يو حديث مبارک کښې چې له ابوذر او مالک بن صعصعه نه د خداے د ګران رسول صلی الله علیه و آله وسلم د معراج شريف په حقله رارسيدلے دے راغلي دي: « د خداے ګران رسول صلی الله علیه و آله وسلم له نورو انبياؤ عليهم السلام سره په اسمانونو کښې ملاقات وکړ. »

دا حديث مبارک صحيح دے او د خداے ګران رسول صلی الله علیه و آله وسلم په معراج کښې حضرت موسی عليه السلام په خپل قبر کښې د نمانځۀ په حال کښې وولید ، بیا له حضرت موسی علیه السلام او څو نورو انبياؤ عليهم السلام سره يې اسمانونو ته عروج وکړ، د خداے ګران رسول صلی الله علیه و آله وسلم له نورو انبياؤ عليهم السلام سره په اسمانونو کښې ملاقات وکړ، او ټولو په بيت المقدس کښې اجتماع وکړه او د نمانځه په وخت ټولو د خداے د ګران رسول صلی الله علیه و آله وسلم په اقتداء کښې نمونځ ادا کړ.

بيهقي وائي: په دغه مقام کښې د پيغمبرانو عليهم السلام نمونځ په مختلفو وختونو او مختلفو ځايونو کښې کيږي چې عقل يې نه شي رد کولې او روايتونه يې ثابتوي دا ټول د پيغمبرانو عليهم السلام په ژوندي والي باندې دلالت کوي. [1]

نو ثابته شوه چې هغه کسان چې ژوندي دي او د هغو کسانو خبرې چې په هغوي باندې سلام وائي اوري. د خداے ګران رسول صلی الله علیه و آله وسلم وفرمايل: « هر چا چې زما له قبر سره نزدې په ما باندې درود ولیږۀ نو زۀ هغه اورم او څوک چې په پيغمبرانو باندې درود ليږي نو د هغوي درود پيغمبرانو ته پيش کولې شي. » په يو بل حديث مبارک کښې راغلي دي: « د جمعې په ورځ په ما باندې زيات درود او سلام وائۀ خکه چې ستاسو درود ما ته پيش کولې شي. » نو اوس هر کله چې هغوي ژوندي دي نو هغوي ته استغاثه کول، او ترې نه د بخښنې او استغفار غوښتل هيڅ منعې او نهي نۀ لري. قران شريف فرمائي: يَا أَبَانَا اسْتَغْفِرْ لَنَا ذُنُوبَنَا [2] او یا فرمائي: اذْهَبُواْ بِقَمِيصِي هَذَا فَأَلْقُوهُ عَلَى وَجْهِ أَبِي يَأْتِ بَصِيراً [3]

## د سنيانو ورونو نظريه

---

[1]- المقالات السنيه فی کشف ضلالات ابن تيميه ۱۱۴ مخ مخکښې ذکر وشو چې ځينې وهابيان له ژوندي نه مدد غوښتل جائز او له عبر ژوندي کس نه شرک ګڼي، په داسې حال کښې که دا يو شرک عمل وي نو ژوندے والے او نۀ ژوندے والے پکښې څه تاثير نۀ لري. عجيبه دا چې دوي د وسيلې ګرځولو په شان مسائل شرک ګڼي ، په داسې حال کښې چې که د دوي د روايتونو کتابونه ولولو، نو په دې موضوع باندې پکښې دومره زيات روايتونه موجود دي چې نزدې نزدې تواتر ته او يا په کامله توګه تواتر ته رسيدلي دي.

[2]-سورۀ يوسف (۱۲) ۹۷ ايت.

[3]- سورۀ يوسف ۹۳ ايت.

۱- قسطلاني وائي: زائر ته پکار دي چې زياته دعا او زاري وکړي او همداشان پېغمبراکرم صلی الله عليه و آله وسلم ته استغاثه وکړي او ترې نه د وسيلې او شفاعت غوښتنه وکړي. په نتيجه کښې که څوک له هغهٔ څخه د شفاعت غوښتنه کوي نو خدا ے پاک هم پکار دي د شفيع شفاعت د هغهٔ په حق کښې قبول کړي. پېغمبراکرم صلی الله عليه و آله وسلم ته استغاثه کول، هغه وسيله ګرځول، شفاعت ترې غوښتل، توجه ورته کول که دغه کارونه يې له خلقت نه مخکښې وي او که وروسته، که د هغهٔ د نيائي ژوند په دوران کښې وي او که له رحلت نه يې وروسته وي او که د قيامت په ورځ له راپاڅولو نه پس وي هيڅ پروا او منعې نهٔ لري. [1]

۲- مراغي ( وفات ۸۱۷ هجري کال ) وائي: له پېغمبراکرم صلی الله عليه و آله وسلم سره توسل پېدا کول، وسيله ګرځول او ترې نه د مدد او شفاعت غوښتنه که هغه يې له خلقت نه مخکښې وي، که د ژوندون په دوران کښې يې وي، که يې له رحلت نه پس وي چې په برزخ کښې ژوند کوي او که له برزخه له راپاڅولو وروسته وي او که د قيامت په مېدان کښې وي هيڅ منعې او پروا نهٔ لري. [2]

## پېغمبراکرم صلی الله عليه و آله وسلم ته د يو ړوند کس استغاثه

له هغو ځيزونو څخه چې په ځرګنده توګه په دې خبره دلالت کوي چې د پېغمبراکرم صلی الله عليه و آله وسلم قبر مبارک ته استغاثه کول او هم دا رنګ خپله هغه حضرت صلی الله عليه و آله وسلم ته استغاثه کول د مسلمانانو په خاصه توګه د صحابه ؤ ترمېنځ يوه رائجه چاره وه. لکه د عثمان بن حنيف په واقعه کښې راغلي دي: طبراني له ابي امامه بن سهل بن حنيف او ابي امامه له خپل ترهٔ عثمان بن حنيف نه نقلوي، يو سړے د خپل حاجت لپاره د دريم خليفه دربار ته تلو راتلو خو هغهٔ به يې حاجت نهٔ پوره کوهٔ ،يو وخت هغه کس له عثمان بن حنيف سره مخامخ شو او ورته يې ټوله قيصه تېره کړه، عثمان بن حنيف ورته ووېل: لاړ شه اودس وکړه او جومات ته ورشه او دوه رکعته نمونځ اداکړه بيا ووايه: اے پروردګاره! زهٔ له تا نه سوال کوم او د خپل پېغمبر حضرت محمد صلی الله عليه و آله وسلم چې د رحمت پېغمبر دے په وسيله تا ته مخه کوم، اے محمدصلی الله عليه و آله وسلم ! ما ستا په وسيله خدا ے پاک ته مخه کړې ده چې حاجت مې پوره شي او بيا خپل حاجت بيان کړه او آسوده حال اوسه. هغه کس لاړ او د عثمان بن حنيف هغه دستوالعمل يې ترسره کړ او بيا د دريم خليفه دربار ته ورغے، دربان هغه له لاسه ونيوهٔ او خليفه ته يې بوتلهٔ، خليفه هغه د بخمل په

---

[1]- له عباده بن صامت نه نقل شوي دي چې ابوبکر ووېل. راځئ چې ټول قيام وکړو چې له پېغمبراکرم صلی الله عليه و آله وسلم څخه د دغه منافق له شر نه د مدد غوښتنه وکړو، پېغمبراکرم صلی الله عليه و آله وسلم وفرمايل: پکارنهٔ دي چې زما لپاره قيام وشي، قيام يوازې خدا ے لره دے. مسند ۵ ټوک ۳۱۷ مخ، المواهب اللدينيه ۳ ټو ۴۱۷ مخ.

[2]- د قسطلاني وېنا په تحقيق النظره او مصباح الظلام ۱۱۳ مخ کښې راغلې ده، د نمونې په توګه د امام مالک په باره کښې راغلي دي چې تر څو مالک په مېدان کښې وي نو څوک فتوا نهٔ ورکوي او د شافعي په ګواهۍ چې هغه يې حجت الله علي خلقه ګڼلے دےکله چې ترې نه منصور خليفه تپوس وکړ چې د قبلې په لور دعا وکړم که د پېغمبر صلی الله عليه و آله وسلم لوري ته ، مالک ورته په ځواب کښې ووېل، ولې له پېغمبر صلی الله عليه و آله وسلم نه مخ ګرځوې، په داسې حال کښې چې د قيامت په ورځ هغه ستا او ستا د پلار حضرت آدم عليه السلام وسيله دے؟ د هغهٔ لور ته مخ کړه او هغه خپل شفيع وګرځوه. ( کشف الارتياب ۲۳۰ مخ. )

قالین په خپل څنګ کښېنوۀ او ورته يې وويل چې څه حاجت لرې؟ سړي خپل حاجت بیان کړ او خلیفه هم ورله حاجت پوره کړ، هغه سړے چې د خلیفه له دربار نه ووت نو له عثمان بن حنیف سره يې ملاقات وکړ او هغۀ ته يې وويل: خدا ے پاک دې درته خېرونه درکړي، عثمان بن عفان مخکښې ما ته هیڅ پام نۀ کوۀ خو چې تا ورته زما په باره کښې خبره وکړه نو زما مشکل يې حل کړ، عثمان بن حنیف وويل: په خدا ے قسم چې ستا په باره کښې مې ورته خبره نۀ ده کړې، خو زۀ د خدا ے د له ګران رسول صلی الله علیه و آله وسلم څخه د يوې ماجرې کتونکے وم او هغه دا چې يو په سترګو معذور سړے د خدا ے د ګران رسول صلی الله علیه و آله وسلم په خدمت کښې حاضر شو[1] او د خپل ړندوالي په حقله يې شکایت وکړ، د خدا ے ګران رسول صلی الله علیه و آله وسلم ورته وفرمايل: صابر اوسېږه، هغه سړي وويل: اے د خدا ے رسوله: څوک لار ښوونکے نۀ لرم او همدا لپاره ډېر مشکل کار دے. هغه حضرت ورته وفرمايل: لاړ شه اودس وکړه، بیا دوه رکعته نمونځ وکړه ا دغه دعا وغواړه ( يعنې چې کومه دعا مې تا ته وښودله. )، عثمان بن حنیف وائي مونږ د خدا ے دګران رسول صلی الله علیه و آله وسلم په خدمت کښې موجود وو، لږ ساعت نۀ ؤ تېر چې دغه سړے مونږ ته په داسې حال کښې راغے چې هېڅ اصلاً ړوند نۀ ؤ.[2]

يو سلفي کس د دې حدیث په حاشیه کښې[3] سره له دې چې د دې حدیث په صحیح والي باندې اعتراف کوي وائي: د دغه مرفوع حدیث په صحت کښې څه شک نشته. په دې وجه چې يې د دغه حدیث په سند کښې څه شک ونکړې شو نو په توسل باندې د هغۀ په دلالت کښې يې شک کړے دے.

دا کس د «التوسل» کتاب د خاوند الباني[4] له افکارو او وهابي نظرياتو څخه متاثر دے چې د مړي وسیله جوړول يې حرام کړي او شرک يې بللے دے، هغۀ د دا ډول روايتونو په لېدو سره زغم له لاسه ورکړے دے او

---

[1]- دا حدیث هغه يو روايت ته اشاره ده چې احمد بن حنبل د مسند په ۴ ټوک ۱۳۸ مخ کښې په صحیح سند سره نقل کړے دے چې يو ړوند سړے د خدا ے د ګران رسول صلی الله علیه و آله وسلم په ښودلې دعا سره په سترګو بینا شو، ترمذي په **۵** ټوک کښې په **۵۲۹** مخ، په **۳۵۷۸** حدیث کښې او ابن ماجه په ۱ټوک کښې په **۴۴۱** مخ کښې او حاکم په ۱ ټوک **۳۲۳** مخ کښې نقل کړے دے.

[2]- د معجم الطبراني د ۹ ټوک ۳۰ مخ او ۸۳۱۱ حدیث کښې او د المعجم الصغیر ۱ ټوک په ۱۸۳ مخ کښې دا حدیث صحیح ګڼلے شوے دے.

[3]- حاشیه سیر اعلام النبلاء ذهبي

[4]- دغه کس د التوصل الی حقیقه التوسل کتاب مولف دے. هغه ډېر تند او غېر عقلاني افکار لري. د هغو روايتونو په باره کښې چې بخاري او مسلم د تبرک په حقله نقل کړي دي په بې شرمۍ او بې حيائۍ سره وائي: «ان مثل هذا الاحادیث الافائده منها فی هذا العصر... » «يعنې د دا ډول حدیثونه په دې زمانه کښې څه فائده نۀ لري » د سلفیت دعوېدارو دې دوه مخیزو او متناقضو خبرو ته لږ وګورئ چې څه ډول خپلې شا ته د ستنېدو پولونه ورانوي او خپله د يهوديانو او صهيونېستانو لپاره پول جوړ شوي دي. د فقه السیره کتاب خاوند ډاکټر محمد سعید البوطي په ۱۸۸ او ۱۸۹ مخونو کښې د شېخ ناصر رفاعي همدا خبره راوړې او وائي: هغه خبره چې رفاعي کړې ده ډېره لويه خبره ده چې هیڅکه يې يو مسلمان کس په ژبه نۀ شي راوړې، بیا وائي: او تاسو څه رنګ دا خبره کولې شئ چې په دې زمانه کښې د داسې حدیثونو څه فائده نشته. په داسې حال کښې چې د خدا ے د ګران رسول صلی الله علیه و آله وسلم ټول اقوال، افعال او اقرارات شریعت دے او شریعت د تر قیامته پورې باقي دے. تر هغه وخته چې د کتاب او صحیح سنتو څه نسخه نۀ وي راغلې دغه ټول حدیثونه ثابت او صحیح دي چې نۀ د کتاب او نۀ د سنتو څه نسخه نده

د حقیقت منل ورته سخت ښکاره شوي دي ، که څه هم د طبراني په شان د فن خاوندانو دغه روایتونه صحیح ګڼلي دي او دستور ورکوونکے هم چې د عثمان بن حنیف په شان جلیل القدر صحابي وي چې دویم خلیفه [1] او حضرت علي علیه السلام ورباندې اعتماد لرلے دے. ترمذي ، نسائي او ابن ماجه دغه روایت [2] نقل کړےدے. عجیبه دا چې هغوي د ځان لپاره د سلفیه صفت دعوا لرونکي دي. حال دا چې هغه څه چې له سلف نه رارسېدلي دي او صحیح هم دي ( لکه د عثمان بن حنیف داستان ) پرېږدي او ردوي يې.

ایا دا عقلاني خبره ده چې انسان وړومبې د ځان لپاره یوه عقیده جوړه کړي او بیا د هغو حدیثونو په لټه کښې وي چې د خپلو عقائدو لپاره څه تائید راپیدا کړي؟ یا د دې په اپوټه صحیح ده؟ یعنې دا چې خپله عقیده که هغه د توسل په باره کښې وي یا د بل څه په باره کښې وي له قران شریف او له نبوي حدیثونو څخه چې د تېرو مشرانو له لارې مونږ ته رارسېدلي دي رابهر کړي.؟

## قبرونو ته استغاثه

له تېرو وختونو څخه تر اوسه پورې د پېغمبرانو ، صالحینو او اولیاؤ قبرونو ته استغاثه د مسلمانانو سیرت ؤ او دے، او علماؤ هم د داسې یو عمل د جائزوالي فتوې ورکړې دي چې ځینې نمونې يې بیانوو:

### ۱- د پېغمبر اکرم صلی الله علیه و آله وسلم قبر مبارک ته استغاثه

له دارمي نه نقل شوي دي: د مدیني خلق له قحطۍ سره مخامخ شول او بي بي عائشې ته يې شکایت وکړ، هغې ورته وویل، د پېغمبراکرم صلی الله علیه و آله وسلم قبر مبارک ته توجه وکړئ، او له قبر مبارک څخه د اسمان په لور یو سُورے وګرځوئ چې د قبر مبارک او اسمان تر مېنځ څخه يې چت را نۀ شي. راوي وائي چې مونږ دا کار وکړ چې په نتیجه کښې يې باران مونږ باندې نازل شو چې ګیاهانې مو وشوې او اوښان مو ساربۀ شول، په دا ډول چې د ګېډو لمان مو له ډېرو وازدو نه وچاودل او په یو ډول فتق ورته وشو او هغه کال مونږ د فتق کال ونوموۀ. [3]

---

راغلي نو د هغو مضمون تشریعي دے چې تر قیامته پورې باقي دي او د خداے د ګران رسول صلی الله علیه و آله وسلم له آثارو څخه تبرک حاصلول هیڅ منعې نۀ دي څه لا دا چې د وسیلې لپاره څه منعې وي.

[1]- سیر اعلام النبلاء ۲ ټوک ۳۲۰ مخ.

[2]- دا حدیث له هغو حدیثونو څخه دے چې ابن تیمیه هم صحیح ګڼلے دے او ویلي يې دي: د حدیث په سند کښې له ابو جعفر نه مراد هم هغه ابوجعفر خطمي دے او هغه ثقه کس دے. ابن ماجه په خپل سنن ( ۱ ټوک ۴۴۱ مخ ) کښې له ابو اسحاق نه نقلوي: هذا حدیث صحیح، او بیا وائي: دا حدیث ترمذي په ابواب الادعیه کتاب کښې نقل کړے او ویلي يې دي، هذا حدیث خق غریب. رفاعي په خپله په التوصل الی حقیقه التوسل کتاب ۱۵۸ مخ کښې وائي: لا شک ان هذا الحدیث صحیح و مشهور و قد ثبت فیه بلا شک.

[3]- سنن دارمي ۱ټوک، ۵۲ مخ، سبل الهدی والرشاد ۱۲ ټوک ۳۴۷ مخ، وفاء الوفاء ۴ ټوک ۱۳۷۴ مخ او کشف الارتیاب ۳۱۳ مخ.

ابن ابي شيبه په صحيح اسنادو سره له ابي صالح سمان څخه او هغه له مالک الدار ( د حضرت عمر انباردار ) نقلوي. (( د دويم خليفه په دور کښې خلق له قحطۍ سره مخامخ شول. يو کس د خداے د ګران رسول صلی الله عليه و آله وسلم قبر مبارک ته ورغےاو وې ويل: اے د خداے رسوله! د خپل امت لپاره دې د باران دعا وکړه چې هلاک شول. بيا هغه کس ته په خوب کښې وويل شول لاړ شه عمر ته ورشه... )) سيف په کتاب الفتوح کښې روايت کړے دے چې هغه کس چې خوب يې ليدلے ؤ او په خوب کښې يې يو کس ليدلے ؤ د خداے د ګران رسول صلی الله عليه و آله وسلم يو صحابي بلال بن حارث مزني ؤ. [1]

## ۲- په قاهره کښې د امام حسېن عليه السلام د سر مبارک زيارت

حمزاوي الدارمي ( وفات ۱۳۰۳ هـ ) له دې وروسته چې يوه اوږده وېنا يې د امام حسېن عليه السلام د سر مبارک د دفن د ځاے په حقله بيان کړه، وائي: يوه شه چې دا غوره ده چې د دې ستر مزارمبارک ډېر زيارت وشي او انسان يې د خداے جل شانه په لور ځان ته وسيله وګرځوي او له هغه پاک امام څخه هغه شان غوښتنه وکړي لکه چې په ژوند کښې به ترې غوښتنه کېدله. ځکه چې هغه د مشکلاتو اوارووںکے دے او د هغۀ زيارت کول له مصيبت ځيلي کس نه ناخوښې پېښې لرې کوي او ( د هغه د نورانيت او وسيله جوړولو په وجه ) هر هغه زړۀ چې پرده پرې راغلې وي له خداے پاک سره وصلت پېدا کوي.

نمونه يې هغه پېښه ده چې زما د عارف بالله استاد محمد شلبي چې په ابن الست مشهور ؤ او د العزه کتاب شرح ليکونکے ؤ رامنځته شوه. هغه ټول کتابونه چې يې په کور کښې موجود وو چا پټ کړل او هغه ډېر پرېشان حاله او متاثره شو او دغه مبارک زيارت ته ورغے او په څو بېتونو سره يې هغه حضرت ته استغاثه او فرياد وکړ. له زيارت کولو او هلته له لږ ايسارېدو وروسته کور ته راستون شو چې ناڅاپه يې خپل ټول کتابونه بې له څه کمي په خپل ځاے وليدل. [2]

## ۳-د امام حسېن عليه السلام د سر مبارک قبر ته د يو ړوند کس استغاثه او فرياد

شبراوي شافعي (وفات ۱۱۷۲ هـ ) په الاتحاف بحب الاشرف کتاب کښې د دغه ځاے د زيارت چې د سيد الشهداء عليه السلام سر مبارک پکښې دے په حقله يو باب لري او په دغه باب کښې يې د هغه حضرت د سر مبارک د زيارت کولو او د هغۀ د کراماتو په حقله ځينې واقعات راوړي دي. چې له دغو کراماتو څخه يو

---

[1]- دفع شبه من شبه ۹۴ مخ، الاصابه ۳ ټوک ۴۸۴ مخ، کشف الارتياب ۲۸۰ مخ ( له بيهقي او ابن ابي شيبه نه يې نقل کړے دے. )

[2]- ځينې باوري دي چې د سيدالشهداء حضرت امام حسېن عليه السلام سر مبارک په مصر کښې دفن شوے دے، چې په قاهره ښار کښې د راس الحسېن په نامه يو ځاے موجود دے چې د خلقو زيارت ګاه دے. حتی نوې وادۀ شويو ناويانو ته په وړومبۍ شپه له جومات څخه چې د سر مبارک زيارت هم پکښې دے طواف ورکړے کيږي. ابن جبېر وائي: ما د راس الحسېن زائران وليدل هغوي په ډېر ګڼ شمېر کښې دغه قبر مبارک ته رامات وو، سترګې ورته غړولې او په ضريح مبارک باندې له کپړې څخه يې تبرک حاصلوۀ او دعاګانې يې غوښتلې، د هغوي له سترګو نه داسې اوښکې روانې وې چې د کاڼي زړونه يې هم نرمول. ( وهابيت مباني فکري و کارنامه عملي ۱۷۰ او ۱۷۱ مخونه )

کرامت په دا ډول دے: شمس الدين القعويني نومې يو سړے چې د خانه کعبې [1] د غلاف (الکسوه الشريفه) [2] د ګنډلو پېشه يې لرله. يو وخت ورته د سترګو مشکل پېدا شو چې په نتيجه کښې يې دواړه سترګې ړندې شوې او هره ورځ به يې چې د امام حسېن عليه السلام د سر مبارک په مزار کښې د سحر نمونځ ادا کړ نو د قبر د ضريح له ور سره به اودرېد او ويل به يې: اے زما مولا او آقا! زۀ ستا ګاونډي يم چې ړوند شوم او له خداے پاک نه ستا په وسيلې سره سوال کوم چې د سترګو رڼا مې بېرته راوګرځي (که څه هم د يوې سترګې نظر وي) په خوب کښې يې يوه ډله خلق وليدل چې د دغه مبارک زيارت په لور راځي، د دغو کسانو په حقله يې پوښتنه وکړه نو ورته وويلې شول چې دغه يو کس د خداے ګران رسول صلى الله عليه و آله وسلم او دا ورسره د هغه حضرت صحابه دي چې د امام حسېن عليه السلام زيارت ته راغلي دي.دې هم له هغوي سره زيارت ته ننوت او هم هغه دعا چې يې په ويښه کوله بيان کړه. امام حسېن عليه السلام خپل نيکۀ ته توجه وکړه او د پېغمبراکرم صلى الله عليه و آله وسلم په خدمت کښې يې د دغه سړي شفاعت وکړ، د خداے ګران رسول صلى الله عليه و آله وسلم حضرت علي عليه السلام ته وفرمايل: يا علي! د دۀ په سترګه کښې رانجۀ واچوه، هغه حضرت هم اطاعت وکړ او د رانجو رجړومه يې راووېسته او هغه سړي ته يې وويل: رامخکښې شه چې په سترګه کښې درته رانجۀ واچوم هغه کس راوړاندے شو او هغه حضرت سلائي په رانجو ولړله او

---

[1]- مشارق الانوار، حمزاوي ١ ټوک ١٩٧ مخ، الغدير ٥ ټوک ١٩١ مخ، ارواښاد سيد محسن امين په کشف الارتياب کښې په ٢٥٥ مخ کښې وائي: ابن حجر په الصواعق المحرقه کښې ليکي: امام شافعي د خداے د ګران رسول صلى الله عليه و آله وسلم اهلبېت عليه السلام وسيله ګرځولي او په شعرونو کښې يې ذکر کړے دے لکه چې وائي: «آل النبي ذريتي و هم اليه وسيلتي ...... » يعنې د خداے د ګران رسول صلى الله عليه و آله وسلم آل د خداے په لور زما وسيله دے او دهغوي په وسيلې سره اميد لرم چې د عمل نامه به مې راته په ښي لاس کښې راکړې شي.

ارواښاد امين په کشف لارتياب کښې يوه پېښه نقلوي چې حتى دويم خليفه د خداے دګران رسول صلى الله عليه و آله وسلم ترۀ حضرت عباس (رض) وسيله وګرځوۀ . سمهودي په الوفاء کښې په ٣ ټوک ٣٧٥ مخ کښې ليکي: ابن نعمان مالکي په مصباح الظلام فى المستغيثين بخير الانام کښې کتاب کښې دا قيصه نقلوي: هغه وخت چې خلق له قحطۍ سره مخامخ شول نو عمر بن خطاب د پېغمبراکرم صلى الله عليه و آله وسلم د ترۀ عباس په وسيلې سره د باران سوال وکړ او وې ويل: اللهم انا کنا اذا قحطنا توسلنا اليک بنبينا فتسقينا و انا توسل اليک بعم نبينا فاستقمنا . په يوبل روايت کښې له ابن عباس څخه داسې نقلوي چې عمر وويل: اللهم انا نستسقيک بعم نبيک و نستشفع اليک بشيبته فسقوا ، يعنې اے خدايه! د خپل پېغمبر د ترۀ په وسيلې سره د باران سوال کوو او د هغۀ سپين وېښتۀ او په اسلام کښې د هغۀ مخينه شفيع ګرځوو ، او په دغه موقع باران اورېدۀ

دغه وخت ابن عباس بن عقبه بن ابي لهب موجود ؤ نو داسې شعر يې وويلو:

بعمي سقى اله الحجاز واهله عشيه يستسقي بشيبته عمر

زما د ترۀ په برکت د حجاز زمکه او خلق يې په اوبو باندې خړوب شول او په هغه مازيګر چې عمر د هغۀ وېښتۀ وسيله وګرځول. ابن اسير جوزي په اسدالغابه فى معرفه الصحابه کتاب کښې د دې واقعې له نقولو نه پس وائي: ولما سقى الناس طفقول يتمسحون بالعباس و يوقولون نهيئاً لک ساقي الحرمين. کله چې خلقو ته اوبۀ ورسېدې نو عباس به يې مسح کوۀ او ويل به ستا وجود دې مبارک وي اے د حرمېنو ساقي (ابن حجر عسقلاني وفات ٨٥٢ هـ) په فتح الباري ٢ ټوک ٣٩٩ مخ کښې ليکي: د حضرت عباس له واقعې نه دا څرګندېږي چې مستحب کار دے چې انسان د خېر او صلاح د خاوندانو او د پېغمبراکرم صلى الله عليه و آله وسلم د کورنۍ د کسانو په وسيلې سره د باران سوال وکړي.

[2]- الکسوه الشريفه د زربختو توره کپړه ده چې د کعبې شريفې ديوالونو باندې زوړنده وي. دغه کپړه به هر کال په مصر کښې ګنډلې کېده او د حاجيانو د کاروان په ذريعې سره به مکې معظمې ته راوړلې کېده.

په ښې سترګه کښې يې ورته راکښکله. هغه سړي د سترګې د سوزېدو سخت احساس وکړ او يوه لويه چغه يې ووېيسته او له خوبه رابېدار شو. د هغه کرامت په وسيلې سره يې د ښې سترګې نظر بېرته راغے او په هغې سترګې سره به يې نظر کوۀ او بالاخره له دنيا نه لاړ.[1]

## ۴- د امام رضا عليه السلام له قبر مبارک څخه د ابن حبان شفاعت غوښتنه

ابن حبان وائي: امام علي بن موسی الرضا عليه السلام د هغه شربت په ذريعې سره چې مامون عباسي خليفه په هغۀ باندې وڅښوۀ په هم هغه وخت په طوس کښې په شهادت ورسېد او قبر مبارک يې په سناباد کښې له نوقان نه بهر مشهور ځاے او د خلقو زيارت ګاه دے، ما ډېر ځل د دغه قبر مبارک زيارت کړے دے ، کله چې په طوس ښار کښې وم نو هر کله چې به راته څه مشکل راپېښ شو نو د حضرت امام رضا بن امام موسی کاظم ( دخداے درود دې وي د هغۀ په نيکۀ او په هغۀ باندې ) د قبر زيارت ته به ورتلم او د خپل مشکل د لرې کېدو لپاره به مې دعا غوښته او دعا به مې قبلېده او مشکل به مې ختمېدۀ. تر هغه وخته چې په طوس کښې وم نو دا مې په ځلونو تجربه کړه. خداے پاک دې مونږ د خداے د ګران رسول د هغۀ د اهلبېتو ( درود دې وي په هغه پاک حضرت او د هغۀ په اهلبېتو باندې ) په مينه کښې له دنيا نه بوځي.[2]

د حبان په حقله ويل شوي دي چې هغه امام، علامه او حافظ ؤ، قران شريف به يې ډېر ښکلے تلاوت کوۀ، په ۲۷۰ کال کښې وزېږېد، يو وخت د ثمرقند قاضي ؤ او له ديني فقيهانو څخه ؤ او له تېرو بزرګانو څخه پاتې آثار به يې حفظ کول، يو شمېر صحيح مسندونه يې هم تصنيف کړل چې الانواع التقاسيم، کتاب التاريخ، او کتاب الضعفاء نومونه يې وو. د ثمرقند خلقو به ترې علمي فيض حاصلوۀ ، ابوبکر خطيب هغه ثقه ګڼلے دے او ويلي يې دي هغه يو ثقه ، لوړ رتبه او ډېر ژور انسان ؤ ، حاکم نيشا بوري يې هم ډېره ستائينه کړې ده او ويلي يې دي هغۀ فقه، لغت ، حديث او وعظ په ځان کښې ځاے کړي وو، د بزرګانو ترمېنځ ډېر مشهور ؤ، دلته په نيشابور کښې يې له مونږ سره ژوند کوۀ، حاکم د ځينو کتابونو زدکړه له هغۀ څخه کړې ده.[3]

له دغو اوصافو سره سره به ابن حبان په متواتره توګه د امام رضا عليه السلام د قبر مبارک زيارت ته تلو او له هغۀ نه به يې سوال او استغاثه کوله. ايا ابن تيميه او د هغۀ پېروکار د دې توان لري چې داسې يو کس ته د کفر، شرک او ناپوهۍ نسبت ورکړي؟

## ۵- د امام رضا عليه السلام د قبر په خوا کښې د ابن خزيمه فرياد او زاري

---

۱- الاتحاف بحب الاشراف له ۷۵ نه تر ۱۱۰ مخونه، الغدير ۵ توک ۱۸۷ مخ.

۲- کتاب الثقات ۳ ټوک ۴۰۲ مخ، الانساب للسمعاني ۱ ټوک ۵۱۷ مخ.

۳- سير اعلام النبلاء ۱۲ ټوک ۹۲ مخ، ميزان الاعتدال ۳ ټوک ۵۰۷ مخ، النجوم الزاهره ۳ ټوک ۳۴۲ مخ، طبقات سبکي ۳ ټوک ۱۳۱ مخ، الانساب ۳ ټوک ۲۰۹ مخ، الوافي بالوفيات ۲ ټوک ۳۱۷ مخ.

محمد بن مؤمل [1] وائي: د اهل حديثو له امام ابوبکر بن خزیمه او دهغهٔ له دوست ابن علي البثقفي او له يو شمېر نورو بزرگانو سره د امام رضا علیه السلام د زيارت لپاره طوس ته لاړو. محمد بن مؤمل وائي: زما د دغه مبارک زيارت په نسبت د امام ابوبکر ابن خزیمه احترام، عاجزي او له قبر مبارک سره د هغهٔ زاري او فرياد مې په دومره اندازه وليد چې ورته گوته په خوله شوم.

ذهبي وائي: خزیمه شيخ الاسلام یعنې مرجع، د امامانو امام، حافظ، حجت او د يو شمېر کتابونو مولف دے په ۲۲۳ کال کښې وزېږېد او په حديث او فقه کښې يې دومره مهارت او پوهه پېدا کړه چې د علم او مهارت له نظره به يې خلقو مثالونه ورکول. بخاري او مسلم به له خپلو صحيحينو نه علاوه له هغهٔ څخه حديثونه نقلول.[2] د هغهٔ په باره کښې ويل شوي دي چې خداےپاک به د ابوبکر بن خزیمه د وجود په برکت له دغه ښار څخه مصيبتونه لرې ساتل. دارقطني وائي: هغه يو دقيق او د ژور نظر او بې مثاله امام ؤ. [3] هغه د خداے د گران رسول صلی الله علیه و آله وسلم د سنتو راژوندے کوونکے کس دے. هغه په خاصه نکته سنجۍ سره د خداے د گران رسول صلی الله علیه و آله وسلم له مبارک حديثونو څخه يو لړ ټکي راوباسي، هغه يو مفکر او د کره کتنې او نقد نظر لرونکے ؤ چې د حديثو د اسنادو رجال يې ښهٔ پېژندل، او د ډېر علم،د دين او د پېغمبر اکرم صلی الله علیه و آله وسلم له سنتو څخه د پېروۍ په وجه د خلقو په زړونو کښې يې يو عظمت لرهٔ. [4]

ابن ابي خاطم د ابن خزیمه په حقله وائي: هغه هغه امام دے چې اقتداء پسې کيږي. له دغو ټولو اوصافو سره سره ابن خزیمه د امام رضا علیه السلام قبر ته ځي او خپل فرياد او استغاثه ورته کوي او د هغهٔ د قبرمبارک په خوا کښې زاري او فرياد کوي. ايا ابن تيميه او د هغهٔ پېروکار جرات لري چې هغهٔ ته کافر او مشرک ووائي؟ او ايا د دې وس لري چې د ابن خزیمه او د ده په شان شخصيتونو په حقله منفي نظر ولري؟

## قبرونو ته د استغاثې کولو څو نمونې

۱- د ابو ايوب انصاري ( وفات ۵۲ هـ ) قبر: حاکم وائي: خلق به د هغهٔ قبر ته ورتلل او زيارت به يې کوهٔ او کله به چې خلق له قحطۍ سره مخامخ شول نو له دغه قبر څخه به يې استسقاء ( د باران طلب ) کوله. [5]

---

[1]- دې ابوبکر الماسرجسي ( وفات ۳۵۰ هـ ) نوميږي. دې امام، د نيشابور مشر، او د اسلام يو مبلغ او فصيح شخصيت ؤ، د محدثينو لپاره يې يو مرکز جوړ کړے ؤ او د هغه مرکز خرچه به يې ادا کوله، سلمي، حاکم او سعيد بن محمد بن محمد بن عبدان به ترې احاديث روايت کول. ( سيراعلام النبلاء ۱۲ ټوک ۲۳ مخ. )

[2]- تهذيت التهذيب ۷ ټوک ۳۳۹ مخ.

[3]- تهذيب التهذيب ۱۴ ټوک ۳۲۵ مخ

[4]- تهذيب التهذيب ۱۴ ټوک له ۳۷۴ تر ۳۷۵ مخونه، زمونږ له نظره مهمل دے (مستدرکات علم الرجال ۲ ټوک ، ۴۵۰ مخ، الکني و الالقاب ۱ ټوک ۲۷۲ مخ.

[5]- مستدرک الحاکم ۷ ټوک ۵۱۸ مخ، ۵۹۲۹ حديث، صفه الصفوه ۱ ټوک ۴۷۰ مخ.

۲- د امام موسی بن جعفر علیه السلام قبر: د حنبلیانو مشر ابي علي خلال وائي:هر مشکل چې به راته راپېښېدۀ نو د امام موسی کاظم علیه السلام د قبر مبارک د زیارت اراده به مې وکړه او هغه به مې د ځان لپاره وسیله وګرځوۀ نو خداے پاک به هم هغه څه چې به مې خوښ وو زما لپاره اسانول.[1]
۳- د امام ابو حنیفه قبر: امام شافعي هغه وخت چې په بغداد کښې ؤ نو د امام ابو حنیفه به یې وسیله ګرځوۀ او د هغۀ د قبر ضریح ته به راتلۀ او زیارت به یې کوۀ، ورته به یې سلام کوۀ او د خپلو حاجتونو لپاره به یې هغه خداے پاک ته وسیله ګرځوۀ. وائي: ثابته شوه چې امام احمد بن حنبل به امام شافعي خپله وسیله ګرځوله چې زوے به یې د پلار په دې کار باندې حېرانېدۀ. پلار ورته وویل: شافعي د خلقو لپاره د نمر په شان او د بدن لپاره د سلامتیا په شان دے او کله چې شافعي ولیدل چې د مغرب خلق امام مالک خپله وسیله ګرځوي نو د هغوي عمل یې بد و نۀ ګڼۀ. خپله امام شافعي وائي: زۀ د ابوحنیفه له قبر څخه تبرک حاصلوم او هره ورځ یې قبر ته ورځم او کله چې راته څۀ حاجت پېښېږي نو دوه رکعته نمونځ کوم او د هغۀ قبر ته ورځم او د هغۀ د قبر په خوا کښې له خداے پاک نه د خپل حاجت غوښتنه کوم.[2]
۴- د امام احمد بن حنبل د قبر وسیله ګرځول: ابن جوزي په مناقب احمد کښې له عبدالله بن موسی نه نقلوي چې زۀ او پلار مې یوه توره تاریکه شپه د احمد د زیارت لپاره بهر ووتو، دغه وخت اسمان لا زیات تور او تاریک شو، پلار مې وویل: زویه! راشه چې دغه نېک کس (احمد بن حنبل) خداے پاک ته وسیله وګرځوو چې خداے پاک راته لار روښانه کړي، ځکه چې زۀ دېرش کاله وشول هرکله چې هغه وسیله وګرځوم نو حاجت مې پوره کیږي.[3]
۵- د ابن فورک اصفهاني (وفات ۴۰۲ هـ) قبر ته استغاثه کول: هغه د نیشابور په خوا کښې په حیره سیمه کښې دفن دے او بارګاه یې ظاهره او قبر یې د خلقو زیارتګاه ده او خلق ترې استسقا (د باران غوښتنه) کوي او د هغۀ د قبر په خوا کښې دعا قبلیږي.[4]
ابن فورک، محمد بن حسن د اشعري مسلکو متکلمینو بزرګ او استاد دے، خو ذهبي او ابن حزم د یو داسې څیز نسبت هغۀ ته ورکړے دے چې له یو مسلمان څخه نۀ صادریږي او که له مسلمان څخه صادر شي نود مرتدی په حدّ کښې راځي.[5]
۶- د شیخ احمد بن علوان (وفات ۷۵۰ هـ) قبر: یافعي وائي: د دغه کس له کراماتو څخه یو کرامت دا دے چې هغه فقیهان چې له دۀ سره مخالف وو د سختۍ او مشکلاتو په وخت کښې به یې د دۀ قبر وسیله ګرځوۀ او د وخت د باچا له ویرې نه به یې ورته پناه وړه.[6]

---

[1]- تاریخ بغداد ۱ ټوک ۱۲۰ مخ.
[2]- خلاصه الکلام ۲۵۲ مخ (زیني دحلان) تاریخ بغداد ۱ ټوک ۱۲۳ مخ.
[3]-مناقب ابو حنیفه (خوارزمي) ۱ ټوک، ۱۹۹ مخ، الغدیر ۵ ټوک ۱۹۴ مخ.
[4]- وفات الاعیان ۴ ټوک ۲۷۲ مخ، سیر اعلام النبلاء ۱۷ ټوک ۲۱۲ مخ.
[5]- سیر اعلام النبلاء ۱۷ ټوک ۲۱۵ مخ، طبقات الشافعیه ۴ ټوک ۱۳۰ مخ.
[6]- مراه الجنان ۴ ټوک ۳۵۷ مخ.

۷- د امام بخاري له قبر څخه استسقا: د سمر قند خلقو د بخاري قبر ته استغاثه کوله او استسقا به يې ترې کوله. بخاري د ابن تيميه (۷۲۴ هـ) له زېږېدنې څخه درې سوه کاله مخکې وفات شو. سبکي وائي: کله چې مونږ په سمر قند کښې وو نو ځينې کلونه به د باران له قحطۍ سره مخامخ شو. نو خلقو په ځلونو د باران سوالونه وکړل خو باران ونۀ شو. يو نېک سړے چې په صلاح باندې مشهور ؤ د ثمر قند قاضي ته لاړ او ورته يې وويل: زۀ يوه خبره لرم..... زما نظر دا دے چې تۀ او خلق دې د محمد بن اسماعيل بخاري قبر ته لاړ شي او ټول به په يو ځاے د هغۀ د قبر په خوا کښې د باران سوال وکړو نو اميد دے چې خداے پاک راباندې باران نازل کړي. قاضي وويل: ښۀ نظر دې دے. هغوي ټول د بخاري قبر ته ورغلل او ټولو د باران سوال وکړ، خلقو به د قبر په خوا کښې ژړا کوله او د قبر خاوند به يې وسيله ګرځوۀ نو خداے پاک له اسمانه زياتې اوبۀ رانازلې کړې او خلق د ډېر تېز باران په وجه اوۀ ورځې په خرتنک [1] کښې پاتې شول او د سمرقند لور ته نۀ شو راتلې. [2] شايد ابن تيميه د هغوي له استغاثې او استشفاع نه خبر نۀ ؤ ګڼې ټول به يې په کفر او شرک باندې تورن کړي وو او يا دا چې دا قضيې د هغۀ لپاره ثابتې نۀ وې.

۸- حمزه بن قاسم (وفات ۳۳۰ هـ) ته استغاثه: خطيب وائي: هغه يو ثقه او په صلاح مشهور کس ؤ. د خلقو لپاره يې د باران سوال وکړ او وې ويل: اے خدايه عمر د عباس د وېښتو په وسيلې سره د خلقو لپاره د باران

---

[1]- خرتنک د سمر قند يو کلے دے، معجم البلدان ۲ ټوک ۳۵۲ مخ.

[2]- طبقات الشافعيه، ۲ ټوک ۲۳۴ مخ، سيراعلام النبلاء ۱۲ ټوک ۴۲۹ مخ.

يادونه: کله چې په مکه کښې اوچکلي راغله نو حضرت ابوطالب عليه السلام د خپل ماشوم ورارۀ (پېغمبراکرم) لاس ونيوۀ او له خداےپاک نه يې د باران غوښتنه وکړه. چې په دې حقله يې يو شعر هم ويلے دے:

وابيض سستسقي الغمام بوجهه ثمال اليتامی عصمه للارامل

هغه نوراني مخ چې له اوريځو نه د هغۀ په وسيله باران وغوښتلے شو د يتيمانو د پناه ځاے او د کونډو رنډو ښځو مرستندوے دے.

په زړۀ پورې خبره دا ده چې بخاري په خپل صحيح کښې ليکي: هر وخت چې به باران وشو نو د خداے ګران رسول صلی الله عليه و آله وسلم به فرمايل که ترۀ ابوطالب مې ژوندے وې نو ډېر به خوشحالېدو. بيا د خداے ګران رسول صلی الله عليه و آله وسلم وفرمايل: هغه بېتونه چې تره به مې ما ته ويل څوک به يې راته ولولي؟ علي بن ابيطالب عليه السلام وفرمايل: يا رسول الله! شايد ستاسو مراد دا بېتونه وي:

وابيض سستسقي الغمام بوجهه ثمال اليتامی عصمه للارامل

او بل بېت يې داسې دے:

يطوف به الهلاک من آل هاشم فهم عنده فی نعمه و فواصل

د هاشم د اولاد مصيبت د هغۀ له وجود نه چاپېره تاويږي او هغوي د هغۀ په خوا کښې په نعمت او بخشش کښې دي. البته دا دويم بېت په بخاري کښې نۀ دے راغلے. دا واقعه په مختلفو شکلونو کښې نقل شوې ده. د دې واقعې د کتو لپاره فتح الباري ۲ ټوک ۳۹ مخ، دلائل النبوه (بيهقي) ۲ ټوک ۱۲۲ مخ، عمده القاري فی شرح صحيح البخاري ۷ ټوک، شرح نهج البلاغه ابن ابي الحديد ۱۴ ټوک، سيرۀ خلبي ۳ ټوک، الحجه علی الذاهب الی تکفير ابي طالب شمس الدين علي فخار بن معد ۷۹ مخ، سيرۀ زيني دحلان او منيه الراغب فی ايمان ابی طالب طبسي ۱۴۰ مخ او همدا رنګ د سيرۀ حلبي حاشيې ۱ ټوک ته رجوع وکړئ.

غوښتنه وکړه او باران اورېد ، په داسې حال کښې چې عباس زما نیکهٔ دے او زهٔ د هغهٔ په وسیلې سره د باران سوال کوم. خطیب وائي: لا په منبر باندې ناست ؤ چې زیات باران اورېد. [1]

## و قیرواني مالکي ( وفات ۷۳۷ هـ ) وېنا

هغه د قبرونو د زیارت په حقله باب کښې لیکي: (( د انبیاؤ او رسولانو چې د خداے پاک درود او سلام دې په هغوي وي احترام دا دے چې زائر دې د هغوي قبر ته لاړ شي او له هم هغه لرې ځاے نه دې د هغوي د زیارت اراده وکړي. کله چې د هغوي قبر ته ورشي نو ځان دې ډېر حقیر، زړهٔ ماتے، ضرورتمن، بې وزله، مضطرب ، عاجز او خاضع کړي او خپل زړهٔ او فکر دې هغوي ته متوجه کړي اود زړهٔ په سترګو سره دې، نهٔ د سر په سترګو سره هغوي ته وګوري ځکه چې هغوي وراستهٔ شوي او بدل شوي نهٔ دي.

بیا وروسته دې د خداے پاک ثنا صفت هغه شان بیان کړي چې څنګه ورسره ښائي او بیا دې نمونځ وکړي او د خپلو آرزوګانو د پوره کېدو او د ګناهونو د بخښل کېدو لپاره دې هغوي خداے پاک ته وسیله وګرځوي او هغوي ته دې استغاثه وکړي او خپل حاجتونه دې وغواړي او پکار دي یقین او ښهٔ ګمان ولري چې د هغوي په برکت به یې دعاګانې قبولې شي. ځکه چې هغوي د خداے پاک خلاصې دروازې دي او الهي سنت په دې طریقه دے چې د خپلو بندګانو حاجتونه او سوالونه د هغوي په سبب، وسیله او د هغوي په لاسو سره پوره کوي. هر څوک چې عاجز وي چې د هغوي زیارت وکړي نو په هم هغه خپل ځاے کښې دې په هغوي باندې سلام ووائي او د خپلو حاجتونو او ګناهونو یادونه دې وکړي ځکه چې هغوي داسې بزرګواران دي چې که چا ترې غوښتنه وکړه او یا یې هغوي وسیله وګرځول او یا یې ورته پناه راوړه نو د حاجتمنو په سینه باندې د رد لاس نهٔ وهي. خو د اولین او اخرین مولا او آقا حضرت محمد مصطفی صلی الله علیه و آله وسلم د زیارت په حقله پکار دي هغه څه چې د نورو انبیاؤ علیهم السلام په حقله بیان شول څو چنده دې انجام کړي ( یعني د ځان حقیر ګڼل، د زړهٔ مات والے ، عاجزي وغېره دې لا زیاته وښئ، ) ځکه چې هغه داسې شفاعت کوونکے دے چې شفاعت یې نهٔ رد کیږي او چا چې د هغهٔ اراده وکړه او قبر مبارک ته یې راغے او ترې نه یې مدد وغوښتهٔ او فریاد یې ورته وکړ نو ناامیده کیږي به نه. نو بس د هغه حضرت علیه الصلواه و السلام وسیله ګرځول د دې سبب کیږي چې د ګناهونو او خطاګانو دروند والے ختمیږي.)) [2]

## د بحث نتیجه

دغه ټول تاریخي شواهد او دلائل په دې باندې دلالت کوي چې د خداے دګران رسول صلی الله علیه و آله وسلم او نورو صالحو او د خداے پاک د نازولو د قبرونو په خوا کښې دعا کول ورته استغاثه او فریاد کول او هغوي وسیله ګرځول د مسلمانانو ترمېنځ یوه رائجه او مشهوره چاره وه او ده، ځکه چې امام شافعي به د خپلو حاجتونو د رفع کولو لپاره امام ابوحنیفه وسیله ګرځوهٔ او د حنبلیانو مشر به د هر مشکل په وخت د

---

۱- سیراعلام النبلاء ۱۵ ټوک ۳۷۵ مخ، تاریخ بغداد ۸ ټوک ۱۸۲ مخ.

۲- المدخل فی رساله زیارت القبور ۱ ټوک ۲۵۷ مخ، الغدیر ۵ ټوک ۱۱ مخ.

امام موسی بن جعفر علیه السلام قبر وسیله کوۀ او امام احمد بن حنبل به امام شافعي وسیله ګرځوۀ. ابن خزیمه او ابن حبان به د امام رضا علیه السلام قبر وسیله کوۀ او د خپلو حاجتونو د پوره کولو لپاره به یې هغه معصوم امام ته استغاثه او فریادکوۀ او بي بي عائشې به اصحابو او مسلمانانو ته حکم کوۀ چې د باران د سوال لپاره دې د خداے د ګران رسول صلی الله علیه و آله وسلم قبر مبارک وسیله وګرځوي. دسنې مکتب بزرګو شخصیتونو، فقیهانو او حتی سترو صحابه ؤ به د انبیاء کرامو، صحابه ؤ او صالحو کسانو قبرونو ته استغاثه کوله. نو اوس د دغو ټولو واقعاتو او حقائقو په رڼا کښې ابن تیمیه جرات لري چې په دغو ټولو باندې د کفر او شرک لېبل ولګوي؟ شېخ سلامه العزامي ښومره ښه خبره کړې ده چې « دغه کس ( ابن تیمیه ) حتی د خداے دګران رسول صلی الله علیه و آله وسلم په شان کښې هم جسارت کړے او ویلي یې دي. هر چا چې د رسول اکرم صلی الله علیه و آله وسلم د زیارت لپاره اراده وکړه نو ګناه یې کړې ده او هر چا چې د پېغمبر اکرم صلی الله علیه و آله وسلم له وفات نه پس هغۀ ته اواز وکړ او فریاد او استغاثه یې ورته وکړه نو شرک یې کړے دے. ابن تیمیه په یوځاے کښې دې عمل ته شرک اصغر او په بل ځاے کښې ورته شرک اکبر ویلي دي، په داسې حال کښې چې د استغاثې او فریاد کوونکي کس زړۀ په دې باندې معتقد دے چې اصلي خالق او حقیقي موثر د خدے پاک ذات دے او پېغمبراکرم صلی الله علیه و آله وسلم د حاجتونو په پوره کولو کښې یوازې یوه وسیله ده، ځکه چې خداے پاک هغه حضرت د خېر یوه کلي سرچینه ګرځولې ده او د هغۀ شفاعت منې او دعا یې قبلوي. دا د ټولو مسلمانانو او حتی د هغوي د عامو خلقو عقیده ده.» [1]

قسطلاني وائي: « زیارت کوونکي ته پکار دي چې زیاته دعا، زاري او استغاثه دې وکړي او د خداے ګران رسول صلی الله علیه و آله وسلم دې وسیله وګرځوي او پکار دي چې څوک له هغۀ څخه د شفاعت غوښتنه وکړي نو خداے پاک هم د شفیع شفاعت د هغۀ په حق کښې قبول کړي. او په دې پوه شه چې استغاثه هم هغه د مرستې او مدد غوښتنه ده او په دې مدد غوښتنه کښې فرق نۀ کوي چې د استغاثې لفظ وویلې شي یا توسل، وسیله، یا شفاعت، یا تجوّه یا توجه او یا ملرنه لفظ وویلې شي، له دې امله چې تجوّه او توجه د جاه او وجاهت له مادې څخه ده چې معنا یې لویه مرتبه ده او یو کس د جاه او لوړ مقام د خاوند په وسیلې سره چې له هغۀ څخه لوړ مرتبه لري توسل پیدا کوي، استغاثه، توسل، تشفع او توجه هم هغه شان چې د تحقیق النضره و مصباح الظلام خاوند بیان کړي دي په ټولو حالاتو کښې واقع کیږي، که هغه د خداے د ګران رسول صلی الله علیه و آله وسلم له خلقت نه مخکښې حالت وي که له حلقت نه پس او که د هغوي د دنیوي ژوند په دوران کښې وي او که له دنیا نه له پرده کېدو وروسته وي ( چې د برزخ په عالم کښې وي ) او که د قیامت په مېدان کښې له بیا پاڅېدو نه پس وي.

البته د مسلمانانو لخو د خداے له ګران رسول صلی الله علیه و آله وسلم سره توسل پیداکول او وسیله یې ګرځول له دې نه ډېر زیات دي چې وشمېرلې شي یا په لټون سره وګڼلې شي چې د شېخ ابي عبدالله بن نعمان په مصباح الظلام فی المستغیثین بخیر الانام کتاب یې یوه برخه بیان شوه ده.

---

[1] - فرقان القرآن ۱۳۳ مخ، الغدیر ۵ ټوک ۱۵۵ مخ.

## د قسطلاني اعتراف

قسطلاني وائي: زۀ په يوه بيمارۍ باندې اخته شوم چې طبيبان يې له علاجه عاجز راغلل او تر دوو کلونو پورې په هغه بيمارۍ کښې گرفتار وم، د ( ۸۹۳ هـ کال ) د دريمې خور په ۲۸ نېټه په مکه کښې چې خدا ےپاک دې د دغه ځا ے شرف نور هم زيات کړي د خدا ے گران رسول صلی الله عليه و آله وسلم زيارت مبارک ته استغاثه او فرياد وکړ او د سلامتيا په باره کښې مې ترې سوال وکړ. په خوب کښې راته يو سړ ے راغ ے چې په لاس کښې يې يو کاغذ ؤ او په هغه کاغذ باندې ليکلې شوي وو: دا د احمد قسطلاني د بيمارۍ دارو دي.... له خوبه چې راويښ شوم نو په خدا ے مې دې قسم وي چې د بيمارۍ هيڅ اثر راکښې نۀ ؤ او د خدا ے د گران رسول صلی الله عليه و آله وسلم په برکت مې شفا بيا مونده. [1]

ډېره حېرانتيا په وهابيت باندې ده چې د احمد قسطلاني د دغو ټولو ځرگندونو باوجود يې ولې په هغۀ باندې کفر، شرک او ارتداد فتوا و نۀ لگوله؟ ځکه چې دوي عقيده لري چې هر څوک چې د پېغمبراکرم صلی الله عليه و آله وسلم او يا يو د خدا ے ولي او نېک کس قبر ته ورشي او له هغۀ نه د خپل حاجت غوښتنه وکړي او له هغۀ نه وغواړي چې بيمارۍ يې جوړه کړي نو هغه کس مشرک او مرتد د ے او داسې کس پکار دي له خپل عمل څخه توبه گار شي او که نۀ شي نو پکار دي چې ووژلے شي.

## د خدا ے د گران رسول صلی الله عليه و آله وسلم قبر مبارک ته د استغاثې يوه نمونه

سمهودي د خپل کتاب په اخېر کښې يوه برخه له هغو کسانو سره مخصوص کړې ده چې د خدا ے د گران رسول صلی الله عليه و آله وسلم قبر مبارک ته يې استغاثه کړې ده او يا يې له هغه حضرت څخه د يوې چارې غوښتنه کړې ده او خپل مقصد يې حاصل کړ ے د ے او دغه ټول يې د حافظ سليمان بن موسی بن سالم بلنسي [2] ( وفات ۶۳۴ هـ ) [3] له کتاب مصباح الالظلام فی المستغيثين بخير الانام [1] څخه نقل کړي دي.

---

[1]- المواهب اللدنيه المنح المحمديه ۳ ټوک ۴۰۵ مخ.

[2]- سمهودي د دغه کتاب د مولف نوم محمد بن نعمان بلنسي بللے د ے کېدې شي له دوو ليکوالانو څخه دوه کتابونه په دې نوم باندې وي، حلبي دغه کتات د سليمان بن موسی، بن سالم البلنسي او په همدې نوم يې کتاب د محمد بن موسی تلمساني بللے د ے. ( کشف الظنون ۲ ټوک ۱۷۰۲ مخ.

[3]- ابن عماد وائي: ابوالربيع اکلاعي سليمان بن موسی بن سالم البلنسي لو ے حافظ، ثقه، د يو شمېر کتابونو مولف، او په اندلس کښې د اثر د خاوند له پاتې شويو کسانو څخه ؤ، هغه په ۵۶۵ هـ کال کښې وزېږېد او د ابن ررقون له شاگرانو څخه ؤ.

آبار وائي: هغه په حديثونو کښې د بصيرت خاوند، پوه، او راويانو له جرح او تعديل نه واقف ؤ او له هغۀ نه پس بل څوک دغه حد ته و نۀ رسېد، هغه يو کامل او صحيح خط لرونکے او د مطلوبو په ليکلکو کښې د هغۀ په شان څوک بل نۀ ؤ ( شذرات الذهب ۵ ټوک ۱۶۴ مخ. )

ذهبي وائي: هغه په اندلس کښې امام، علامه او حافظ ؤ او قران به يې په ډېره ښه او ښکلې توگه تلاوت کوۀ، د حديث او بلاغت په پوهه کښې اديب او استاذؤ او د احاديثو له بزرگانو څخه گڼل کېدۀ له ابي عبدالله بن آبار نه نقل شوي دي چې هغه د حديث په فن کښې امام ؤ، او په مختلفو فنونو کښې يې تاليفات لرلي دي. چې مصباح الظلام له هغو څخه د ے. ما په کامله توگه له هغۀ نه استفاده او په ځلونو مې ورنه مطالب اخېستي دي او له حافظ ابن مسدي نه نقل شوي دي چې ما په جلالت، شرف، رياست او فضل کښې د بلنسي په شان څوک و نۀ ليد، هغه د منقولو او معقولو فنونو کښې او په نظم او نثر کښې د ټولو مخکښ ؤ او د

## ۱- د المنکدر تیمي واقعه

محمد بن المنکدر وائي: یو سړي زما له پلار سره اتیا دیناره امانت کېښود او ورته یې وویل: که دې پېسو ته دې ضرورت پېدا شو نو خبر دے خرچ یې کړه او هغه سړے خپله جهاد ته لاړ، خلق د ګرانۍ تر سخت دباو لاندې راغلل او پلار مې مجبور شو او هغه دینار یې خرچ کړل، د پېسو خاوند راغے او خپلې امانت پېسې یې وغوښتلې، پلار مې هغهٔ ته وویل چې سبا راشه او خپله د شپې نبوي جومات ته راغے او هلته یې ټوله شپه کله د خداے د ګران رسول صلی الله علیه و آله وسلم قبر مبارک ته اوکله یې د هغه حضرت منبر شریف ته پناه وړه، له سهار نه لږ مخکښې په داسې حال کښې چې پلار مې د خداے د ګران رسول صلی الله علیه و آله وسلم قبر مبارک ته د استغاثې او فریاد په حال کښې ؤ چې په دغه تیاره کښې یو سړے راڅرګند شو او ورته یې وویل: اے ابا محمد! هن دا واخله، پلار مې هم ورته لاس اوږد کړ او هغه یې ترې واخېستل، چې وې کتهٔ نو یوه کسوړه وه چې پکښې ایتا دیناره وو، کله چې سهار شو هغه امانت غوښتونکے سړے راغے او پلار مې ورته هغه پېسې ورکړې. [۲]

## ۲- د ډوډۍ بندوبست

امام ابوبکر بن مقري وائي: [۳] زهٔ، طبراني او ابوالشیخ د خداے دګران رسول صلی الله علیه و آله وسلم حرم مبارک ته راغلو او هم هغه شان دهغه حضرت په دربار کښې موجود وو چې لوږې راباندې زور وکړ، کله چې شپه شوه نو د خداے د ګران رسول صلی الله علیه و آله وسلم قبر مبارک ته ورغلم او ورته مې وویل: اے د خداے ګران رسوله! مونږ اوږي یو، دا مې وویل او راستون شوم ، ابو الشیخ راته وویل: هم دلته کښېنه یا به رزق او ورزي راشي او یا به مرګ!

---

قران شریف په علومو او تجوید کښې یې مهارت لرهٔ ، هغه د حافظانو خاتم ؤ . ( سېر اعلام النبلاء ۲۳ ټوک ۱۳۴ مخ، النجوم الزهره ۲ ټوک ۲۹۸ مخ. )

۱- دا کتاب د سیراعلام النبلاء د لمن لیک لیکونکي له شرحې نه پاتے دے ځکه چې پکښې د پېغمبراکرم صلی الله علیه و آله وسلم قبر مبارک ته د استغاثې او ترې نه د شفا غوښتنې بحث دے، لمن لیک او حاشیه لیکونکے دې سره ډېر حساسیت لرې، نو ځکه هر ځاے کښې چې یوه مسئله د وهابیت له عقائدو او له ځانه جوړې شویو مسئلو سره سمون نه خوري هغه ردوي لکه چې د کرخي، حضرت نفیسه او ابو عوانه وغېره په ترجمو کښې یې په خپله شرح کښې دغه کار کړے دے، او کېدې شي چې حاشیه لیکوونکے د مصباح الظلام د کتاب له مضمون څخه خبر نهٔ ؤ ګنې دغه کتاب او د هغهٔ لیکونکے به د دغه متقي او درستکار ښاغلي له حملو نه بچ پاتے نهٔ ؤ، د خداے پاک ډېر شکر دے چې له دغه کتاب نه خبر نهٔ ؤ ځکه که د کتاب له لیکنو څخه خبر وې نو د هغهٔ د مولف به یې دومره صفت نهٔ کولو ، هغه د مولف په باره کښې وائي چې هغه له سترو عالمانو او محدثینو څخه ؤ او وړومبنے دفاع کوونکے ؤ چې د اسلامي ښارونو دفاع یې وکړه او د اسلام د پولو حفاظت یې وکړ ان تردې چې په شهادت ورسېد. ( سیراعلام النبلاء ۳۳ تک ۱۳۴ مخ. )

۲- وفاء الوفاء ۴ ټوک ۱۳۸۰ مخ.

۳- ویل شوي دي چې د علم ، مهارت ، پوهې، د خبرو په صداقت او تقوا کښې له نورو نه وړاندې ؤ، په ۳۲۴ هـ کال کښې وفات شو. ( سیراعلام النبلاء ۱۵ ټوک ۲۷۳ مخ، طبقات الشافعیه ۳ ټوک ۵۸ مخ.

ابوبکر وائي: زۀ ، ابوالشیخ او طبرني ناست وو او سخت اندېښمن وو چې ناڅاپه یو سید د جومات ور ووهۀ، مونږ ورته ور خلاص کړ، و مو لیدل چې هغه سید سره دوه ځوانان دي چې د هر یو په لاسو کښې له ډوډۍ او خوراکونو نه ډک پتوس ؤ ، ټول کښېناستېدو او ډوډۍ مو وخوړه، ګمان مو کوۀ چې ګنې باقي پاتې ډوډۍ به دوي اوړي خو هغوي باقي ډوډۍ مونږ ته پرېښوده. کله چې له ډوډۍ خوړولو نه فارغ شو نو هغه سید وویل: ایا تاسو د خدا ے ګران رسول صلی الله علیه و آله وسلم ته د خپلې لوږې ګیله کړې وه؟ ما په خوب کښې د خدا ے ګران رسول صلی الله علیه و آله وسلم ولید چې راته یې امر وکړ چې تاسو ته څه راوړم.[١]

## ٣- د اوږي په لاس کښې نیمه ډوډۍ

ابن جلاد وائي: مدینې ته لاړم په داسې حال کښې چې لاس مې تنګ ؤ ، د خدا ے د ګران رسول صلی الله علیه و آله وسلم قبر مبارک ته ورغلم او ورته مې وویل: اے د خدا ے ګران رسوله! زۀ دې مېلمه یم، دغه وخت راته خوب راغلو، په خوب کښې مې د خدا ے ګران رسول صلی الله علیه و آله وسلم ولید چې راته یې یوه ډوډۍ راکړه او ما ترې نیمه ډوډۍ وخوړه کله چې راویښ شو نو ومې لیدل چې نیمه ډوډۍ مې په لاس کښې ده.[٢]

## ۴- برکتناک درهم

ابو عبدالله مخمد بن اب زرعۀ صوفي وائي: له پلار او ابي عبدالله بن حنیف سره د مکې مکرمې په سفر روان شو، په لار کښې له سختې لاس تنګۍ سره مخامخ شو، کله چې مدینې منورې ته ورسېدو، نو سخت اوږي شو، دغه وخت لا زۀ بالغ نۀ وم، پلار ته راغلم او ورته مې وویل، اوږے یم ، ابو الحظېره د خدا ے د ګران رسول صلی الله علیه و آله وسلم قبر مبارک ته مخ کړ او وې ویل: اے د خدا ے ګران رسوله! زۀ دې نن مېلمه یم او بیا په انتظار کښې کښېناست، ناڅاپه څو شېبې پس مې ولیدل چې سر یې اوچت کړ څه یې وویل او په خنده شو نو ما ترې د دې حالت تپوس وکړ، وې ویل: د خدا ے ګران رسول صلی الله علیه و آله وسلم مې ولید چې څو درهمه یې زما په لاس کښې کېښودل ، هغۀ دغه وخت خپل لاس خلاص کړ نو و مې لیدل چې په لاس کښې یې درهم دي او خدا ے پاک په هغو درهمو کښې دومره برکت واچوۀ چې حتی شیراز ته هم راستانه شو او له هغو مو خرچ کړل.[٣]

## ۵- د یو اوږي لپاره د پیو کاسه

---

١- وفاء الوفاء ۴ ټوک ١٣٨٠ مخ.

٢- وفاء الوفاء ۴ ټوک ١٣٨٠ مخ.

٣- وفاء الوفاء ۴ ټوک ١٣٨١ مخ.

شیخ ابو عبدالله بن ابي الامان وويل: زۀ د مديني منورې په ښار کښې د «محراب فاطمې سلام الله عليها» شات ته ناست وم او شريف مکثر القاسم د هغه محراب مبارک شا ته ولاړ ؤ ، چې ناګهانه د خدا ے د ګران رسول صلی الله عليه و آله وسلم د قبر مبارک خوا ته ورغے او بيا په مسکا سره راستون شو. د ضريح مبارک خادم شمس الدين صواب ورته وويل ولې مسکے شوې؟ وې ويل: زۀ ډېر له تنګلاسۍ سره مخامخ وم، له کوره راووتم او د بي بي فاطمې عليه السلام کور ته راغلم او د خدا ے د ګران رسو ل صلی الله عليه و آله وسلم قبر مبارک ته مې استغاثه او فرياد وکړ او ورته مې وويل: زۀ اوږے يم، بيا اده شوم او په خوب کښې د خدا ے ګران رسول صلی الله عليه و آله وسلم وليد چې ما ته يې د پيو ډکه کاسه راکړه چې هغه مې وڅښله او موړ شوم.[١]

## ۶-خوږې کجورې

ابو اسحاق ابراهيم بن سعيد وائي: د پيغمبر اکرم صلی الله عليه و آله وسلم په ښار کښې وم، له ما سره درې فقيران وو او مونږ ټول له ډېر زيات فقر سره مخامخ وو، زۀ د خدا ے د ګران رسول صلی الله عليه و آله وسلم قبر مبارک ته ورغلم او ورته مې وويل: اے د خدا ے ګران رسوله! مونږ څه نۀ لرو بس درې مده خوږې کجورې زمونږ لپاره کافي دي.[٢]

## ۷-د غوښې د خوروه خواهش

شريف ابو محمد عبدالسلام بن عبدالرحمن الحسېني الفاسي وائي: په مدينه منوره کښې درې ورځې ايسار وو او په دغه موده کښې مو څه خوراک و نۀ خوړۀ، د خدا ے د ګران رسول صلی الله عليه و آله وسلم منبر شريف ته ورغلم او دوه رکعته نمونځ مې وکړ بيا مې وويل: اے زما نيکۀ! زۀ اوږے يم او له تا څخه د غوښې د خوره غوښتنه کوم، نو بس خوب راباندې غالب شو، ناڅاپه يو سړي راويښ کړم چې راويښ شوم و مې کتل چې ورسره د لرګي يوه کاسه ده او په کاسه کښې ماته شوې ډوډۍ، غوښه ، وازده، سبزي او مسالې دي ، ما ته يې وويل: دا اوخوره، ومې ويل: دا ډوډۍ له کوم ځا ے نه راغلې ده؟ وې ويل: زما بچو له دريو ورځو نه د داسې خوراک خواهش لرۀ کله چې دريمه ورځ شوه د هغه يو عمل په برکت چې مې کړے ؤ خدا ے پاک راته د رحمت ور خلاص کړ او داسې خوراک يې راته عطا کړ، بيا اودۀ شوم او په خوب کښې مې د خدا ے ګران رسول صلی الله عليه و آله وسلم ووليد چې راته وفرمايل: ستا يو ورور له ما نه د داسې خوراک ارمان کړے دے، له دې نه هغۀ ته هم ورکړه.[٣]

---

[١]- وفاء الوفاء ۴ ټوک ۱۳۸۳ مخ.

[٢]- وفاء الوفاء ۴ ټوک ۱۳۸۳ مخ.

[٣]- وفاء الوفاء ۴ ټوک ۱۳۸۳ مخ.

يادونه: د مديني ستر عالم سمهودي شافعي په وفاء الوفاء باخبار دارالمصطفی کتاب کښې له دې وروسته څرګندوي چجې د خدا ے ګران رسول صلی الله عليه و آله وسلم ته استغاثه، فريادا و ترې نه د شفا غوښتنل د انبياؤ او صالحينو او مسلمانانو سيرت ؤ او دے او په ټولو خالاتو کښې که هغه د هغه خضرت له خلقت نه مخکښې حالت کښې وي که له هغۀ نه پس د هغۀ د دنيوي ژوند

## ۸- د اوړي خواهش

عبدالله بن حسن دمباطي وائي: شيخ صالح عبدالقادر تنيسني د دمباط په بندر كښې ما ته داسې حكايت نقل كړ. كله چې مدينه النبي ته داخل شوم بيا مې د خداے ګران رسول صلى الله عليه و آله وسلم ته سلام وويلو او د خپلې لوږې شكايت مې وكړ او له هغه حضرت څخه مې د غوښې غنمو او كجورو خوراک وغوښتۀ ، بيا روضې مباركې ته ورغلم او هلته مې نمونځ وكړ او لږې مې سترګې ورغلې ، ناڅاپه يو سړي راويښ كړم له هغۀ سره روان شوم هغه يو نېكسيرته ځوان ؤ. بيا يې زما مخې ته يو لوښے كېښود چې د غوښې خوروه ،كباب او صيحاني او غېر صيحاني كجورې او ډوډۍ پكښې وه، ( منجمله پكښې هغه ډوډۍ وه چې د خرما د تنې له اوړو نه جوړيږي) [1] هغه خوراک مې وخوړۀ ، بيا هغه سړي په يوه كسوره كښې غوښه ، ډوډۍ او خرما واچولې او وې ويل: زۀ د سهار له نمانځه نه پس اودۀ شوم نو په خوب كښې مې د خداے ګران رسول صلى الله عليه و آله وسلم ووليد چې ما ته يې حكم راكړ چې ستا لپاره دا كار وكړم او ستا ځاے چې په روضه مباركه كښې و راته وښودۀ. هغه سړي راته وويل چې تۀ هغه كس يې چې داسې يوه غوښتنه دې كړې وه. [2]

## يو مهم ټكے:

د مصباح الظلام كتاب مولف د دغو واقعاتو له نقلولو نه پس وويل: په دغو كښې زياتره هغه كسان چې د خداے ګران رسول صلى الله عليه و آله وسلم ورته حكم وركوي چې د يو حاجتمن ضرورت پوره كړي د هغه حضرت فرزندان دي ، په تېره بيا هغه څيز چې غواړي عطا يې كړي د خوراک او ډوډۍ يو ډول دے، ځكه چې د دغو بزرګوارانو د اخلاقو ښكلاوې دا دي چې هر كله ترې د ډوډۍ او خوراک غوښتنه وشي نو

---

په دوران كښې وي او كه د هغوي له رحلت نه پس د برزخ په عالم كښې وي او كه د قيامت په ورځ كښې وي. هغه له حاكم نه نقلوي چې عمر بن خطاب وائي: د خداے ګران رسول صلى الله عليه و آله وسلم وفرمايل: كله چې ادم عليه السلام د خطا مرتكب شو نو عرض يې وكړ: اے زما ربه! له تا څخه د محمد صلى الله عليه و آله وسلم په خاطر غواړم چې خطا مې معاف كړې، خداے پاک ورته وفرمايل: اے آدمه! تۀ څرنګ محمد صلى الله عليه و آله وسلم پېژنې، په داسې حال كښې چې هغه ما لا نۀ دے خلق كړے، آدم عليه السلام ورته عرض وكړ: اے زما ربه! چې كله دې زۀ د خپل قدرت په لاسو سره خلق كړم او خپل روح دې راكښې اوپوكۀ نو ما سر راپورته كړ نو د عرش په ستنو باندې مې دا ليكنه: «لا اله الا الله محمد رسول الله» ووليده. نو پوه شوم چې تا له خپل نوم سره د خپل تر ټولو غوره مخلوق نوم راوستے دے. خداے پاک ورته وويل: اے آدمه! صحيح دې وويل: ځكه چې محمد صلى الله عليه و آله وسلم زما تر ټولو غوره مخلوق دے نو په دې وجه چې ستا غوښتنه د محد صلى الله عليه و آله وسلم په وسيله وه نو تۀ مې وبخښلے او كه محمد صلى الله عليه و آله وسلم نۀ وې نو تۀ به مې نۀ وې خلق كړے.

سمهودي له سبكي څخه نقلوي: كله چې يو انسان كولې شي خپل عملونه وسيله وګرځوي لكه د غار حديث ( صحيح بخاري ۴ ټوک ۱۷۳ مخ، نورالثقلين ۳ ټوک ) نو له دې نه لا په اولى توګه كولې شي خپله د خداے ګران رسول صلى الله عليه و آله وسلم وسيله وګرځوي. كشف الارتيا ۲۴۲ او ۲۴۷ مخونه.

[1] - كېدې شي مراد ترې هغه خوږه ډوډۍ وي چې نن سبا په شام كښې له كجورو ، اوړو او بادامو څخه جوړيږي.

[2] - وفاء الوفاء ۴ ټوک ۱۳۸۳ مخ.

وړومبې یې خپله مېلمستیا کوي او وروستو مرحله کښې هغه کسان چې له هغو بزرګوارانو څخه دي. له دې امله د پېغمبراکرم صلی الله علیه و آله وسلم د خُلق تقاضه دا ده چې د حاجتمند مېلستیا په خپله وکړي او په بله مرحله کښې یې اولاد (سادات) دا چاره په غاړه اخلي.
نو اوس د طبراني، ابن المقري او ابن المنکدر په شان شخصیتونو په حقله د دغو ټولو بیان شویو واقعاتو نه پس ایا د ابن تیمیه لپاره دا خبره ځاے نیسي چې دا دعوا وکړي چې د خداے ګران رسول صلی الله علیه و آله وسلم ته استغاثه او فریاد کول او هغه خداے پاک ته خپله وسیله ګرځول شرک دے؟ ایا د مصباح الظلام کتاب مولف مشرک دے؟ او په خپل کتاب کښې یې کفرونه او شرکونه راغونډ کړي دي؟ ایا ابن تیمیه او د هغهٔ پېروکار جرات لري چې بلنسي ته مشرک ووائي؟ په داسې حال کښې چې ابن عماد د بلنسي په حقله ویلي دي چې هغه یو لوے حافظ او ثقه شخصیت دے. او آبار ویلي دي چې هغه په حدیث کښې د بصیرت خاوند او د خپلې زمانې له نورو نه وړاندې ؤ، او ذهبي ویلي دي چې هغه امام، علامه، حافظ او د حدیث په پوهه کښې استاذ ؤ.
د دغو ټولو شواهدو باوجود ایا بیا هم د ابن تیمیه بېهوده خبرو ته پاملرنه کېدې شي؟

## د سمهودي اعتراف:

سمهودي هم له مصباح الظلام کتاب څخه د هغو فقیهانو او محدثانو د واقعاتو له نقلولو وروسته چې یې د خداے د ګران رسول صلی الله علیه و آله وسلم قبر مبارک ته استغاثه کړې او هغه یې وسیله ګرځولے دے وائي: په دې حقله واقعات او حکایات زیات دي، د نمونې په توګه هغه یوه واقعه بیانوم چې راته راپېښه شوې وه: په نبوي جوماټ کښې وم چې مصریان حاجیان د زیارت لپاره راغلي وو، د جوماټ د خلوت د کوټې چې مې پکښې کتابونه پراتهٔ وو کنجي په لاس کښې وه. دغه وخت مې د مصر یو عالم خوا کښې تېر شو نو ما هغه وپېژندو او سلام مې ورته وکړ، هغهٔ هم چې زهٔ وپېژندم نو له ما یې وغوښتل چې په یو ځاے د روضې مبارکې زیارت ته لاړ شو او د خداے د ګران رسول صلی الله علیه و آله وسلم قبر مبارک ته اودرېږو. ما هم د هغهٔ خبره ومنله او دواړه هلته لاړو، چې کنجۍ ته مې پام شو نو کنجي راسره نهٔ وه، ډېره مې ولټوله خو پیدا مې نهٔ کړه. او په له دې امله چې وخت مې ډېر تنګ ؤ او کنجي ته مې زیات ضرورت ؤ نو ځکه د هغې ورکېدل زما لپاره ډېره مشکله او ګرانه چاره شوه، نو بس د خداے د ګران رسول صلی الله علیه و آله وسلم قبر مبارک ته ورغلم او ورته مې وویل: اے زما مولا! اے زما آقا! اے د خداے ګران رسوله! زما د کوټې کنجي ورکه شوه په داسې حال کښې چې زهٔ ورته زیات ضرورت لرم نو له تا نه یې غواړم، بیا راستون شوم نو د خپلې کوټې له ور سره مې نزدې یو سړے ولید، نو ګمان مې وکړ چې دغه سړے زهٔ پېژنم، نزدې ورغلم نو و مې کتل چې یو کم عمره کس دے او په لاس کښې یې کنجي ده، ورته مې وویل: دا کنجي دې کوم ځاے کښې پیدا کړه؟ وې ویل: دا مې د قبر مبارک مخې ته ومونده، نو له هغهٔ نه مې کنجي واخېسته. نورې هم ډېرې خبرې شته خو بیانول به د کلام د اوږدوالي سبب شي.[1]

[1]- وفاء الوفاء ۴ ټوک ۱۳۸۵ مخ.

## د محب الدين طبري غوښتنه

تقی الدين فاسي وائي: چې دا هغه واقعه ده چې نيکۀ مبارک مې ابوعبدالله په خپلو يادښتونو کښې بيان کړې ده، هغه وائي: له امام محب الدين طبري نه مې واورېدل چې وې ويل: مونږ يوه ډله کسان د خدا ے د ګران رسول صلی الله عليه و آله وسلم د روضې مبارکې د زيارت لپاره د مدينې منورې په لور روان شو، په لاره کښې ما د خدا ے د ګران رسول صلی الله عليه و آله وسلم په مدح کښې يوه قصيده برابره کړه او چې کله مدينې منورې ته ورسېدو نو هغه قصيده مې ولوسته او چې کله يې له لوستلو نه فارغ شوم نو ومې ويل: اے د خدا ے ګرانه رسوله! زما تحفه او هديه دا پکار ده چې زما لقب «محی الدين» چې په خلقو کښې ورباندې مشهور يم له ما نه واخېستے شي ځکه چې دا لقب مې نۀ دے خوښ، نو بس له دغې غوښتنې نه پس په خپله د محب الدين په لقب باندې مشهور شوم او د محی الدين لقب رانه واخېستې شو او داسې ښکارېدل چې هډو چرې مې دا لقب لرلے نۀ ؤ.[1] د محب الدين طبرې په حقله ويل شوي دي چې هغه محدث، مفتي او په خلقو کښې د احترام او قدر وړ شخصيت دے.[2]

*****

---

[1]- العقد الثمين ۳ ټوک ۲۸ مخ.

[2]- تذکره الحفاظ ۴ ټوک ۱۴۷۴ مخ، منجمله د عرفې په ورځ د امام حسېن عليه السلام توسل دے: «اللهم انا نتوجه اليک فی هذه العشيه التي شرفتها و عظمتها بحمدّ نبيّک و رسولک و خيرتک من خلقک»، ، دامام زين العابدين عليه السلام توسل چې کله د رمضان مبارکه مياشته راورسېده نو وې ويل: «اللهم اني اسالک بحقّ هذا الشهر و بحق من يعبد لک فيه من ابتدائه الس وقت فنائه من ملک قربته او نبي ارسلته او عبد صالح اختصصته» او همدا رنګ هغه حضرت د مولی الموحدين حضرت امام علي عليه السلام په زيارت کښې وويل: «اللهم فاستجب دعائي و اقبل ثنائي و اجمع بيني و بين اوليائي بحق مخمد و علي و فاطمه والحسن و الحسين والائمه المعصومين من ذريه الحسين» امام علي بن حسېن عليه السلام د پنځمې صحيفې د دېرشمه دعا کښې وائي: اللهم فان وسيلتي اليک محمد و آله و بعدهم التوحيد» او په څلوېښتمه دعا کښې وائي: و اتوجه اليک و اتوسل اليک و استشفع اليک بنبيک نبي الرحمه محمد صلی الله عليه وآله وسلم تسليما و اميرالمومنين علي بن ابيطالب و فاطه الزهراء و الحسن و الحسين عبديک و امينيک...» (کشف الارتياب ۲۵۹ او ۲۲۰ مخونه.